لرغونپېژندنه په افغانستان کې

لیکوال : محقق نظر محمد "عزیزی"

ژباړن : عبدالقیوم "زاهد"

لرغونپېژندنه

په افغانستان کې



لیکوال : محقق نظر محمد عزیزي

ژباړن : عبدالقیوم زاهد

۱۳۸۱هـ.ش / ۲۰۰۲م

کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : لرغونپېژندنه په افغانستان کې

لیکوال : محقق نظر محمد عزیزي

ژباړن : عبدالقیوم زاهد

د پښتې انځور : محمد رفیع فاروق

خپروونکی : د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره

پرله پسې نومره : ۱۰٤

لومړی چاپ : ۱۳۸۱هـ ش، د خپروونکی له خوا - پیښور

د چاپ شمیر : ۵۰۰ توکه

د مخونو شمیر : ۱۱۰

کچه : ۱۳,۵ × ۲۱ سانتی متره

د خپروونکي پته : دویم کور ، رحمان بابا روډ ،

پوسټ بکس: ۱۰۸٤ ، یونیورسټي ټاون - پیښور

تیلفون: ۸۵۰۸۳۹ - ۵۷۰٤۳۹۲ - ۵۷۰۲۹٦۲

۵۷۰۲۵۳۱ - ۸٤۱۲۹٦

فکس: ۸٤۰٤۷۱-۹۱۰

الکټرونیکي پوسټ: aric@brain.net.pk

کمپوز او طبع : احمد پرنټنګ پریس، تیلیفون ۲۱۵۵٤۰

د ویش او پلورنې ځای: د اکبر دفتر (د افغانانو له پاره د مرستو د انسجام اداره)

د کتاب له مطالبو څخه اقتباس د مأخذ په ښودلو سره جایز دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

د اکبر د اطلاعاتی او نشراتي منابعو مرکز (اریک) له څلورو کالو راهیسې د افغانستان ولایتونو ته د ګرځنده کتابتونونو پروګرام تر لاس لاندې نیولي دي. ګرځنده کتابتونونه چې د فلزي صندوقونو په بڼه جوړ شوي دي، په یو خاص ځای کې ایښودل کیږي. د سیمې خلک ورځخه امانت کتابونه وړي، لولي یې او خپلو شاوخوا خلکو ته یې هم اوروي. کله چې په سیمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سیمې ته لیږدول کیږي او یا پرې یوشمیر نور نوي کتابونه ورزیات او هماغه ځای کې پاتې کیږي.

مونږ دا هڅه کړې ده چې د ګرځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه راټول کړو چې دلیکنې ژبه یې ساده او د خلکو د اړتیاوړ مطالب ولري، تر څو چې په ورځني ژوند کې له هغوی سره په دیني، ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو، روزنیزو، روغتیایي، تاریخي، فني، مسلکي او... مسایلو کې مرسته وکړي.

مورږ د ګرځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم ترسره کوو چې خلک څه ډول آثارو او موادو ته اړتیا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو د مطالعې هیله من دي. مورږ لومړی هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له بیلا بیلو منابعو (کتاب پلورنځیو او خپرونیزو مرکزونو) څخه برابر او راونیسو. په نومورو مراجعو کې د مطالبو او موادو د نشتوالي په صورت کې اریک هڅه کوي چې د اړتیاوړ آثارو په تألیف، ترجمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

د دغه موخې او هدف د تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور دې کاله

دمخه د لوستونکو د علاقې وړ کتابونو د چاپ او خپراوي کار پیل شو اوله هغه وخت راهیسې تراوسه پورې داریک ګړځنده کتابتونونو اداري د محترمو همکارو مؤسسو په مرسته په دغه برخه کې پیاوړي ګامونه اخیستي او ګټور فعالیتونه یې ترسره کړي دي.

د ښه او سیستماتیک کار له پاره د اریک د اداري استازیو او یوشمیر ځیړونکو او لیکوالو یوګډ هیأت وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده کولو او چاپ کولو پراوونه چې د تکړه او مسلکي لیکوالو له خوا تألیف کیږي، په ګډه پر مخ بوځي.

دغه هیأت د افغانانو د صمیمي همکاري میرمن نانسي هـــچ دوپري، سیدمحی الدین هاشمي، فیض محمد نایاب عطایی، محمد شکیب افضلي او محمد رفیع فاروق څخه تشکیل شوی دی.

مونږ له خپلو ټولو درنولو ستونکو څخه چې د هیواد په بیلا بیلو ښارونو او کلیوالو سیمو کې زمونږ له کتابتونونو څخه ګټه اخلي، هیله لرو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولیږي او د هیواد له لیکوالو او پوهانو څخه غواړو چې چه له مونږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لابنه او ګټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

د اریک د ګړځنده کتابتونونو اداره

فهرست

عنوان	صفحه
سریزه	۱-۳
لومړی څپرکی: لرغونپېژندنه څه شی دی؟	
- لرغونپېژندنه څه ته وایي؟	
- د لرغونپیژندنې تاریخي سوابق	
- د لرغونپېژندنې تاریخچه	
- د لرغونپېژندنې د مبتوډ لومړی پړاو	
- د لرغونپېژندنې د مبتود دویم پړاو	
- ... د لرغونپېژندنې وروستی دندې	
- کیندنې یا پلټنې د لرغونپېژندنې د فعالیتونو عمومي ژړی	
- په لرغونو ځایونو کې د کیندنو او پلټنو اصول	
- د لرغونپېژندونکیو د ټولي په وسیله د کیندنو ټکنالوجي	
- په ختیځ کې علمي پلټنې	۳۲-٤
دویم څپرکی: لرغونپېژندنه په افغانستان کې	
- د لرغونپېژندنې د نا قانونه پلټنو پړاو	
- په افغانستان کې د لرغونپېژندنې د علمی څېړنو پیل	
- په افغانستان کې د لرغونپېژندنې مرکز جوړیدل	
- د افغانستان لرغونې سیمې	
- ترټولو مشهور منقول او غیر منقول آثار	۷۵-۳۳

سریزه

څرنګه چې افغانستان په آسیا او په ځانګړې ډول په سیمه کې یو مهم لرغونی هېواد شمېرل کېږي، نو لرغونپېژندنه د هغه د بېلا بېلو کلتورې، ثقافتي او تاریخي دورو د پېژندنې لپاره یوازینی وسیله ده.

دا کتاب تر یوې اندازې پورې کولای شي چې د هیواد او سیمې د تاریخ ناڅرګندې پولې او تیارې کنجونه له تاریخي پلوه مطلق نه بلکې په نسبي ډول رو ښانه کړي او لرغونپېژندنه هغه د تثبیت شویو اصولو او موازاتو له لارې مشخص کړي. یا دا چې دا برخې یعني د تاریخ نوښتي بهیر رد کړي.

د لرغونپېژندنې په برخه کې ددې لیکنې اړتیا یو مهم کار او د تاریخي، هنرې او فرهنګي عصرونو او دورو د بشپړې پېژندنې لپاره وسیله ده. د ډیرو کلونو په اوږدو کې زیات شمیر پوهانو، مؤرخینو او څېړونکیو د هیواد د تاریخ او ثقافت او له دې ثقافت سره د اړوندو سیمو په برخه کې، چې په عمومي ډول په آسیا کې د تمدنونو د تقاطع له مرکز څخه سرچینه اخلي، ډېرې خولې تویې کړي دي او ډېرې پراخې هلې ځلې یې کړي دي؛ خو دا کړاوونه هیڅکله منسجم او سیستماتیک نه وو. اسناد او مدارک یا په عمومي ډول په پرېښودل شوي، یا دا چې د ډېرو کلونو په تېرېدو سره د هېرېدو کندې ته سپارل شوي. له اتلسمي پېړۍ را په دې خوا ډېر شمېر څېړونکیو او پوهانو په هماغه ډول چې د

آسيا په لويه وچه کې اوله هغې جملې څخه په افغانستان کې ډير مهم علمي او څېړنيز کارونه ترسره کړي دي، د منلو او اهمېت وړ دي، خو د هغوی د کړاوونو نچوړ او نتيجه ډېره لږه خپرېدو ته سپارل شوې ، هغه هم په بهرنيو ژبو چې زموږ وګړي پرې په بشپړه توګه خبر نه دی.

لرغونپېژندنه پخپله زموږ په هېواد کې په بشپړه توګه پيغله او ځوانه پوهنه ده چې عامو غوښتنو او اړتيا ووته يې ځواب ورنه کړی شو.

هغه وخت يو ملت د برم او د لرغوني ثقافت څښتن ګڼلای شو، چې د هغه مادي او معنوي ارزښتونه نه يوازې د ځان بلکې د نړيوالو لپاره انځور او معرفي شي. او د ثقافت او کولتور په اړه دا پېژند ګلوي زياتره لرغونی پاتې شوني او مادي اثار دي، چې ډير لږ يې او په پېړيو پيړيو د ځمکې په تل کې ټغښتي او پټ دي. او يا دا چې د ځمکو مادي آثار او پېښې د ګوتو په شمير له طبيعي شرايطو سره سم د يوه ملت د ليدنو کتنو لپاره د لويو فرهنګي ميراثونو په ډول پاتې شوي دي، خو ولسونه د هغو له درک څخه ناخبره او په بشپړه توګه پرې نه پوهيږي. د مثال په توګه:

کله چې يو نامتو ځواکمن نړيوال فاتح سکندر په (۳۳۰ ق م) کې آسيا ته راغی او څلور کاله يې د بين النهرين، ايران، افغانستان او هند په شمال لويديځ کې تير کړل، هغه له ځان سره يوازې نوی ثقافت را نه وړ بلکې د ختيځ له ځمکې څخه په تګ سره يې له ځان سره ددې سيمې کولتور او فرهنګ هم يوړ. دې راوړي فرهنګ د ختيځ په ځمکو کې (۲۵۰) کاله دوام و موند او د دې لامل شو چې په فرهنګي او اتنيکي (قومي - نژادي) څرنګوالي او چلند کې بدلون رامنځ ته کړي. هغوي نه يوازې د ترلاس لاندې ټولنې په څرګنده بڼه کې بدلون

راوست، بلکې په هنر، ودانیو، ادابو، ژبې، فولکلور، دودونو ء عادتونو، نورو ډېرو خویونو کې یې ډېر لوی اغېز رامنځ ته او رواج کړ، چې بیا تر نورو وروستیو ځلورو پیړیو پورې د ختیزو ځمکو واکمنان او چارواکي د هغو له جملې څخه افغانستان هم له هغه څخه بې برخې نه و.

همدارنګه لوی آریایي تمدن، هخامنشي او یوناني تمدن او د کوشانیانو، کیداریانو، یفتلیانو او کابلی رایانو روښانه امپراتورۍ چې یو پر بل پسې له ثقافتي اړخه په ختیځ کې ترټولو پیاوړې با عظمته دوران و، او ټول یې (۱۶) پیړۍ دوام وموند تراوسه لوی فرهنګي امانتونه خوندیر ناپېژندویه دي.

دا کتاب چې کولای شي په ځانګړي ډول د افغانستان فرهنګ، تاریخ، ثقافت او هنر د تاریخ په ځینو وختونو کې روښانه کړي، یوازې د کورنیو او بهرنیو لرغونپېژندونکیو د کارو کړو او د احسان پور وړی دی. او یوازینۍ مثبته او کارنده طریقه ده چې زموږ ځوزره کلن فرهنګي او تاریخي عظمت د لرغونپېژندنې د نظري او عملي څېړنو او مطالعاتو په وسیله مسلم او مشخص کړي. له همدې امله و پتېیل شوه چې د لرغونپېژندنې د علم په اړه ددې علم پېژندنه او تاریخچه په نړۍ او زموږ په هیواد کې د وروستیو مقدماتو په ډول په پام کې ونیول شي او هڅه وشي چې ددې مهم علم له محتوا څخه په هر اړخیز معیار او مقدار سره عامه ګټه واخیستل شي.

محقق عزیزي

لومړی څپرکی:

لرغونپیژندنه څه شی دی؟

لرغونپېژندنه یا ارکیالوجي له دوو یوناني (Greec) کلیمو څخه رغېدلې ده، یعنې ارکایوز (Archaiaus) او لوګوس (Logos) چې لومړی کلیمه د پخوانۍ یا لرغونې په مانا او دویمه د پوهې او خبرتیا مانا لري او په مجموعي ډول په لرغونو شیانو د خبرېدو یا پوهېدو معنی لري.

او په اصطلاح کې هغه علم دی چې له هغو پاتې شونو او لرغونو آثارو سره چې په پخوانیو زمانو کې د انسان له فعالیتونو څخه رامنځ ته شوي دي، سر و کار لري. ټ‍ۀ بله طریقه داسې ویلای شو:

د تېرې زمانې د کشفیاتو چارې، د ټولنیزو اړیکو او انساناتو د ژوندانه د چاپېریال د ځانګړنو پر بنسټ تر تاریخي لیک او د بشري ټولنو د مدني او تاریخي دورو تر پیل د مخه د مادي آثارو رامنځ ته کول.

په ساده وینا باید څرګنده شي چې لرغونپېژندنه د مادي نړۍ بدلونونه چې په پخوانیو کلونو کې د انساني فعالیتونو له امله رامنځ ته شوي، تر ارزونې لاندې نیسي.

«که څه هم د ځمکې پر مخ د انسان د ژوندانه د تاریخ دقیق اسناد او شواهد په لاس کې نه شته، خو پوهانو تر اوسه د بین النهرین له څنډو څخه تر ټولو پخوانۍ ترلاسه شوې ډبر لیک چې د یوه روایت له مخې په (۵۵۰۰ ق م)

پورې اړه لري، د بشر د تاريخ د مبداء او پيل په توګه منلی او د هغه په نسبت يې د ځمکې پر مخ د انسان ژوند په دوو لويو دورو ويشلی دی:

لومړی - تر تاريخ دمخه دوره: دا دوره د انسان له ژوندانه څخه د ليک د تر ټولو لومړی بيلګې (۵۵۰۰ ق م) تر کشف پورې ده او په قوی اټکل سره ميليونونه کاله نيسي. د بشر د ژوندانه ددې دورې څېړنې په عمومي صورت د لرغونپيژندنې په علم پورې اړه لری چې د نورو مرستندويه علومو په وسيله ترسره کيږي.

دويمه - تر تاريخ راوروسته دوره: چې د ليک د تر ټولو پخوانی بيلګې له کشف څخه پيليږي او تر ننه دوام مومي. ددې دورې څېړنې زياتره د بشر په ليکلو اثارو ولاړې دي او زياتره د تاريخ (History) په علم پورې اړه لري. ښايی بشر يوه ورځ د لازياتو پخوانيو ډبرليکونو په کشف هم وتوانيږی چې په دې ډول به د بشر د تاريخ د مبداء يا پيل په توګه ومنل شي. »

(د ايډيټر تبصره «فيض محمد نايا ب»، د لرغونپيژندنې د مضمون د استاد پروفيسور ميله بار د لکچر نوټونو په بنسټ، د فلسفې او اجتماعي علومو څانګه، کابل پوهنتون، ۱۳۵۵هـ ش)

په عمومي ډول سره لرغونپېژندنه د انسانانو، ټولنو، پوړيو، قومونو او ملتونو د تېر تاريخ لټون ګڼلای شو. لرغونپېژندنه د څېړونکيو معلومات د ځمکې د پوړيو تر پېړيو پورې غځوي او لکه چې ويلی شي کله چې جيولوجي پای ته رسيږي، ارکيالوجي (لرغونپېژندنه) پيليږي.

لرغونپيژندنه عمدتاً له تاريخ، هنر، معماری او نورو ثقافتي او کولتوري علومو او فنونو او عناصرو سره سروکار لري. لرغونپېژندنه په خپلو څېړنو کې

په لومړی مرحله کې له اټکل او قیاس څخه ډیر کار اخلي، یعنې له بله اړخه لرغونپېژندنه یو هنر دی چې له علمي طریقو څخه پکې کار اخیستل کېږي. لرغونپېژندنه له نورو علومو لکه جیولوجي، بیولوژي، جغرافیې، فزیک، اجتماعي علومو او ثقافتي علم یا اتنوګرافۍ سره کلکې اړیکې لري. او دا مروجه علوم په بشپړ ډول د لرغونپېژندنې کار دی.

لرغونپېژندنه یو نسبتي علم دی چې تیرې زمانې، عصرونه او دورونه د مادي موادو او آثارو په وسیله مطالعه کوي. باید ومنل شي چې لرغونپېژندنه هغه علم دی چې د مادي آثارو د لاس ته راوړنو او کتنو پر بنسټ د زمانې او ځای په پام کې نیولو سره د پخوانیو وګړیو مدنیتونه، کولتورونه او ثقافتونه د پیژندګلوی لپاره پلتنې او څېړنې ته وړاندې کوي.

د پوهانو په نظر لرغونپېژندنه د ژوندانه د چاپېریال، د مهمو مادي او فرهنګي پدیدو د رامنځ ته کېدو، عقایدو، آدابو، دودونو، تشکل او د مادي ژوندانه د ډول ډول پرمختګي بهیر له نظره په طبیعت کې انساني ظرفیت ته په پاملرنې سره د انسانانو تر تولو لومړنی ثقافتي او عقیدوي ژوند مطالعه کوي. او په عمومي توګه د ډې پلتنې او څېړنې لپاره څرکونه د ځمکې له تل څخه اخلي او ثقافتي او کولتوري تکامل په توله نړۍ او بیلابیلو سیمو کې چې په تاکلې زمانه کې نه دی رامنځ ته شوی، تر څېړنې لاندې نیسي. د مثال په ډول کیدای شي د پخوانیو آسیایانو، منځني ختیځ ان د اروپایانو په منځ کې د آسټرالیایانو او ان د مدیترانې د حوزې د بومي اوسیدونکیو، لکه: یونانیانو، رومیانو، کرتیانو د اوسنۍ ترکیې د څنډو او تر هغو ورهاخوا په افریقایی او د شمالی او سویلي امریکې په هېوادونو او لویې صحرا کې د اوسیدونکیو په

منځ کې د ببلابېلو کولتورونو، سرعت او د مخ لوړي او مخ ځوړي بهير علمي څېړنه او پلټنه د کيندنو او لټونو پر بنسټ د عمل جامه واغوندي.

په بله وينا بايد وويل شي چې:

د لرغونپېژندنې څېړنې يوازې د پخواني تاريخ د بيا راژوندي کېدو لپاره نه دي، بلکې په ځانګړي ډول د ژوندانه د ببلابېلو ډګرونو په ثقافتي پرمختګ او بدلون او بشري تکامل کې زښت ډېر رول لري.

نو کله چې مورږ د ثقافت او د بشري تکامل په بهير کې په ببلابېلو ځايونو او زمانو کې د هغه د بدلون په اړه خبرې اترې کوو، په حقيقت کې د زده کړې هغه طريقې او سلوک چې وروستي نسل ته د مخکنيو نسلونو انتقالېدونکې ځانګړنې دي او د جينونو په وسيله ورته په ميراث پاتې کېږي د دې ارث له کړو سره يوځای د ثقافت په پايښت او غوړېدنه کې د تحليل او تجزيې اجزا د لرغونپېژندنې علم جوړوي.

په عمومي ډول لرغونپېژندنه په ببلابېلو دورو کې پاتې شونو او موندنو ته په پاملرنې سره د انسان د تېر تاريخ څېړنه ده. په دې مانا چې د ساکنينو اړيکې له نورو ساکنيانو سره د مدنيتونو او تمدنونو په منځ کې ثقافتي اړيکې او نور موازين په ببلابېلو پراوونو او دورو کې تر مطالعې لاندې نيسي.

نو له دې امله لرغونپېژندنه د بشري تمدنونو او ثقافتونو لوړتيا او بشپړتيا په يو نه يو ډول مطالعه کوي، کله چې د يوې تاريخي دورې تمدن او يا تر تاريخ دمخه کولتور د لرغونپېژندنې په وسيله د لرغونپېژندنې د مروجو علومو له نظره تر مطالعې او کتنې لاندې نيول کېږي، دا تمدنونه په يو ډول او هم مهاله تر پلټنې، ارزونې او څېړنې لاندې نه نيول کېږي، بلکې د کولتورې او لرغونو پوړيو او قشرونو په پام کې نيولو او د توپيرونو په مقياس کې د ځانګړتياوو او

اړيکو په پام کې نيولو سره ارزول کيږي. په دې معنی چې نه شي کيدای د اروپايي هېوادونو د تيږې لرغونې دوره د آسيايي هېوادونو د تيږې د لرغونې دورې همعصره وي. خو هغه څه چې د لرغونپيژندونکی پام دې کار ته رااړوي، د ورته والي او هم آهنګۍ موجوديت دی. چې آيا دا عصرونه له تاريخي نظره په يوه وخت کې وو؟ او يا دا چې يو په بل پسې په زمانې توپير د ځمکې د کرې په دوو برخو کې تر تاريخ دمخه کولتوري عصر يعنی د تيږې په لرغونې دوره کې منځ ته راغلی دي؟

د دفاعي آلاتو په ځانګړي ډول د تورلې تيږې موجوديت، طبيعتاً سره جلا شوي دی او يا د تهاجمي عواملو په وړاندې، لکه د ځيروونکيو حيواناتو چې انسان ورسره د لرغونې تيږې په عصر کې مخامخ و، او يا د آلاتو له نورو ډولونو څخه ګټه اخيستنه د شکل له مخې يو له بله څخه په بشپړ ډول توپير لري، خو د جوړښت له مخې سره ورته والی لري. په دې ډول ددې دوو عصرونو ترمنځ واټنيز توپير د ځمکې د کرې په دوو برخو کې د يوې موضوع د تاکنې او تثبيت لامل دی. که څه هم د ځمکې د کرې په دوو برخو کې ددې دوو عصرونو ترمنځ د وخت توپير يوه يا څو لسيزې وي.

يعنې د المان د راين سيند د غاړې انسان نياندرتال (Neandertal) د هېواد د شمال د قره کمر له انسان سره له زمانې اړخه توپير لري، خو د شکل او مضمون له مخې سره ورته دي نو لرغونپيژندنه او د څېړنې اصول يې دا اړه اواروي چې لومړی له ثقافتي او کولتوري اړخه دا عصر مطالعه کړي. بيا په غور او ځيرکۍ سره د تکنالوژۍ د تر ټولو عصري وسايلو په مرسته د زماني اړخ په تاکنه کې نظر څرګند کړي.

نو د لرغونپيژندنې څېړنې له مور سره يوازې د تاريخ په بيا راژوندي کيدو

کې مرسته نه کوي، بلکې دا شواهد، قرينې او آثار دي چې د دوی پر بنسټ کولتورونه، عصرونه او دورې تاييد شي او د تاکلي وخت او متغير ځای په ګوته کولو کې بشپړ معلومات او اطلاعات ورکړي. نو د لرغونپېژندنې د څېړنو او مطالعاتو موضوع د «ځای» له پلوه هماغومره اهميت لري چې د «وخت» د څېړنو او مطالعاتو موضوع څرمره ډېر اهميت لري.

لرغونپېژندنه مجرد او مطلق علم نه دی، بلکې له نورو علومو سره يوځای خپل خواړه له اسنادو، مدارکو او شواهدو څخه هم چمتو کوي. د مثال په توګه د افغانستان د کوشانيانو د امپراتورۍ تاريخ له کوشاني لوی امپراتور کنشکا څخه دوه پېښته د مخه او څلور پېښته تر کنشکا وروسته له اتلسمې پېړۍ څخه تر (۱۹۹۳) کال پورې د لړۍ او دورې پر بنسټ په هماغه بڼه د ټولو کوشان پېژندونکيو او څېړونکيو له خوا منل کېده، خو د بغلان، سمنګان د رباتک د (۲۳) کرښيز ډبرليک په کشف سره درې پېښته وو. او سربېره پر دې د امپراتور دين او قانون هم مشخص شو. دا پخپله له شواهدو او مدارکو څخه د لرغونپېژندنې د تغذيې بله وسيله ده. نو دا شواهد په حقيقت کې د تاريخي دورو پاتې شوني دي نه د لرغونپېژندنې تاريخي دوره. د دې شواهدو او مدارکو پر بنسټ ځای او وخت ته په پاملرنې سره تاريخي دوره تثبيت او نوې سنه يې تاکي او يا تاريخي سنی او نېټه ليک بدلوي.

يعنې لرغونپېژندنه د مادي وسايلو او لوازمو په هر اړخيزه او دقيقه مطالعه سره رامنځ ته شوې چې د متحرک او باخبر انسان په وسيله څه د وحشي توب او بدويت او څه په پرمختللی حالت کې د زمانې د پرله پسې دورو له لړۍ څخه په ښکاره ځايونو کې غږيږي، او د تکميل په غنا او يا د عصرونو او دورو په بشپړتابه کې زښته ډېره مرسته کوي.

لرغونپېژندنې د نړۍ په ببلابېلو برخو کې د پرله پسې پلټنو او څېړنو پر بنسټ د ځمکې په پراخه کره کې د تاریخ د علم په ارزونه کې تغییرات راوستي دي، چې بشپړه پایله یې د روښانو مدنیتونو د تاریخي دورو او عصرونو د پراخو مرکزونو موندنه او د انساني ملتونو د قومونو د ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي ژوندانه څرګندویه ده، چې د تاریخ په اوږدو کې له ډول ډول خوځښتونو او پېښو سره اخښل شوې ده.

نو لرغونپېژندنه د یوه نسبي، نه مطلق علم په توګه له مدارکو، شواهدو، آثارو او موندنو سره سروکار لري چې د هغې بنسټیزې سرچینې شمېرل کېږي، ددې علم تر ټولو لوی فکتور د هغه سرچینې دي.

لرغونپېژندنه د یوه مثبت او نسبي علم په توګه یوازې تاریخي دورې نه مطالعه کوي، بلکې تر تاریخ دمخه د انسانانو د فوسیلونو او پاتې شونو هغه څه ته په پاملرنې سره چې د ځمکې د مخ ډول ډول جوړښت د انسان بدني او مغزي تغییرات پخپلو کې او هم له نورو ساکښانو او ځناورانو څخه ببلوي، څېړي. انسان چې د خپلې بقا او ځان ژغورنې لپاره د طبیعت په لمنه کې د اوسیدنې لپاره ډېره هڅه او هاند پیل کړی، لرغونپېژندنه د هغه د عمر په اوږدوالی او قدامت سربېره چې دې انسان د خپل ژوندانه د دوام په لاره کې یې د ښه ژوندانه لپاره د وسایلو او پوهې هڅه کړې، هماغه هڅې دي چې د انسان د تمدن او فرهنګ تر تاریخ لاندې مطالعه کېږي. چې همدا انسان په پخوانۍ زمانه کې توانېدلی چې د خپل لیږسنجي عقل په ملګرتیا خپل طبیعي ژوند چې د ډېرو پېښو تر اغېز لاندې و، په تصنعي ژوندانه بدل کړي او ځان ته په زړه پورې چاپېریال ومومي.

لرغونپېژندنه لکه څنګه چې د انسان د ژوندانه لومړي څرکونه په وسایلو، آلاتو، د عقیدې په طرز طریقه، زمانې او د هغه په تولنیز چلند سره له پیله تر پای پورې تر غور او څېړنې لاندې نیسي د هغه د تولنیزو اړیکو پرمختګ، له چاپېریال سره سمون او ناسمون د سمځو له مېشتېدنې څخه د مدني تکامل تر وروستیو معیارونو پورې تر څېړنې لاندې نیسي. د علماوو دا څېړنې او مطالعات د لرغونپېژندنې د څېړنو او پلټنو په اسلوب پورې اړه لري. لرغونپېژندنې د لومړي ځل لپاره د انسانانو ژوند له ځنګلونو او طبیعي سمځو څخه تر وسایلو او آلاتو پورې تقسیم بندي کړ. او د زاړه یا لرغونپېژندنې اصطلاح یې د انسان له لومړني ژوندانه، د عقلونو، د بدني جوړښت له طرز او د هغه له فعالیت څخه پیل کړه او د ناحلو قضیو د منطقي پیوند لپاره یې د انسان ډول ډول کېدونکې بهیر په څېړنیزو، علمي او منطقي مېتودونو او طریقو سره تقسیم بندي کړ.

لرغونپېژندنې د انساني ژوند د ارزونې پراوونه (تکامل، بقا او له منځه تګ) وماته. یعنې انسانانو چې د چاپېریال د پېښنو او عواملو په وړاندې په ناتولې تېږه جنګ کاوه، نو هغه ته یې د لرغونې تیږې انسان (Paleo li thic) ووایه او کله چې له مصنوعي یا تولې شوې تیږې سره د پېښنو په دې شخړه کې مخامخ شول، نو هغه ته یې د نوې تیږې انسان یا (Neolithic) نوم ورکړ او ددې دورې د بشپړېدو منځ یې د منځنۍ تیږې د دورې (Mego li thic) په نامه ونوماوه او کله چې انسان د زمانې په اوږدو یا پرله پسې زمانو کې پورتنۍ پورۍ، ووهلې او د هغه مغزي تکامل د عقلونو د لوړتیا او د ډېرښت پراو ته ورسېد او کانونه، په ځانګړي ډول مس،

قلعي او اوسپنه يې لاس ته راوړل، نو هغه يې د فلزاتو د پېړۍ په انسان يا (Aged Metaux) ونوماوه.

تر دې وروسته لرغونپېژندنې خپله لاره پراخه کړه، له تاريخ سره يې موازي خپله لاره ووهله او اعلان يې وکړ چې له ليک لوست پرته د ځمکې په کره کې بل تاريخي دوران، بې ژبې دوران خو غېر بدونکی او مهم دوران هم شته چې تر اوسه تر بشر خبر نه و، يعنې د تکامل، بقا او له منځه تلنې دوران په بنسټيز ډول د پخوانيو دورونو د پرمختګ او تکامل لويه برخه د تاريخ له دوران سره مساوي کړه او د هغې بله درجه او اهميت يې وماته.

د يوه بل نظر له مخې کولای شو لرغونپېژندنه په عمومي توګه تر ټولو زياته په مختلفو برخو کې د مسئلې د اصل په توګه ومنو. د تر تاريخ د مخه دورو په اړه بشپړ معلومات او اطلاعات د علمي پلټنو او فرهنګ پېژندنې (Ethonographie) له لارې تر لاسه کېدای شي. وموويل چې لرغونپېژندنه د انسان تېر تاريخ د پاتې شونو (Monuments) يا مادي آثارو په وسيله انځوروي. ددې څېړنيز اسلوب موخه دا ده چې دا مادي آثار وپلټي، طبقه بندي يې کړي او په پرله پسې زمانو کې يې باخبر انسان ته وروپېژني. دا مادي آثار هماغه د کار آلات، وسله، د کور سامان، د کورونو پاتې شوني، هنري لاس ته راوړنې، سپېځلي مذهبي ځيزونه، د لرغونو او پخوانيو ټولنو مرکزونه، مړيستونونه (هديرې) د ځاروبو قصابخانې کشف او تر غور او مطالعې لاندې نيسي. د لرغونپېژندنې دا تحرک تر تاريخ د مخه دورې او په تاريخي دورې پورې اړوند کېدای شي.

لرغونپېژندنه هم د نورو علومو، لکه جيولوژۍ غوندې د ځمکې پخوانۍ

پورې، قشرونه او طبقې، چې په هغو کې په هره مرحله کې د انساني ژوندانه پاتې شونې له فعاليتونو سره د زمانې په تېرېدو منځ ته راغلي، د پخوانيو پورېو تر عنوان لاندې چې له لس ګونو زياتې دي، هم تر مطالعې او څېړنې لاندې نيسي، او د امکان تر بريده له مدرنو وسايلو او له عصري فزيکي کيمياوي تکنالوژۍ او نورو تجربو څخه ګټه اخلي. څو چې د زمانې لرغونتيا يا قدامت او د ځانګړتياوو څرنګوالی يې د مادي موادو له مخې ښه تر مشخص شي. له دغې جملې څخه څېړونکي کولای شي د هډوکو توتې، ايرې، چونه يي مواد او کاربن چې د انسان په آهکي جوړښت او يا د اوسېدنې په مادي چاپېريال کې پټ دي، د عصري او مدرنو دستګاوو په وسيله تر تحليل او تجزيې لاندې ونيسي او پرې تېر شوی وخت يې وارزوي. ځکه د پخوانيو انسانانو د هډوکو د توتو په راپاتې شويو موادو کې چې د زرګونو کلونو په اوږدو کې کوم بدلونونه رامنځ ته شوي د کاربن (۱٤) د يوې اندازې راډيو اکتيف ايزوتوپ په وسيلې تر تحليل او تجزيې لاندې نيول کېږي.

خو بايد ومنل شي چې لرغونپېژندنې تر (۱۷م) مې پيړۍ وروسته او د اتلسمې پيړۍ په منځ کې د تر تاريخ دمخه دوران پر مطالعې او پلټنې سربېره د نړۍ لويې او پراخې واکمنۍ او امپراتورۍ او لوی فرهنګي او ثقافتي عصرونه تر ژورې مطالعې او څېړنې لاندې نېول کېږي او د هره اندازه اسطورې او افسانې يې په لويو تاريخي حقيقتونو بدلوي. د دې مطالعاتو او پلټنو عوامل پټ اسناد او فرهنګونه وو، چې د هغو په اسلوب لرغونپوهان د هغو د متن او محتوا د موازينو او مطالبو په مطالعه او ژوره کتنه بوخت شول.

مثلاً لرغونپېژندونکيو د اتيک (Atic) دورې د تاريخپوهانو لکه

هرودوټ (Herodote) او سترابون (Strabon)، تاسیټ (Tacite)، تروگوس پومپایوس (Trogos pompaius)، آرین (Arian) او نورو ارمینی، رومي، یوناني، چینایي او نورو تاریخپوهانو له اسنادو او یادښتونو څخه یې ګټه واخیسته او خپل څېړنیز کار یې پیل کړ. نو ویلای شو چې لرغونپېژندنه له هغو لیکلو مدارکو څخه په ګټې اخیستنې تر پنځمې مخزېږدی پیړۍ را په دې خوا څېړونکیو او تاریخپوهانو ته په لاس ورغلې، لرغونپېژندنه ددې متونو د دوو اطلاعاتو پر بنسټ خپل عملي کار پیلوي.

نو له دې امله کولای شو په دې اړه د هر مثالونه وړاندې کړو، خو یو چې په اړونده برخه کې یې مطالب وړاندې کړو، نو په عمومي ډول باید په دې برخه کې څرګنده شي:

لرغونپېژندنه هغه علم دی چې پخپله محتوا کې له نورو علومو سره اړیکې لري او د تاریخي او تر تاریخ د مخه دوران د انسانانو مادي او معنوي فعالیتونه د موندل شویو اسنادو او مدارکو په لیدلو سره تر څېړنې او پلټنې لاندې نیسي او عمدتاً په عملي کار او اوږدو له صبره د کو څېړنو سره لوی اطلاعات او تفسیرونه څه له تاریخي لیکل شوي اړخه او څه له څېړنیز نوي او تازه اړخه نوي پیدا شوي معلومات له تاریخ سره یوځای کوي او د تاریخي معلوماتو پانګه زیاتوي.

نو د لرغونپېژندنې د کار پیل د وخت په تېرېدو سره پراخ شو او ددې علم په پراخوالي او ځانګړیو کې لویو پوهانو د هر کړاوونه زغملي او نه ستړي کېدونکې هلې ځلې یې کړي دي.

د لرغونپېژندنې تاريخچه:

مخکې له دې چې د نوې او علمي لرغونپېژندنې د تاريخ او پيدايښت په اړه مطالب وړاندې کړو، ښه به وي چې د دې بنسټيزې او عمده برخې په اړه چې د تاريخ د مرستندويې او بشپړوونکې په نامه هم نومول شوې ده، د زياتو معلوماتو لپاره رڼا واچول شي.

د خوځندو او پلټوونکيو انسانانو د انکشافاتو او نوې ژوندانه په عصر کې د (۱۵م) مې پېړۍ په وروستيو او د (۱۶م) مې پيړۍ په لومړيو کې هغه مهال چې کريستوف کولومبوس سيلانې او نړۍ ګرځيدونکی نوې نړۍ، ته ورسېد او مجيلان يا ګليلاتو د نړۍ شاوخوا د ببړۍ په وسيله ووهله، د هغوی په وسيله د انسان د سابقې په اړه کشفيات راغوند او د ببلابېلو مدنيتونو او کولتورونو په ځانګړې ډول د پخوانې يونان او روم په اړه يې معلومات راغوند کړل.

سيرياکوس يا سيراکس (Cyriacus) (۱۴۴۹م) چې ايتالوي پلټوونکی و، د مخکښانو له ډلې څخه يې شميرلی شو. نومورې د منځنۍ ختيځ له سيمې په ځانګړې ډول د شمالي افريقې له لارو تېر شو او په مصر کې يې پراخې مطالعې وکړې. بيا يونان ته ولاړ. سيرياکوس د يونان مهم او مشهور معبدونه وليدل او خپل دا معلومات يې د شمالي افريقې او جنوبي اروپا او مديترانه يې سيمو څخه لاس په لاس د لرغونو سيمو او آثارو د نورو مينه والو ذهنونو ته ورسول. هغه د يونان د پخوانۍ يعنې د څلورمې قبل الميلاد پېړۍ د مؤرخ (هروډټ) چې د تاريخ په پلار هم مشهور دی، تر ټولو لوی توضيح کوونکی اثر لاس ته راوړ.

دې نسخې او د پخواني يونان نورو ډېرو تاريخي مشهورو خطي نسخو د واکمنو، شهزادګانو او رومي لوړ پوړو وګړيو کليکسونونو ته لاره ومونده. په همدې ترتيب کله چې په (١٤٥٣م) کې د قسطنطنيې ښار د تورکانو په لاس فتح شو، يو شمير يوناني علماوو او پوهانو ايتاليا ته سفرونه وکړل او مهم اسناد او غوره لرغوني آثار يې له ځان سره يوړل. ددې پېښې په پام کې نيولو سره روميانو او د مديترانې د څنډو وګړيو له پخوانۍ نړۍ سره د فرهنګ او ثقافت له نظره پراخه لېوالتيا وښودله، په ځانګړي ډول د ګوتيانو او بربريانو د بريدونو او د يونان د اسطورو د فرهنګ يادګارونو، د افسانوي لوحو او د يوناني اتلانو او خدايانو ويارونو، ددې څنډو د ټولنو په چلند کې مهمې انګېزې خپرې کړې. نو له دې امله په (١٦م) او (١٧م) مه پېړۍ کې د پخوانيو او لرغونو آثارو د مينه والو او لېوالو شمېر ورځ په ورځ زيات شو او د خدايانو او الهه و د مجسمو او څېرو راغونډول. د رومي پانګوالو د ويارونو او ذوق وسيله وګرځېده. او ورو ورو د هغو په کورونو او ودانيو کې د کلکسيونو په شکل بدل شول. تا به ويل چې د مرمرينو او نورو تيږو د ښکلو هنرونو قيمتي ګالري جوړه شوې ده. لکه چې په (١٥٨٥-١٦٤٦م) مو کلونو کې د انندال (Anundel) په نامه کس (٣٧) بشپړ او (١٢٨) نيمه تنه يي مجسمې له ډبرينو ګلدارو او تورل شويو تابوتونو سره راغونډې کړې.

د ځينو پوهانو په نظر د داسې کلاسيکو آثارو د راغونډولو ګونګوسې ټولې نړۍ ته خپرې شوې او ددې برخې پوهان او مينه وال په کار بوخت شول، سربېره پر دې چې دا آثار يې له معبدونو او کورونو څخه راغونډ کړل په ډېرو ځايونو کې يې اوږدو پلټنو او کيندنو ته لاس واچاوه، چې په هغه مهال يې د

ننني لرغونپېژندنې اصول او موازين نه درلودل او عموماً لکه د نن په څېر د هغوی موخه د لرغونو آثارو تر لاسه کول وو.

د څېړونکيو او پوهانو په نظر د تر تاريخ د مخه عصرونو د منځ ته راتګ او په ځانګړي ډول د پخوانۍ تيږې د لومړني انسان موجوديت د چارلس داروين د مشهور اثر له چاپ سره سم و، چې د (ډولونو د سرچينې) په موضوع چې د انسان د تکامل تيوري يې د طبيعي تعيين او تاکنې له لارې منعکسوله او دا کال (۱۸۵۹م) د نولسمې پېړۍ منځ دی. د لومړي ځل لپاره په (۱۸۵۶م) کال کې د آلمان د راين سيند له څنډو څخه د نياندرتال (Neandertal) د لومړنۍ جمجمې په کشف سره د لرغونپېژندنې د پيل نېټې تاکل معيار نيول کېږي. ځينې څېړونکي تر تاريخ د مخه دورو طبقه بندي او يا په ځانګړي ډول د لرغونې تيږې دوره چې د تکامل په اصالت يا (Evolutionists) يې عقيده درلوده د منلو وړ او د هغه د ثقافتي او کولتوري تکامل مراحل يې په څلورو مشخصو برخو ويشلي دي.

تر هغه وروسته متقاعد جنرال پټ ريورس (Pitt Rivers) چې د هيرودټ غوندې د عملي کيندلو پلار ګڼل شوی دی، لرغونپېژندنه تر تاکلو موازينو او ضوابطو لاندې رامنځ ته کړه. هغه په عمومي ډول لرغونې پردې او طبقې تر مطالعې لاندې ونيوې او په (۱۹۲۷م) کال کې په عمومي ډول سره په اروپايي نړۍ کې له آسيايي هېوادو پرته د نيو مکسيکو فولبوم ته نږدې يې د آلاتو او د هډوکو د ټوټو او پارچو په کشف سره لرغونپېژندنه متيقينه کړه څو چې عصرونه، دورې او کولتورونه يې د طبقو او پردو يانې ستراتيګرافي په بنسټ مطالعه کړل او د يوې دورې يو کولتور يې د وروستي او مخکې کولتور سره

مطالعه کړ. دلته باید ومنل شي چې تر (پټ ریوس) وروسته د لرغونپېژندنې پیل او د هغې نسبي علم په هر هېواد کې په عام او نړېوال ډول رواج وموند او لوديزوال او امریکایي پوهاندان، د ډبرو لیکونو تر موندنې او لوستنې او د معبدونو او هدیرو تر مطالعې وروسته د مدیترانې، مرکزي اروپا، کوچنۍ آسیا او آسیایي هېوادونو په لور وځغاستل.

مثلاً تر ټولو ښه امانت چې د لرغونپېژندنې د کیندنو او مطالعاتو سرمشق شو د مصري هیروغلیف یا پکتوګراف (Pictographie) ډبرلیکونو لوستنه وه چې د خطونو پرځای د الوتونکیو له ببلابېلو انځورونو او نښو څخه ګټه اخیستل کېده. د هیروغلیف ډبرلیک په (۱۷۹۸م) کې هغه مهال چې ناپلیون د (۳۸۰۰۰) کسانو په ملګرتیا د بحر له لارې مصر ته ننووت، یو شمېر پوهان ورسره ملګري وو او په (۱۷۷۸-۱۸۶۷م) کال کې د نابغه ژېپوهاند شاملیون په وسیله د هیروغلیف ډبرلیک ولوستل شو او تر دې وروسته نه یوازې په ختیځ کې د پلټنو پیلامه وه بلکې د آسیایي مدنیت د ببلابېلو دورو د مطالعاتو پیلامه شمېرل کېږي. داسې چې د شلمې پېړۍ په منځنیو کلونو کې په انګلستان کې د مصر د لرغونو آثارو د مطالعې لپاره یو ځانګړی ښوونځی پرانیستل شو. او یو شمېر کسانو د لیک لوست تر تاریخ دمخه دورې د مطالعې لپاره په (۱۸۵۷م) کال کې د یوه لغت په توګه لکه (تر تاریخ دمخه) چې د لومړۍ ځل لپاره د جان لبورګ په واسطه ونومول شو او په (۱۸۶۵م) کال کې تر دې سرلیک لاندې کتاب خپور شو چې نور پوهان یې دې کار ته ځیر کړل او په (۱۸۷۹م) کې په التامیرا کې یوه سمځ کشف شوه چې په منځ کې یې د لرغونې تیږې د دورې رسمونه او انځورونه وو. او ددې لړۍ

وروستي مطالعات ددې لامل وګرځېد چې د موندنو او نورو آثارو په بنسټ د نوې تيږې د دورې يا (Neoli thic) او لرغونې تيږې او په پای کې منځنۍ دورې او فلزاتو په ځانګړي کولو کې، تر هغه وروسته نه يوازې په اروپايي هيوادونو کې، بلکې د ختيځ په خاوره په ځانګړې ډول د سند په حوزه، زمور د هېواد په شمال، د مرکزي آسيا په هېوادونو، د آسيا په سويل ختيځ، د فلات، ايران او بين النهرين په ببلابېلو سيمو کې خپله لاره ووهله.

د ځينو څېړونکيو په نظر د نوې لرغونپېژندنې د پيل کال (۱۹۱۸م) پېژندل شوی دی. اصولاً د هغو څېړنو په بنسټ چې شوې دي لرغونپېژندنه په اصولي ډول تر (۱۹۵۰م) کال وروسته د نوې او علمي لرغونپېژندنې په توګه رامنځ ته شوه چې له پخوانۍ لرغونپېژندنې سره په ټولو موازينو کې بشپړ توپير لري. يعنې هغه مهم انکشاف چې په وروستيو کلونو کې د ځمکې د کرې په ختيزو او لوديزو نيمو وچو کې پېښ شوی دی، په ساحه (Fild-work) کې د بين العلوم څېړنيز ميتود وده ده.

همدا رنګه لومړني پلټوونکي او لرغونپېژندونکي په هر اړخيز ډول چې په علمي اصولو او پراخه پلټنو برابر وو او د جيولوجي د څلورمې دورې (Quarter maire) د پيل د انسانانو د آلاتو او ژوندیو موجوداتو د بقايا و د کشف لامل شول، هماغه په (۱۸۳۰م) کال کې په انګلستان کې مک اينری (MC Enery) او په (۱۸٤۰م) کال کې په فرانسې کې بوچت دوپرت (Bouchet) پېژندل شوي، چې د لرغونپېژندنې او انترپولوجۍ يا بشر پېژندنې بنسټ يې کېښود.

نو تر (۱۹) پېړۍ وروسته لرغونپېژندونکيو او څېړونکيو د بشري

ژوندانه ببلابېل ډګرونه د لومړنيو انسانانو يعنې د نياندرتال له دوران څخه تر عاقلو (Homosapiens) انسانانو پورې په عمومي ډول د لاندنيو چارو علمي او څېړنيز فعاليتونه د کرونولوجي پر بنسټ په لرغونپېژندنې پورې د اړوندو مسايلو د سمو راژوندي کولو او ترتيبولو په برخه کې ترسره کړي دي.

۱ - لرغونپېژندونکيو او فرهنګ پېژندونکيو په (۲۰) مه پيړۍ کې د لومړنيو ټولنو په ځانګړي ډول تر تاريخ دمخه د ورو يا (Protohistory) د تاريخ په اړه ډېر اسناد او شواهد لاس ته راوړل او دا لاره يې اواره کړه چې د خپلو تېرو ولسونو د عقايدو او فکرونو له اصولو څخه چې مخکې يې په دې اړه هيڅ معلومات نه درلود، د ابهام او اتکل پرده ليرې او راڅرګند يې کړي.

لرغونپېژندونکي بريالي شول چې په تر پام لاندې ځايونو کې د هر اړخيزو هلو ځلو او پرله پسې پلټنو په وسيله د لرغونې تيږې د زمانې د ثقافت پرمختګ او عظمت انځور کړي، له دې مخکښانو څخه يو هماغه (ج - کلارک) دی چې د اروپا يانو د نوې تيږې يا (Neoli thic) زمانې ژوند يې په ګوته کړ.

۲ - د لرغونو سيمو د پخوانيو پوړيو د لرغونپېژندنې په دې بنسټيزو څېړنيزو مطالعاتو کې له نوښتګرانو څخه هماغه المانی پوه اومنګهم (O.Menghim) دی.

۳ - و. ګورو تسوف (V. Gorotsov) او ټ. پاسک (T. Passek) د تر تاريخ دمخه ببلابېلو دورو د تکامل او بدلونونو بهيرونه د ژوندانه د ببلابېلو نظريو له مخې، رامنځ ته او د سيمو ترمنځ ثقافتي اړيکې يې د زرګونو کلونو په اوږدو کې مطالعه او وارزولې.

٤ - يو بل پوه د تر تاريخ دمخه انسان د څېړې لرغونپېژندنه جمجمې

ته په پاملرنې سره لاس ته راوړې او په ګوته کړې او په لس ګونو جمجمې يې د څېړې د انا تومې په ليدلو داسې چمتو کړې چې د تر تاريخ دمخه لومړني انسان بڼه يې وښوده.

۵ - لومړنی کس چې په مصر کې يې کيدنې وکړې او ډير آثار يې تر لاسه کړل او د هغو يو شمير يې د فرانسې لوور (Loure) موزيم ته ولېږدول اګوست مولي (Agust-Mauelle) و.

٦ - تامسن يوازينی کس و چې لرغونپېژندنه يې يوازې د ځمکې په زړه کې پلټنه او کيندنه نه ګڼله بلکې معتقد و چې آثار، مواد، چاپيريال او شاوخوا او خبروونکي عوامل د هماغې سيمې له وضعې څخه بشر خبروي چې تر څېړنې او پلټنې لاندې نيول کېږي.

د لرغونپېژندنې د ميتود لومړی پړاو (Methodical Archeaologie):

مخکې له دې چې د لرغونپېژندنې د ميتود په اړه لازمه شرحه وړاندې شي، بايد يادونه وشي چې د لرغونپېژندنې ميتود د کيندنو يا (Excuvation) له اصولو او قواعدو سره توپير لري او دا دواړه موضوعګانې بايد سره يوځای نه شي.

د لرغونپېژندنې ميتود د لرغونې سيمې د مدارکو او شواهدو د موندنې لپاره دی. يعنې په لومړي پړاو کې خپل کار د تېر ثقافت او فرهنګ د مادي آثارو د لاس ته راوړنې لپاره نه، بلکې د اسنادو د موندنې لپاره کوي.

په دې ځای کې اصولاً د لرغونپېژندونکي لپاره تر ساحوي کار (Field-work) دمخه د هغې سيمې په اړه چې غواړي کار پرې وکړي د ليکلو

منابعو څېړنه او تدقیق ډېر ارزښتمن او ګټور وي. د موضوع د ښې روښانتیا او اثبات لپاره داسې څرګندونه کولای شو:

مثلاً د ستړابون او نورو ډیرو مؤرخینو په پخوانیو اسنادو کې د پخوانۍ آریانا، فراداتا او په همدې ډول داراکوزیه او د رنګانیه د ځمکو په منځ کې تر (۳۳۰ ق م) وروسته د مقدوني سکندر د سفرونو په اړه پراخې لیکنې شوې دي. او لکه چې وایي شمال ته د حرکت پر وخت یې د پروفتازیا (Proftazia) له سکندریې سره د آمو یا (Oxus) سکندریه جوړه کړه او په (۳۰۵ ق م) کې تر مقدوني سکندر وروسته نېکاتور سلوکوس د باختر په حوزه کې د خپل سري پوځي او ثقافي ځواک څښتن شو.

لرغونپېژندنه ددې دوو سکندریو د تاکلو لپاره باید تر پلټنو او کیندنو دمخه پورتنی متن په ځیر سره وارزوي، برید پولې او اړوندې ځمکې د پراوونو له مخې په پام کې ونیسي، لکه:

۱- د پخوانیو مصطلحاتو، ژبپوهنې او فونوتیک (غږ پوهنې) له مخې د نومونو سمون، څو چې هغه سیمه چې له جغرافیایی اړخه سره سمون خوري، د لرغونپېژندونکي له خوا په ګوته شي.

۲- د سیمې یا ځای جغرافیایي بریدپولې د نورو څو متنونو سره په پرتلیز ډول ارزیابی شي.

۳- د په پام کې ځای د نومونو د شکل د تغییراتو لړۍ، د ورته والي او څرنګوالي د قراینو په پام کې نیولو سره.

٤- د نوم او تاریخی لرغونتیا له مخې د په پام کې سیمې او ساحې د شفاهي ادبیاتو د محتویاتو راغونډول او د سره ورته عناصرو تحلیل.

۵- د سيمې او د هغې د نومونو په اړه د هغو اوسيدونکيو او مشرانو نظريات او ويناوې چې له څو نسلو راهيسې معلومات وړاندې کړی شي، په پام کې نيول کيږي.

٦- د يوې سکندريې د ځانګړنو په اړه شواهد او مدارک، يا په سيمه کې د معماری او ودانی طرز او يا د غورځېدنو (Topography) له مخې.

۷- د مؤرخينو يادښتونه او ليکنې لوستل او د تاريخي متنونو مطالعه.

۸- د پلټنې سيمې او د نامه او جوړښت له مخې نورو ورته سيمو ته ژوره پاملرنه.

۹- د هغو پراوونو د څېړنې او تدقيق لپاره د معلوماتو د آرشيف برابرول چې لرغونپېژندنې د هغو په رڼا کې هلې ځلې کړي دي.

۱۰- د ادبياتو، فرهنګ، ځانګړتياو او د ځای د ځانګړنو له مخې د پاتې شونو مطالعه.

د لرغونپېژندنې د مبتود دويم پړاو:

په دې پړاو کې لرغونپېژندونکی د پخوانيو يعنی لومړنيو پړاوونو په پام کې نيولو سره په پام کې سيمه کې خپل علمي او عملي کار پيلوي په دې معنی چې:

۱- سيمه د توپوګرافي او د غورځېدنې د طريقې له مخې د يوې سکندريې د جوړښت او د معماری طرز ته ځواب وويلای شي.

۲- د اړوندې ځمکې سطحه د پاتې شونو لکه سيراميک (کودړو) او نورو شيانو له پلوه، چې په يوه يوناني مدنيت دلالت وکړي تر مطالعې لاندې نيول کيږي.

۳- د خاورې ډول، د رنګ توپيرونه او ترکيب لرغونپېژندونکی موخې ته رسولای شي.

٤- د هغو څيزونو مطالعه چې د ځمکې پرمخ پراته دي، لکه ښايي د ستنو برغولي، ډبرينې پينډۍ په ځانګړی ډول مرمرينې، د خاورينو لوښو يوه برخه پاتې شوني لکه ليکتوس (Lykthus) يا امپوره (Amphora) او نور چې ټول کولای شي په سيمه کې د يوه کلاسيک يوناني مدنيت د موجوديت شاهدي ورکړي.

٥- د ځينو ټوټو (Fragmental) او بشپړو او نابشپړو ليکنو او ډبر ليکونو لاس ته راوړل چې د يوناني دورې د يوه پخواني کولتور شاهدي ورکوي.

٦- د دورو په پام کې نيولو سره په منل شويو اندازو لومړنۍ کيندنې (سانداژ Sondage) دوه متره پلنې لس متره اوږدې او (X) ژورې.

٧- د لاس ته راغليو قشرونو مطالعه او د ځمکې پرمخ د کشف شويو څيزونو طبقه بندي.

٨- د کوم څيز يا ودانۍ د کشف په صورت کې نومورې په پام کې دوره تاکل کيږي.

٩- د ټرلاسه شويو موادو، لکه سکرو، ايرو، ورستو شويو لرګو، کودړو، فوسيلونو او د هډوکو د ټوټو تحليل او تجزيه د کاربن (B 14) په وسيله چې کاشف يې امريکايی پوه لي بي (Le bee) دی او همدا رنګه د تحليلي طريقې کرستالوګراف په وسيله د سيمې د لرغونتيا په تاکنه کې پراخه مرسته کېدای شي.

١٠- د مادي موادو آثارو او شيانو پرتلنه له نورو لاس ته راغليو او کشف شويو آثارو سره، د راغونډولو په زيرمو لکه موزيمونو او اتنوګرافيکو سيمو او حوزو کې.

د کيندنو او يا د سروې په پراوونو کې د آثارو د کشف پر مهال د لرغونپېژندنې وروستۍ دندې:

کله چې لرغونپېژندنه خپل ټول ځېرنيز پراوونه د اوسنيو منل شويو موازينو سره سم د سيمې او يا آثارو په اړه ووهي، نو بيا په دوو فکټورونو خپل عملي کار پيلوي:

لومړی: پرتليز يا مقايسوي فکټور: له ټولو همدوره آثارو د ورته والي، تدقيق او همغږۍ پرتلنه.

دويم: شننيز يا تحليلي فکټور: ددې څرنگوالي په اړه مطالعه اوځيرنه چې: آيا:

۱- آثار په سياقي (Contextual) بڼه دي چې مورږ هغه په تطبيقي طريقه د لومړی فکټور مربوط ګڼو.

۲- آثار د لاسي صنعت (Functional) په وسيله سم شوي دي.

۳- آثار عام، رواجي او سلوکي (Behavinral) دي، په دقيق او هراړخيزه ډول.

٤- آثار کلتوري او عرفي (Traditional object) مخکې ځي.

نو له دې امله دا دوه فکټورونه او څلور مادې د لرغونپېژندنې کار په ځان کې رانغاړي.

کيندنې يا پلټنې د لرغونپيژندنې د فعاليتونو عمومي زړۍ:

هغه څه چې مخکې پرې د لومړنيو کيندنو په برخه کې د ببلابېلو دورو په اړه خبرې وشوې په حقيقت کې د لرغونپېژندنې اسکليټ او بنسټيز ساختمان جوړوي.

هغه پلټنې چې د نولسمې پېړۍ په منځ کې د اروپا ، آسیا ، افریقا او د آسیا په سویل لوديځ وچو کې ترسره شوې ددې لامل شوې چې تاریخي لغت یو بل پیوند ومومي او دا لغت هماغه تر تاریخ دمخه دورې او عصرونه وو چې لرغونپېژندونکیو په څلورو بنسټیزو دورو ویشلی دي:

تر تاریخ دمخه دوره ، د لرغوني تیږې دوره ، د منځنۍ تیږې دوره او د لرغوني تیږې وروستۍ یا د فلزاتو دوره چې د تیږو دا هره یوه دوره یې په فرعي دورو ویشلی دی. همدا رنګه لرغونپوهانو د فلزاتو دوره هم په درې نورو (دمسو ، مفرغو او اوسپنې) په دورو ویشلي دي.

د تېرې پېړۍ د پنځمې لسیزې په پیل کې ډنمارکي لرغونپېژندونکي (CH-Thomsen) د موندل شویو اثارو په طبقه بندۍ کې له بنسټیزو موادو سره سم ، چې د آلاتو د جوړولو لپاره کارېده ددرې ګونو عصرونو یا (Ages) تیوري مطرح کړه. او هغه یوازې د تیږې عصر (Paleolithic) د مصر د ګډو فلزاتو (مفرغ) او د اوسپنې د عصر وړاندیز وکړ او دا تقسیم بندی د تر تاریخ دمخه مرحلو او عصرونو په ټاکلو کې د یوه اصل په توګه ومنل شوه. وروسته یې ددې عصرونو هر یو یې په خپل وار سره په دورو وویشه یعنې د لرغوني تیږې دوره ، د منځنۍ تیږې او د نوې تیږې دوره. او له دې دورو څخه یې هره یوه د مادي آثارو د کشف د ځای په نامه لکه د شلهئن (Chelleen) د آشلین (Achenleen) او موستیرین (Mausterien) د آثارو د دورو په نومونو نومولې ، چې دا دورې د نړۍ د ټولو لرغونپېژندونکیو له خوا ومنل شوې. په داسې حال کې چې د مورګان (Morgan) په نامه یوه بل پوه په (۱۸۸۰) کال کې په خپل کتاب (پخوانۍ ټولنه) کې دا یادې شوې دورې په دوو برخو ویشي.

يوه د وحشي توب (Sauragene) بله د بدويت (Barbene) دوره. لومړی دوره د غشي او لينديز په جوړولو او اختراع سره پای ته رسېدلی بولي اوږدويمې دورې پيل د خاورينو لوښو د جوړولو نوې پيلامه ګڼي چې په دې دوره کې ټاروي اهلي کولو او روزلو او بزګرۍ وده کړې وه.

نو ددې پلټنو او څېړنو زېږنده ددې دورې په برخه کې د انسان په وجود کې څرګنده ده. مثلاً لرغونپېژندنه د فوسيلونو له پاتې شونو سره مخامخ شوه چې تر تاريخ د مخه لومړني انسان پورې يې اړه درلوده او په لاندې ډول يې د هغو يادونه کړې ده:

۱- د لومړۍ ځل لپاره يې فوسيل وموند او د پتيک انتروپ (Pithec anthrope) نوم يې پرې کېښود چې په (۱۸۹۱-۱۸۹٤م) کلونو کې يې د جاوا له هېواد څخه لاس ته راوړ.

۲- دويم ځل په (۱۹۲۵م) کال کې د چين د لرغونپېژندونکيو له جملې څخه اون چونګ (On-chung) د پکن ښار په شاوخوا کې د سوکوتين له سمځي څخه فوسيلونه ترلاسه کړل چې د انسان (سين انتروپ Sin anthrope) په نامه يادشول.

۳- په (۱۹٥٤م) کې فرانسوي لرغونپېژندونکيو الجزاير ته نژدې د تر تاريخ د مخه انسان د فوسيل يوه بله پاتې شوې ښلګه وموندە چې هغه يې د التانتروپ (Altanthrope) په نامه ياد کړ.

٤- هايدلبيرګ ته نژدې يې د بل انسان فوسيلونه وکتل چې هغه يې د هايدلبيرګ (Heidelberg) فوسيلونو په نامه ونومول.

٥- په (۱۸٥٦م) کال کې يې د نياندرتال په نامه دورې کې د آلمان د

دوسلداف په شاوخوا کې فوسیلونه کشف کړل چې په تر تاریخ دمخه انسان پورې یې اړه درلوده او هغه یې د نیاندرتال انسان په نامه ونوماوه.

٦- په (١٨٥٤-١٨٧٧م) کال کې په فرانسه کې لرغونپېژندونکیو د سمځ مېشتي انسان فوسیلونه او هډوکي کشف کړل او په هغو یې د کرومانون (Cro-Manon) انسان نوم کېښود او د هغو څېړنو پر بنسټ چې وشوې کرومانون به په لاره کروپ روان و او خپل مړي به یې په تشریفاتي او ډله ییزه توګه خاورو ته سپارل.

۷- په (۱۹۲۹م) کال کې په افریقا کې ډاکتر لیکي (Dr.-Leaky) په تانکانیکا کې د زینکانتروب انسان فوسیلونه او هډوکي ترلاسه کړل. هغه څرګنده کړه چې ترپلیوستس دوړې د دریو میلیونو کلونو په شاوخوا کې د مخه اوسېدلی دی.

۸- د ګبریل (A-I Gabriel) او موریته (A-Mortillet) په نومونو پوهانو عقیده درلوده چې تر نیاندرتال انسانانو میلیونونه کاله وروسته د ژوندانه د تکامل په اوږدو کې پوه او باخبر انسان د (Homo-Sapien) تر نامه لاندې خپل ژوندانه ته ادامه ورکړه.

پر دې سربېره د لرغونپېژندنې او بشرپېژندنې پوهانو تر تاریخ دمخه انسانان د ککرۍ د مغزو د حجم پر بنسټ هم په تاکلي ډول طبقه بندي کړل او څرګنده یې کړه چې:

د پتیک انتروپ د مغزو حجم (۹۰۰) سانتي متره مکعبه او د سین انتروپ انسان د مغزو حجم (۱۲۰۰) سانتي متره مکعبه او د نیاندرتال انسان ماغزه (۱٤۰۰-۱۵۰۰) سانتی متره مکعبه وو، چې د موجوده انسانانو د مغزو معادل کېدای شي.

په لرغونو ځایونو کې د کیندنو او پلټنو اصول:

لکه چې دمخه مو وویل د لرغونپېژندنې د څېړنو بنسټیز یا محوري زړی په سیمه کې پلټنې او کیندنې دي او ددې کار پر بنسټ د تیرې زمانې او دوران له پټو رازونو څخه پرده پورته کېږي. داسې چې څرګند مثالونه یې چې د تر تاریخ دمخه انسان له لومړنیو پاتې شونو راپیل او د تمدنونو تر عصره ادامه مومي، د لرغونپېژندنې د همدې فعالیت او عملي څېړنیز کار په وسیله وو. چې د څرګندونو او معلوماتو په توګه د هغو په برخه کې څو مطالب وړاندې کوم:

لکه چې دمخه مو یادونه وکړه کیندنې د دوو بنسټیزو موخو لپاره ترسره کېږي:

۱ - د ښلابښلو دورو د مادي آثارو د لاس ته راوړلو لپاره.

۲ - د عصرونو، تاریخي دورو او تر هغو دمخه لړیو د تشبیتولو او ځانګړي کولو لپاره (د تمدن او فرهنګ د ډول، اصالت او مفکورې، رامنځ ته کولو، انکشاف، تطور او تکامل په ګډون).

ددې موخې لپاره لرغونپېژندونکي د نورو علومو لکه جیولوجي، جغرافیا، بیولوژي، انتروپولوژي او انجنیرۍ مهندسۍ په مرسته او ملګرتیا کولای شي خپلې پراخې څېړنې او عملي کار په لرغونو سیمو کې پیل او سرته ورسوي.

د لرغونپېژندنې د عملي کار په قانونمندۍ کې د کیندلو دوه طریقې په پام کې نیول کېږي او نور عملي کارونه د پلټنو او کیندنو د علم د فروعاتو په ډله کې شمېرل کېږي.

دا دوه قانونمندۍ دا دي:

۱ - هغه کيندنې چې د ليدنو له مخې او په فرونتال (Fourontal) شکل د لرغونپيژندونکي په وسيله ترسره شي، پوهان دا ډول پلتنې د اوريزنتال (Horiesental) يا افقي کيندنو په نامه يادوي. او د ځمکې له سطحې څخه کښته د پوړيو او طبقو په مطالعې سره ادامه مومي.

۲ - هغه کيندنې چې عموماً له مقابل اړخه ترسره کيږي او په عين وخت کې د پوړيو له څارنې او مطالعې پرته ترسره کيږي، د ويرتيکال (Wertical) په نامه يادیږي. دا ډول کيندنې هغو کلکو او ډبرينو جوړښتونو ته ځواب وايي چې پرله پسې زمانو کې د خاورو تر پردو او طبقو او کانيو او د طبيعي ايروزيونو د پرده بندۍ تر قانون لاندې د ځمکې پر سطحه پاتې شوي او د لوړو خو کلکو غونډيو بڼه يې غوره کړې ده. دا ډول کيندنې اوس مهال د لرغونپيژندنې په نړۍ کې د منلو وړ نه دي او په لرغونو سيمو کې د څېړنو له کتاره وتلې دي.

د لرغونپيژندونکيو د ټولې په وسيله د کيندنو ټکنالوجي:

وروسته تر هغه چې لرغونپيژندونکي په پام کې سيمه د لرغونتوب له پلوه تاييد کړي، مخکې له دې چې په عملي کار او څېړنيزو کيندنو لاس پورې کړي، سيمه د کيندنو د نقطې د ويشنو د برخې په بنسټ په گوته کوي. بيا د کيندنو له يوې نقطې څخه چې تيو د وليت ته د ورته دستگاه په وسيله د مربعاتو په ډول تقسيم بندي شوې، سيمه د نقشې پر مخ په تاکلو اندازو د (۲۰ , ۱) په معيار او مقياس رسموي او له کيڼ لور څخه ښې لور ته په نښو يا د هجا د تورو په علامو يا په لاتيني الفبا سره ليکي او له پورته کښته خواته په لاتيني يا رومي نومرو سره نقطه گذاري کوي او خپل کار پيلوي. د نقشې پر مخ

عموماً دا دول رسمونې د اوریزنتیال یا افقي کیندنو لپاره کاریږي. او لرغونپیژندونکي پورې په پورې کښته کیندنې کوي او هره لرغوني پرده او پورې مطالعه کوي. په لرغونپیژندنه کې د کیندنې نقطه د ()-+ په طریقه پای او ()- نقطه پیل ګڼي. له (۲۰-۵۰) سانتي مترو پورې پرده عموماً د شرفیس یا هوموس (Humus) په نامه منل کیږي چې عموماً تر ټ د اوسني عصر وګړي ګټه اخلي. او یا پر لرغونې طبقې اضافي قشر ور دبره شوی وي. د ارتفاعاتو په هره پورې کې له تیو دولیت دستګاه او په لرغونې معماری کې د ساختمانی بنکلاوو او د لرغونو طبقو په ترکیب کې له فوتوګرامتریک (Fotogrametric) دستګاه څخه کار اخیستل کېده.

په ختیځ کې علمي پلټنې:

د نړۍ د مشهورو لرغونپیژندونکیو په وسیله علمي پلټنې د نولسمې پیړۍ له منځه راپیلږي. داسې چې بوتا (Botta) او لایارډ (Layard) د بابل قصرونه او دا سوري پاچاهانو ودانۍ او آثار کشف او تر لاسه کوي او د بین النهرین یا مزوپوتامي د ښارونو کنډوالې په (لاګاش) کې معرفي کوي او په مصر کې د معبدونو او مړیستونونو پاتې شوني تر مطالعې لاندې نیسي.

دمورګان (J-Demorgan) په نامه بل پوه د بشري ټولنو د پیدایښت دمخه وخت پورې اړوند آثار د ایران په لوړیځ او مصر کې کشفوي. همدا ډول فلایندر (Filinders) د کاهون د مشهور ښار چې د (فیوم) د وادۍ په څنډو کې پروت دی، آثار لاس ته راوړي او په کوچنۍ آسیا کې بل پوه د هیتي پلازمینه د (هوتوسو) ښار له خاورو راوویست. له (۱۹۲۰-۱۹۳۰م) مو کلونو پورې د یوې لسیزې په واټن کې لرغونپیژندنه او د هغې څیړنې ډېرې ګټورې وې. د

پخواني هند د تمدن کشف لکه د موهنجودیرو او د هڑا په تمدن د سند په حوزه کې، د اکدو او سومر د ښارونو مطالعه، او د فنیقیانو د اوګاریت ښار او د ننني سوريې په شمال کې د سامان ښارونو معرفي د پلټونکیو او لرغونپېژندونکیو یو بل عملي فعالیت دی چې د (۱۹۲۲م) او (۱۹۲۳م) مو کلونو ترمنځ پیل شوی. همدا رنګه له (۱۹۲۲-۱۹۲۷م) مو کلونو پورې د فرانسویانو، لکه کرل، هاکن ګتیورې پلټنې د ډېر ښو فرانسوي لرغونپېژندونکیو تر مشرۍ لاندې د افغانستان د ننګرهار د هډې په سیمه او همدا رنګه د پلخمري د (۱۵) کیلومتری په سره کوتل او د آمو او کوکچې سیندونو په ګډونځای او په یوناني ښار ګوتې آی خانم کې د (۱۹۵۱-۱۹۵۷م) کلونو ترمنځ دیول برنارد تر مشرۍ لاندې زیات مهم او پراخ بری شمېرل کیږي. همدا رنګه د امریکا د پنسلوانیا پوهنتون د طبیعي علومو د څېړنو د پروفیسورې لویی دوپري (Louis-Dupre) پر له پسې، مهم او ارزښتمن فعالیتونه د هېواد د شمال د آق کپرک، چنار ګنجشکان، دره ء کور او نورو سیمو کې د یادولو وړ دي.

لرغونپېژندونکیو په همدې ډول د ډېر لیکونو او لیکلو مدارکو د کشف په برخه کې له (۱۸م) مې پیړۍ څخه د نولسمې پیړۍ تر وروستیو پورې مهم رول لوبولی دي، لکه چې په (۱۸۰۲م) کال کې د ګروتفند په وسیله په میخي لیک د کښل شوي ډېر لیک لاس ته راوړل او د ایران د شاهنشاه خشایارشاه د زمانې د ډېر لیک ژباړې د لرغونپیژندنې د مسایلو په منځ کې ډېر بدلون راوست.

نو له دې امله هغه څه چې پوهانو د لرغونپېژندنې په برخه کې په ختیځ کې او په ځانګړي ډول په افغانستان کې ترسره کړي او په دې مهال ډېر مهم هم شمېرل کیږي هغه خپل فصل ته پرېږدو.

دویم څپرکی:

په افغانستان کې د لرغونپېژندنې تاریخچه

لرغونپېژندنه زموږ په هېواد کې اوږده سابقه لري؛ خو موږ یوازې د هغو لرې پلټنو او څېړنو یادونه کوو چې تر اتلسمې پیړۍ راهیسې ترسره شوي او په منظم او پرله پسې ډول نه وې. او اکثر هغه کسان چې د افغانستانه ځمکو ته راغلي د نولسمې پیړۍ په منځ او آخر کې وو او ټول مسلکي کسان او لرغونپېژندونکي نه وو، ذوقي عوامل ددې لامل شوي چې د هېواد یو شمېر ثقافي او فرهنګي امانتونه په ناقانونه توګه له ځان سره یوسي او دې ته لاره اواره شوی چې په یو لړ غیر علمي کیندنو لاس پورې کړي، چې د افغانستان د لرغونپېژندنې د څېړنو تاریخچه کولای شو له (۱۹۲۲م) کال وروسته د فرانسې د دولت او د وخت د حکومت ترمنځ د رسمي ټرون په کولو سره د ترټولو پخوانیو علمي او ګټورو څېړنو په توګه وګڼو نو ویلای شو چې زموږ هېواد له هغه کاله تر اوسه پورې د لرغونپېژندنې د نړۍ په پرمختګ او تکامل کې ډېره اوږده سابقه او لرغونتیا په برخه شوې ده.

په افغانستان کې د لرغونپېژندنې د څېړنو تاریخ په دوو بنسټیزو پراوونو ویشلای شو:

یو د هېواد په بېلابېلو سیمو کې په اتلسمه پیړۍ یعنی په (۱۸۲٤م) کلونو کې د لرغونپېژندنې غیر علمي څېړنې او بل له (۱۹۲۲-۱۹۷۹م) کال پورې د لرغونپېژندنې په اړه علمي او عملي څېړنې.

نو هغه کیندنې او څېړنې چې تر (۱۹۲۲م) کال وروسته په ببلابېلو سیمو کې ترسره شوې ګټورې او نېکې زېرندې یې رامنځ ته کړې چې د افغانستان د ملي موزیم آثار د ګندهارا Gandhara په حوزه کې تر ټولو شتمن آثار ګڼل کېده. او د آسیا د نورو سیمو په کتار کې د یوې غوره او مهمې سیمې په توګه شمېرل کېږي. نو له دې امله د اروپایي او امریکایي هېوادونو لرغونپوهان د تر تاریخ دمخه او تاریخي ببلابېلو عصرونو او دورو د موجودیت په پام کې نیولو سره تر (۱۸۲٤-۱۸۳٤ او ۱۸٤۱) مو کلونو وروسته دې هېواد ته راغلل. ځکه د افغانستان لرغونی هېواد په مرکزي آسیا کې د شتمنو او غنی ترینو هېوادو له ډلې څخه شمېرل کېږي.

لکه چې پوهېږو د برونزو د دورې پای او د اوسپنې تېنګښت او تولید د آریایانو له عظمت او برم سره نژدې و، چې د آمو په دواړو غاړو په پېړیو مېشت وو، او یو درونده مدنیت او ثقافت یې درلود. له هغې جملې څخه د آریانا د ځمکې چې په (۱٦) مهمو ټوټو ویشل شوې وه، لوی امانتونه د اوستا لوی کتاب، د سپنتمان زردشت په لاس کښل شوی و د هندوکش د آسمان څکې لړۍ د شمال په پراخو ورشوګانو او د ریګ ویدا کتاب ددې لړۍ د سویل په پراخو ورشوګانو کې ګڼلای شو. د هخامنشي امپراتورۍ د دریم داریوش پر مهال د آریانا د ځمکې یوه برخه نیول او د آریایي پخواني تمدن په ډېرو برخو کې د والیانو (ستراپیانو) تاکلو د هخامنشي ثقافت سره د ګډون له امله ډېر لوی فرهنګی، تجارتی او اقتصادی بدلونونه په سیمه کې رامنځ ته کړل او دا ثقافت او ښیرازي ددې لامل شو چې د اوسېدونکو یو او د فارس، بلخ، باختر او پخوانۍ ګندهارا ترمنځ د اړیکو تېنګېدو په اروپایي نړۍ او له هغې جملې په

يونان، روم، کريت، د پيرګمون په شاهنشاهۍ او کوچنۍ آسيا کې افغانستان وپېژندل شي او د يرغلګرو لوی سېلاب د ستغو او ستونزمنو لارو تر وهلو وروسته، افغانستان ته رامات شي.

له هغې جملې څخه په دريمه قبل الميلاد پيړۍ کې د مقدوني سکندر تر مشرۍ لاندې د يونانيانو د يرغل مثال وړاندې کولای شو چې زمونږ هېواد ته راغلي دي او د شمال او سويل په ډېرو سيمو کې يې په خپل نامه نظامي او کلتوري ودانۍ د سکندريو په نامه ودانې کړې. وايي چې لومړۍ سکندريه يې د آريانا په هري يا زمونږ اوسني هرات کې د ارتوګوانام د سکندريې په نامه ودانه کړه. د پروفتازيا (Proftazia) سکندريه، چې مؤرخين د هغې ځای په ننني سګستان يا سيستان (د المانۍ پوه پروفيسور کلاوس فيشر په عقيده د غوايي پوستکی) کې او ځينې يې د فراه د فريدون اوسنۍ کلا ګڼي، له دې قرارګاو څخه يود بله وه. په همدې دول د هندوکش په خوا کې د قفقاز يا کوکازوس سکندريه، بله د دوپيا السندا يا ننني هوفيانو سکندريه او همدا رنګه د اکسوس، مرګيانا او سغدوم سکندريې د هېواد په غاړو څندو کې ودانې او يو شمېر يونانيان په دې ځايونو کې د هغوی د مستعمرو په نامه د اوږدو کلونو ان له پخواني افغانستان څخه د سکندر تر وتلو وروسته هم پاتې شول. د يونانيانو او سلوسيديانو په (۲۰۰) کلنه واکمنۍ کې د آريانا د ځمکې شتمن فرهنګ د يوناني راوړی شوي فرهنګ سره يوځای او زېرندې يې د يونانو - باختري په نامه فرهنګ رامنځ ته کړ.

همدا رنګه په (۱۱۷ - ۷۵ ق م) کې د ساکانو يرغل هم له کلتوري او ثقافتي اړخه بدلونونه رامنځ ته کړل چې زمونږ د خاورې د کوشانيانو د لړۍ په

رامنځ ته کېدو سره د هندوکش په شمال او سویل کې دې ثقافت لوی پرمختګ وکړ او پوختابه ته ورسېد. او د ورېښمو لاره یا کارواني لاره چې د چین د هېواد له لویانګ (Loyang) څخه د هندوکش د ستغو او ګرانو لارو تر وهلو وروسته سویل خواته او د مرګیانې، سغدیانې او هیرطیانې تیسفون له لارې په شمال کې له هګباتانا یا همدان څخه تر تېرېدو وروسته د مدیترانې په څنډو کې غځیده، شهرت او مادي او معنوي حاصل یې د سویلي اروپا او کوچنۍ آسیا د ډېرو یرغلګرو په ګډون د سوداګرو، پوهانو او هنرمندانو پام هم ځان ته راواړاوه او له هنري او فرهنګي اړخه هېواد دومره شتمن شو چې د آسیا په زړه کې د غمي په څېر ورنګون او نامي ومنل شو. د پخوانیو متونو مطالعه چې د یوناني، رومي، ارمنۍ او چینایي مؤرخانو په وسیله کښل شوي وو او کولای شو له هغوی څخه د سترابون (Strabon)، آرین (Aryan)، پلوتارک (Plotark)، پلینس (Plimius)، سیریاکس (Syriacus)، تروګوس پامپیوس (Traugos-Pompayus) غوندې نومونه یاد کړو. د باختر، آریانا او ګندهارا په اړه د ثقافتي، اقتصادي او انتروپالوجي د پدیدو او ببلابېلو پېښو د بهیر له مخې چې د هېوادونو د فاتحانو له خوا د آسیا په دې برخه کې رامنځ ته شوې وې، اروپایي پوهان یې دې ته وهڅول چې د دې ځمکې تاریخي دورې د اوږدو پلټنو او څېړنو په وسیله روښانه کړي، او د افغانستان تاریخي شتمني او په نړیواله سطحه د آسیایي هېوادونو د تاریخ او تمدن په برخه کې مهم اطلاعات او معلومات وړاندې کړي. نو له دې امله په افغانستان کې د لرغونپېژندنې دوه پړاوونه د منلو وړ دي:

۱ - د ناقانونو پلټنو او له افغانستان څخه بهر ته په ځانګړي ډول د

اروپايي شتمنـو او مينه والو شخصي موزيمونو او کلکسونونو ته د کشف شويو آثارو د ليږدونې پراو

۲- د رسمي او قانوني تړونونو په وسيله د مؤرخينو د کلاسيکو متونو په بنسټ د علمي څېړنو او پلټنو پراو.

د لرغونپېژندنې د ناقانونه پلټنو پراو:

تر هغه ځايه چې څرګنده ده د اروپايانو د لومړۍ ډلې تر راتګ (له ۱۲٤-۱۸٤۲م) پورې د آسيا د لويې وچې د لرغونپېژندنې د نقشې پر مخ د لرغونو حوزو له مخې، په افغانستان کې د لرغونپېژندنې په اړه په کيندنو او پلټنو لاس نه دې پورې شوی. د برتانوي سياسي او پوځي نمايندګانو، لکه الکساندر برنس (Alexander Burnes)، کپتان تابوت (he tabot)، متلاند (Maitland)، ويليام سمپسن (W. Simpson) او مورکرافت (Morcraft) په نـامنظمـو کيندنو او پلټنو سره چې په چتيکۍ ترسره شوې، ددې ځمکې د يونانو - بودايي دورې کشف شوي تر ټولو غوره آثار او مجموعې اروپايي موزيمونو او په ځانګړې ډول برټش موزيم ته ولېږدول شوې.

په همدې ډول چارل مسون (Ch. Masson) ډاکټر هونيک بيرګر (Honigberger) او په ښکېل شوی هند کې په وايسراګانو پورې اړوندو مشـاورينـو پـر هغه مهال خپلې ډېرې پلټنې په ننګرهار يا پخواني ناګارهارا، اوسنۍ درونتېه او د سپين غر په لمنو کې ترسره کړې. ددې يادو شـويـو غيـر علمي څيـړنـو زېږنده هماغه د طلايي تبرکاتو صندوقچه وه چې يوولس سـانتي مترې لـوړوالی (۷) سانتی مترې قطر او يو نيم ملي متـر پنـډوالی يـې درلود او د بودا د جسم انځور او د دوو هندي خدايانو! بـرهمـا

او انـدرا انځورونه په هغې کې له چترې ډوله سینګارونو سره تـرسـتـرګـو کېدل، د بیماران له مشهورې ستوپې کشف او د لندن اوسنۍ موزیم ته ولېږدېدل.

پـه بنسټیز ډول چارل مسون د لوی سکندر د تګ لورې د مطالعې په مقصد چې زمـوږ لـه هېواد څخه تیر شوی د هغه د پاتې کېدو سیمې لکه بګـرام، هـډه او نـورې سیمې د آسیـایي بنګال په ورځپانه کې په خپله مقاله کې پـه (۱۸۳٤-۱۸۳۹) کلـونو کې خپرې کړې. په دې ترتیب د لومړۍ ځل لپاره د دې مقالې تر خپرېدو وروسته په هېواد کې د علمي پلټنو لاره پرانیستی شوه. چارل مسون د لومړۍ ځل لپاره د پخوانۍ ګندهارا په بېلابېلو سیمو او هډه یا هیلوی کې چې هېوان تسانګ یې په (۶۳۰) میلادي کې یادونه کړې وه، خپلو پلټنو او څېړنو ته دوام ورکړ. چې په لنډه توګه یې یادونه کوو:

چارل مسون چې کله له خپلو نورو مرستیالانو سره افغانستان ته راسېږي، نو لومړنۍ کتنې یې هماغه د جلال آباد د اوسنۍ بنار د ټولو برخو سروې وې، نو تصمیم یې ونیوه چې لاندې سیمې د یو شمېر ځایي وګړیو په مرسته چې هغه مهال یې د خپلې خاورې د شتمن فرهنګ له اهمیت او عظمت څخه خبر نه درلود او عقیدوي تعصباتو هم هغوی دې ته اړ ویستل چې د دې بې مسـوولیتـه کسـانو سره مرسته وکړي او په اوږدو کیندنو او پلټنو کې هم ورسره شریک وي، وپلټي.

چارل مسون د کتپور د ستوپو په ژورو کې د درونټې په سیمه، پسانۍ (Passani)، بیماران (Bimaran)، ده رحمان (Deh Rahman)، سرک توپ (Surk-tope) د نندارې ستوپې، د ګودرې ستوپې، د بحرآباد او سلطانپور

سيمه، د شتراک غونډۍ، د خواجه لاهوري غونډۍ، د چارباغ ستوپې او د جلال آباد د هډې په سيمه کې چې د اوسني جلال آباد بنار د سويل په دولس کيلومترۍ کې پرته ده هم پرله پسې کيندنو ته لاس وغځاوه. او په ځينو نورو سيمو لکه توپ غونډۍ، د هډې سمځې او له هغو ورهاخوا په خورد کابل، د وردګو خوات او د بګرام په سيمو کې هم په يو لړ فعاليتونو لاس پورې شو او ددې يادو شويو فعاليتونو زېرنده يعنې د رومي، يوناني، کوشاني پاچاهانو اندوګريک او د هندو شاهي د وروستيو واکمنو سکې د متبرکو صندوقچو او ګانيو په ګډون، چې عموماً د هغو غمې به له ياقوتو، زمردو او پيازي لعلو څخه وو، له يو ډول سرېښناکو موادو سره عموماً محلول (ښايي مشک)، د بودا او بودا ستوا د مجسمو تر تولو غوره سرونه، چې تنې به يې تر ځوړ غورځولې له ځانه سره يوړه.

ويليام سمپسن (W. Simpson) په (۱۸۷۹م) کال کې د جلال آباد بنار د سويل په (٤-٥) کيلومترۍ کې د بودايي ګندهارا تر تولو غوره او مهمو ستوپو مېرويزوس او شايسته توپ کې چې مثالونه يې د ګندهارا په حوزه کې ډېر کم تر سترګو شوي دي، خپلې کيندنې پيل کړې او پر نورو سکو سربېره يې (هوويرکی، کچولومر، سبيسانو، دوميانو وترانيو) د کوشانۍ ځواکمن امپراتور کنشکا سکې چې پر شايې د بودا ولاړه مجسمه ضرب شوې ده او د لومړۍ او دويمې ميلادۍ پېړۍ په منځ پورې اړه لري، کشف کړې. جلال آباد چې پخوانی نوم يې ناګاهارا (Nagahara) دی او د هند په بيهار حوزې پورې اړوند د ګوشوار په ډېرليک کې په څرګنده ياد شوی، له هغو ځمکو څخه دی چې دوه ځله پرې هنري او فرهنګي يرغل شوی يو د ميتانو (Mi-tas) يا يفتليانو له

خوا او بل احتمالاً د غوري پاچاهانو په ځانګړې ډول قطب الدین محمد ایبک، او د صفاریانو د وروستۍ لړۍ او د اور لمانځنې په لویه دوره کې.

په همدې ډول د (۱۷۹۳ او ۱۸۶۱م) کلونو ترمنځ عملاً یوه بل کس مکوداګوست د کاپیسا (Kapichi) په سیمو کې پلټنې او څېړنې ترسره کړې. د مکوداګوست له نژدې مرستندویانو څخه یو هم فرانسوی لرغونپوه، ښاغلی ژاکویت دی چې د افغانستان د هغه مهال له دولت سره تر رسمی ټرون د مخه یې د بګرام کاپیسا په سیمو، هډې او د حصار شاهي او کامې په اړوندو سیمو کې سروې او یو لړ معلومات راغونډ کړي دي. نو ویلای شو چې لرغونپېژندنه یې د لومړی ځل لپاره په (۱۸۲٤م) کال کې خو په غیر رسمي ډول د افغانستان په ډیر مهمو او باعظمتو غونډیو او وادیو کې خپله لاره پرانیستې ده او له هماغې نیټې راهیسې یې د پوهنې او پلټنې په حلقو کې خپل ځای وټاکه.

په افغانستان کې د لرغونپېژندنې د علمي څېړنو پیل:

څرګنده ده چې د لرغونپېژندنې علمي څېړنې هغه مهال په افغانستان کې پیل شوی چې افغانستان تر (۱۹۱۹م) کال وروسته یوه خپلواکه سیاسي واکمني درلوده. په دې وخت کې د تیرو حکومتونو ګډودۍ او بیروکراسۍ چې مرکزي او ولسي حکومت یې نه درلود، نژدې له منځه لاړې او له هغو هېوادونو سره چې افغانستان یې په رسمیت پېژندلی و، دیپلوماتیکې، او د دولتونو ترمنځ هر اړخیزې سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکې ټینګې شوې. په دې ډول د فرانسې د هغه مهال دولت لومړنی هېواد و چې د هېواد په شمال او سویل کې یې د خپلو رسمي پلټنو او څېړنو ټرون د افغانستان له دولت سره په (۱۹۲۲م) کې چې له (۱۳۰۱) لمریز سره سمون خوري،

لاس لیک کړ. هغه مهال یې په افغانستان کې د فرانسوي لرغونپېژندونکیو ډله د دافا (DAFA) په نامه یادوله.

په دې زماني واټن کې د افغانستان حکومت او دولت د سیستماتیکو مطالعاتو او د منظمو او سمو څېړنو لپاره دا لاره اواره کړه چې بهرني پوهان په ښکاره او قانوني ډول زمونږ د هېواد د لرغونو سیمو او لرغوني تاریخ په برخه کې په یو لړ کیندنو او علمي پلټنو لاس پورې کړي. خو هغه څه چې د اندېښنې وړ دي دا وو چې د ټرون په متن کې د فعالیت د پراخوالي پولې یوازې تر دېرشو کالو پورې غځېدلې، او ترلاسه شویو آثارو په فرد پورې اړه درلوده او هغه آثار چې سره ورته به نه وو، که له هر ډول موادو څخه به وو، افغاني لوري ته خو هغه شمېر چې سره ورته به وو او له یوه ډول څخه به یې دوه سره ورته څېړې درلودې، نو د فرانسې د دولت د لرغونپېژندنې د ډلې په واک کې یا د هغوی ملکیت به و او ددې ترڅنګ د خپرېدو امتیاز او حق نېغ په نېغه د (دافا) د لرغونپېژندنې په ډلې پورې اړه درلوده.

فرانسوي لرغونپېژندونکیو د پروفیسور الفرد فوشه (A. Foucher) تر ریاست لاندې د (١٩٢٢م) کال د شوي ټرون له مخې ومنله چې په افغانستان کې به په لاندې برخو کې خپلې علمي مطالعې او څېړنې ترسره کوي:

١- په افغانستان کې د ګریکو - بودیک یا (یونانو - بودایی) هنر یا د ګندهارا Gandhara مشهور هنر هر اړخیزه مطالعه.

٢- د بودایي دین سره د ګندهارا د هنر د ګډېدو اړیکې او له یوناني هنر سره یې د اړیکو څرګندول.

٣- د لوی سکندر تر سوبو (فتوحاتو) وروسته په ختیځ کې د هلنیزم د خپرېدو څرنګوالي.

٤ - له افغانستان څخه د ورېښمو د تګ لورې مطالعه.

د پورته یادو شویو موادو او ددې ټرون د منځپانګې په پام کې نیولو سره په (۱۹۲۳م) کال کې چې له (۱۳۰۲) لمریز سره سمون خوري فرانسوي پروفیسور الفرد فوشه د لومړي ځل لپاره د باختر په حوزه او هغه هم په مرکز یانې بلخ یا (بلهیکا) کې څو ځله یو لړ پلټنې او کیندنې ترسره کړې خو دغو هلو ځلو نتیجه ورنه کړه او دلیل یې د بشپړو امکاناتو نه درلودل او همدا رنګه د اسلامي دورې د ودانیو کنډوالی وې چې پر ځای پاتې وې. نو ویې نه شو کړای چې تر کنډوالو وروسته په ژورو کې کار وکړي. اړ شو چې په بلخ کې له کیندنو او څېړنو څخه لاس په سر شي بل ځای ته مخه وکړي او نتیجه ترې واخلي. سره له دې چې د بلخ توپ رستم او د بلخ ارګ د بودایي دورې له مشهورو ستوپو څخه شمېرل کېږي او د چین د شانګهای مشهور سیلاني هېوان څانګ (Hiuan-Tsang) په دې برخه کې پراخه بښودنې لري، خو د نومورې د څېړنو د ارزښت نتایج د هغه لپاره خواشینوونکي وو.

په بناغلي فوشه پسې وروسته، بل فرانسوي لرغونپېژندونکي د هندوکش د شمال د بودایي سیمو له پلټنو څخه لاس وانه خیست او په پیل کې هغه په (۱۹۳٦م) کې چې له (۱۳۱۵) سره سمون خوري د کندز د شمال ختیځ په (۳) کیلومتری کې په هغه ځای کې چې هیوان څانګ په (٦۳۰) میلادي کې هلته د لسو معبدونو یادونه کړې وه خپلو څېړنو ته دوام ورکړ. بناغلي ژوزف هاکن (J. Hackin) تر الفرد فوشه وروسته دویم کس وو چې د سرګردانۍ په پایله کې یې د بودا او راهبینو یا ستوکې (یو ډول شګې، چونه او د سپینو تیږو توتې) کشف کړې او دا هغه مهال د فرانسوي پلاوي د علمي څېړنو لومړني

تبغي وو. دا څو پرې شوي سرونه د ويهارا يو رواق او يا د بودايي معبد استوګنځای يو نه وو. د ټولې سيمې تر څېړنو او پلټنو وروسته جوته شوه چې ددې معبد يا سانګاراما (Sangarama عموماً بودايي معبدونو ته ويل کيږي چې يوزيات شمېر سپېڅلي آثار او ستوپې ولري. او معمولاً دا معبدونه يا سانګاراماګان دوه برخې لري چې د بودايي مشرانو او د راهبينو د استوګنې ځای او د بودايي سپېڅلو ودانيو ځای لکه ستوپې، دهليزونه، ايکونوګرافي يا مذهبي انځورونه او مجسمې له شکلو او نورو سره) د معمارۍ پلان تقريباً مربع و، هرې څنډې يې (٥٠) متره اوږدوالی درلود او سويل خوا يې به يې (٣٠) متره اوږدوالی درلود چې له بل معبد يا له هماغه سانګاراما سره به نښتی و. له نېکه مرغه د ستوکي مجسمې سر چې له دې معبد څخه ترلاسه شوی او په يونانو - بودايي هنر پورې اړه لري، ډېر ښکلی او د ښاغلي پيکارد (Picardes) فرانسوي د طرحې په بنسټ د مجسمې دا سر له څلورمې پيړۍ او د مسيح لومړيو سره ډېر ورته دی. ته به وايي چې د کورنت (Corinthe) د هنري ښوونځي پياوړی اغېز پکې پټ دی.

تر دې وروسته د فرانسوي پروفيسور الفرد فوشه، ښاغلی (ګودار) او (ج- برتو) تر مشرۍ لاندې د هډې په ښلابښلو سيمو په ځانګړې ډول په لويه غونډۍ کې په (١٩٠٣م) کې په کيندنو لاس پورې کړ او ګريکو-بودېک عوره هنري آثار يې چې د هکنيک د ښوونځي تر کلک اغېز لاندې او د پيرګمون (Pergamon- د ليديې سويلي اړخ ته په کوچنۍ آسيا کې يوه سيمه ده) په طريقه وو ترلاسه کړل. په (١٩٣٨م) چې له (١٣١٧) لمريز سره سمون خوري، ښاغلي ژوزف هاکن د بګرام په شاهي ښار کې په پلټنو لاس پورې کړ. د پلټنو

زیږنده د بګرام د مشهورې خزانې کشفول دی، چې په یونانو-رومن، هندي او چینایي آثارو پورې اړه لري چې عموماً د سوداګرۍ او د ورېښمو د لارې له امله له چین، روم، فارس او هند څخه د کوشانیانو امپراتورۍ ته راننوتي او د دې آثارو تر ټولو مهم هماغه د (میل فیوري) کاسې، هندي عاجونه (د فیل غاښونه) چینایي لاکونه او له ګچو څخه د خدایانو او الهو مډالونه دي چې د بګرام له لسم نمبر خونې څخه لاس ته راغلل. نورو غورو آثارو لکه د سیرایس هرکول برونزي مجسمې، هارپوکرات د روم جوړو ښکلو ښیښه یي ګیلاسونو د اندوګریک، یونانو - کوشاني او کوشانو - ساساني دورو یو شمېر سکو، له پخوانیو دولتونو سره د ثقافت او فرهنګي اړیکو په ډګر کې د هېواد زرین تاریخ لا زرین کړ. له دې وروسته ښاغلي (هاکن) په نورو سیمو لکه فندقستان، بامیان، مرنجان غونډۍ او نورو کې یو لړ علمي پلټنې ترسره کړې او د هغه ددې علمي هڅو مجموعه د فرانسوي پلاوي په خپرونو کې د (DAFA) د خپرونو په نامه چاپ شوه. د هغو سرشمیرنو له مخې چې هغه مهال یې د کابل ملي موزیم ته وړاندې کړې، ددې پلاوي د څېړنو په اړه په لاندې ډول څه لیکلای شو:

۱- په (۱۹۲۸م) کال کې یې (۵۰۰) ستوپې او څو بودایي صومعې له خاورو راوویستې.

۲- (۲۳۰۰۰) زره لوی او واړه ګڼي سرونه یې ترلاسه کړل.

۳- د سکندریې د عاجي، کنده کاري او ښیښه یي لوښو، د رومي ګډو فلزاتو او د چینایي غورو لاکونو په ګډون یې د ډېرو ښکلو او مهمو آثارو زېرمه کشف او د کابل موزیم ته یې وسپارله.

بيا بناغلي مونيه فرانسوي په (١٩٤٦م) کې خپلو څېړنو ته دوام ورکړ او د تيږو مجسمې او د سرو او سپنيو زرو صندوقچې يې د شترک له معبد، نادر ناو او نورو سيمو څخه لاس ته راوړې وروسته په (١٩٣٠-١٩٤٠م) کلونو کې د کابل په حوزه يانې د کابل په مرنجان غونډۍ کې د اروانباد اعليحضرت محمد نادرشاه د قبر ترڅنګ، د ګلدرې په بودايي صومعه، شيود کيو او د خيرخانې د کنډو په بيخ کې په لوی سوريايي يا د لمر لمانځنې معبد، فندقستان او سرخ کوتل (١٩٥١) کال کې ډاکټر شلومبرژه په لويو علمي او څېړنيزو کارونو لاس پورې کړ.

د آمو او کوکچې د سيندونو په ګډونځای کې د آی خانم د لوی بنار ګوتې کشف ددې پلاوي يو بل لوی بريالیتوب و، چې د پام وړ خدمتونه يې د هېواد شتمن فرهنګ او تاريخ لپاره کړي دي.

په (١٩٤٩-١٩٥١م) کلونو کې ډاکټر دانيل شلومبرژه (Dr.D.Schlumberga) پنځه ځله د غزنويانو د تمدن په اړه د ډېرو څرګندونو لپاره په لشکرګاه کې د هلمند (Hirmandros) او ارغنداب (Argandois) په ګډونځای کې خپلې کيندنې او پلټنې ترسره کړې. همدا رنګه په (١٩٥١-١٩٥٧م) کلونو کې د بناغلي برتو (J. Barthou) په وسيله د آی خانم يا ماه خانم بنار کشف شو. چې بنايي هماغه د (Oxus) يا آمو سکندريه وي. زيرنده يې د بنار د بنسټ اينبودونکی يعنی کی نی اس او يونانی ډبر ليک و.

د نادعلي په شاوخوا کې په (١٩٤٥م) کال کې د بناغلي ګريشمن له خوا د سيستان د تاريخي بنار تر تاريخ دمخه د برونز په دوره پورې په اړوندو غونډيو سرخدک او سفيدک کې کيندنې پيل شوې او د (١٩٥١م) کال په مني

کې د ښاغلي کنرل په وسیله د منډیگک مهمه سیمه چې د برونزو او نوې تیږې په دورو پورې د اړوندو ودانیو (۱۳) طبقې لري، کشف او آثار یې د کابل موزیم ته یوړل شول. منډیگک د کندهار د اوسني ښار د شمال لوديځ په (۳۰) کیلومتری کې پروت دی. د مور آلهه او ډبر خاورین لوښي یې چې موهنجودارو او هرا په ته ورته دي، ډېر اهمیت لري.

د فرانسوي پلاوي د څېړنو له مخې زمور د ځمکې د شهرت ګونګوسه او آوازه د نړۍ غاړو څنډو ته ورسېده. او له اروپایي او امریکایي هېوادونو څخه ډېر شمېر پوهان زمور هېواد ته راغلل په (۱۹۵۳-۱۹۵٤م) مو کلونو کې نومورې پروفیسور لرغونې تیږې پورې اړندې سیمې او په مجموع کې د تیږې د دورې د سمځو موندلو لپاره په بلخ او کندز کې پلټنې ترسره کړې. او د شمشیر غار په اړه یې په زړه پورې مطالب خپاره کړل او د شمال حوزو ته یې د لرغونې تیږې د عصر په موخه له ملګري پلاوي سره سفر وکړ. او په موستېرین حوزه پورې اړوندې سیمې یې د ایبک په شاوخوا کې چې د توپولوجي له مخې د اروپا له موستېرین سره ورته والی لري تر لومړنیو کیندنو او مطالعې لاندې ونیوې. همدا رنګه یې د خپلو نورو مرستندویانو لکه نیپ ګوین (P. Gohin) په ملتیا په ګنجشکانو دره، قره کمر، درکور، غار مار او نورو ډېرو سیمو لکه د فاریاب ولایت په (آس غار) او ګرزیوان کې هم اوږدې کیندنې ترسره کړې چې موندنې او آثار یې د کابل په موزیم کې لیدلای شو.

له دې سره هم مهاله د (ISMEO) مؤسسې د لرغونپېژندنې ډلې یا د منځنۍ ختیځ او لرې ختیځ د مطالعاتو ایتالوي مؤسسې هم د افغانستان له دولت سره په (۱۹۵۷م) کال کې د علمي څېړنو او لرغونپېژندنې د پلټنو د پیلولو ټرون وکړ. د هغوی د کار پیل په غزني کې و. لکه چې پوهېږو د اوومې

میلادي پېړۍ په دویمه نیمایي کې د زنبیل کورنۍ مشر د عربو د یرغلونو په وړاندې د جنګ و جګړې ډګر وګاټه؛ خو په نهمه میلادي پېړۍ کې صفاریانو چې سیستان یې هم تر واکمنۍ لاندې و، غزنۍ ونیو او دې ښار په لسمه پېړۍ کې د یو مهم، بابرمه، شتمن او تجارتي مرکز حیثیت وموند چې هند یې له فارس سره نښلاوه. د غزنویانو تر ټولو لوی بابرمه عصر د غزنوي سلطان محمود دور (۹۹۸-۱۰۳۰م) شمېرل کېده. او په ختیځ کې یې تر ټولو لویه امپراتوري جوړه کړې وه چې هند، غزني او فارس پکې ګډون درلود. او غزني د نومورې امپراتور پر مهال د علم، فرهنګ او اسلامي ادب پر مرکز اوښتی و. لکه چې د فردوسي شاهنامه ددې لوی پاچا په عصر کې تدوین شوه. د هغوی مهم فعالیت په غزني کې هماغه د دریم مسعود د قصر او د علومو د زده کړې د مدرسې کشف و چې له مرمرینو خښتو، سورۍ شویو او کوفي لیک لرونکیو تیږو او نورو قیمتي آثارو لکه لوښیو او د مهیشامورتي (Mahecamurti) له یوې مرمري مجسمې سره کشف شول. په دې ډول د غزني په سردار غونډۍ په (۱۹۵۹م) کال کې چې له (۱۳۳۱) لمریز سره سمون خوري د پروفیسور توجي او پروفیسور موریس تدي تر مشرۍ لاندې د ایټالوي پوهانو له خوا ارزښتمن کار وشو او بریالی شول چې د بودا ویده مجسمه له یو شمېر بودایي ستوپو او د شېوایي ماهیشوارا سای د مجسمې له سر سره تر لاسه کړي. په حقیقت کې یې د یو دوه ایزمه مذهبي معبد یانې بودایي او شېوایي، د لرغونپېژندنې د پلټنو نړۍ تــه وړاندې کړ. د یادولو وړ ده چې د ښاغلي پوه موریس تدي کار وکــړ او زموږ د هېواد هر تاریخ او کولتور د روښانولو لپاره ډېر ارزښتمن او زړه سواندی و.

همدا رنګه په (۱۳۵۱ - ۱۳۷۰م) مو کلونو کې د پخوانۍ شوروي د لرغونپېژندنې ډلې د پروفیسور سریاندي په مشرۍ د افغانستان د دولت د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره د مرستې ټرون لاسلیک کړ، چې د هغه له مخې یې وکولای شول، د هېواد په شمالي سیمو کې یو شمېر پلټنې او سروې ګانې ترسره کړي. په (۱۹۷۸م) کال کې یې چې کله د تر تاریخ دمخه (برونز) دورې د مطالعې لپاره د یمچک غوندۍ (Yemmchek-ghonday) په پنځه کیلومترۍ په التین غوندۍ (Altien-ghonday) کې خپلو کیندنو ته دوام ورکړ. د باختري دورې پر لرغوني قشر (شوروي پوهان زیاتره دا کولتوري قشر اصطلاحاً د هخامنشي کولتور یا دورې په توګه کاروي) سربېره یوه لویه او ستره طلایي خزانه چې د عددونو شمېر یې (۲۶۱۱۲) آثارو ته رسېده د لویو کوشانیانو د پخوانیو، پاچاهانو، شهزاده ګانو او شهزاده ګیو له شپږو (٦) قبرونو څخه ترلاسه کړه. ددې آثارو په ډله کې یوازې دا نه چې د باختري هنر په تېپ او سبک د یونانۍ ارتمید الهې بودا ترلاسه شو، بلکې د تبریوس (teberios) یوه طلایي سکه، د پارتي میتراداتس، فراداتس یوه طلایي سکه او د هندی ګوپتا یوه نقره یې سکه د پاندي پادا له سمبول او د زمري له انځور سره له څلورم نمبر قبر څخه لاس ته راغلل. په همدې ډول د بنکلو او ظریفو طلایي هنرونو تر ټولو بنکلې بېلګې د (امېل، طلایي تاج، بنګړۍ، والۍ، پایزیب او طلایي تالی) په ګډون چې د استاما (Astama) په واسطه جوړې شوې وې، له یو شمېر نورو طلایي ګانو سره یې د باختر د ځمکې او په ځانګړې ډول د (اسه پوره ګان) یا اوسني جوزجان د هنر او فرهنګ شتمني زیاته کړې. نوموړي آثار په (۱۳۵۸) لمریز کې د کابل ملي موزیم ته ورکړل شول.

د جاپان لرغونپېژندونکي هم په (١٩٥٩م) کې افغانستان ته راورسېدل او د رسمي ټرون په بنسټ يې خپلې کيندنې په (دورمان غونډۍ، چقلاق غونډۍ او د کابل د شمال په (٢٥) کيلومترۍ کې د سکندر په غونډۍ) کې پيل کړې.

د هغوی د څېړنو زېرنده د شمال په غونډيو کې د يونانو باختري دورې د وروستيو او په کوشاني تمدن پورې د اړوندو آثارو تر لاسه کول او په سکندر غونډۍ کې د هندوشاهي دورې او د کوشانيانو د وروستۍ دورې ځانګړي کول وو.

وروسته يې بيا د هېواد په ختيزو سيمو (فيل خانې، درونتې او هډې يانې لامم) کې هم خپلو علمي کيندنو، پلټنو او څېړنو ته دوام ورکړ او د کوشاني دورې سکې، ستيوکي مجسمې، فلزي آثار او د ګندهارا په هنر او نوموړې دورې پورې اړوندې ودانۍ يې کشف او د خپلو کارونو د وضاحت او خپرولو په برخه کې يې چاپي آثار رامنځ ته کړل.

د فدرالي آلمان د بن پوهنتون څېړنيز پلاوي هم په (١٩٤٩ - ١٩٥٠م) کال کې د افغاني سيستان په لرغونې سيمه کې د خپلې سروې او پلټنو ټرون وکړ او د نيمروز ولايت په لرغونو سيمو (چګيتي، تاروسار، اميرانو زيارت، خدايداد کلا، د کمال خان بند شاوخوا د تر اخون په پوست ګاو، زرد ولاخ او جوين کنګ يا پيشه وران) کې يې د پنځو کالو په اوږدو کې خپلو پلټنو ته دوام ورکړ. د هغو څېړنو زېرنده د نيمروز ولايت د اوبه خور د پخوانيو کانالونو (زرکان او زورکان) د سيستم پيدا کول وو، چې د کمال خان له بنده يې سرچينه اخيسته او د نيمروز سيمې يې خړوبولې. په همدې دول يې هم د اسلامي تمدن د ښکلو هنرونو او هم د صفاريانو، سامانيانو، غزنويانو او تيموريانو د معمارۍ په برخه کې يو شمېر پراخه مطالعات ترسره کړل

چې موندنې یې اوس په کابل موزیم کې شته. ددې پلاوي مشري د المان پوهنتون د استاد پروفیسور کلاوس فیشر په غاړه وه.

باید یادونه وشي چې د سیستان د تاروسار سیمه په (۱۳۵۱-۱۳۵۲) لمریزو کلونو کې د ډاکټر ډالس (Dr.Dales) او ښاغلي تروسډل (Trousdal) امریکایي په وسیله سروې او وکیندل شوه. او د غزنویانو او تیموریانو پر اسلامي دورې سربېره یو شمېر ختیین او ډېرین آثار چې ښایی تر اسلامي تمدنه پخواني وي، ترلاسه شول. نوموړی کار اوږدنه وو او په دې سیمه کې نوموړي پوه خپلو علمي څېړنو ته ډېر دوام ورنه کړ.

د افغانستان د لرغونپېژندنې د مرکز جوړېدل:

مخکې له دې چې د افغانستان د لرغونپېژندنې د انستیتیوټ په برخه کې یو لړ لازم مطالب څرګند شي، وبه ګورو چې د افغانستان د لرغونپېژندنې انستیتیوت د خپلواک انستیتیوت په توګه نه، بلکې د کابل موزیم د یوه څېړنیزې څانګې په توګه د (۱۳۳۸-۱۳۳۹) مو کلونو په اوږدو کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کې رامنځ ته شو. بیا د افغانستان د لرغونپېژندنې د انستیتیوټ په توګه نه بلکې د کیندنو د څانګې په نامه د یوې څانګې په توګه چې په ځانګړي ډول یې د نقشې اخیستنې، د راپورونو او ګزارشونو د برابرولو او د ترلاسه شویو آثارو د طبقه بندۍ دندې په غاړه درلودې جوړ شو.

د کیندنو دې څانګې تر (۱۳٤٤) لمریز پورې د موزیم په چوکاټ کې کار کاوه او کومې علمي او څېړنیزې لاس ته راوړنې یې نه درلودې، خو تر دې دمخه ښاغلي غلام محی الدین خان ایوبي یو لړ کیندنې ترسره کړې چې د هغو په اړه وروسته غږیږو.

له هېواده بهر د تحصيل کړيو کدرونو په ترلاسه کولو سره په (۱۳٤۵) لمريز کال کې د لومړۍ ځل لپاره د کابل موزيم د کيندنو څانګه د هغه له تشکيله جلا او د يوه مستقل انستيتوټ په توګه يې په کار پيل وکړ.

انستيتوټ د لومړۍ ځل لپاره خپل څېړنيز علمي کار د ارکيالوجۍ د علم په برخه کې د کاپيسا ولايت د موای د غره په خم زرګردره کې چې د هغه ولايت شمال ختيځ ته پرته ده، پيل کړ. ددې کيندنو ترلاسه شوې نتيجې د کاپيسا په خم زرګر کې هماغه د مها يانې سرواستی وادين په طريقه پورې د اړوند بودايي معبد د لويې ستوپې موندنه وه. چې تر ټولو غوره بودايی مجسمې او د هديه ورکوونکو مجسمې ترې ترلاسه شوی ددې آثار يو شمېر د کاپيسا ولايت سيمه ييز موزيم او يو شمېر يې د کابل ملي موزيم ته هم واستول شول. ددې کيندنو په وسيله يوه طلايي سکه چې ښايي سکه او يا د کاپيسا د سيمه ييزو پاچاهانو له مډالونو څخه وي، ترلاسه شوه چې د کرونولوجۍ (د زمانې علم) له مخې د کوشانيانو د وروستۍ دورې د تاريخ لپاره ډېر ارزښت لري.

تر دغې نېټې وروسته يعنې په (۱۳٤٤-۱۳٤۵) مو لمريزو کلونو کې د همدې کال په ژمي کې د افغاني لرغونپېژندنې پلاوي تر يوې لومړنۍ سروې وروسته د ننګرهار ولايت د هډې په سيمه کې د اوښ غونډۍ په نامه لرغونې غونډۍ تر پلتنو لاندې ونيوه چې هغه مهال د دولت لوړو مقاماتو ددې انستيتوټ هر ډول اوړد فرهنګپال ملاتړ وکړ او د ودې او پرمختګ لاره يې ورته اواره کړه. د هډې اوښ غونډۍ يو مهم معبد يا يوه ډېره ارزښتمنه شانګارامه وه چې د جوړښت اوه او د مذهبي او رياضتي (راهبي) ژوندانه پنځه پراوونه يې وهلي دي. تر (۱۳٤۵-۱۳۵۸) مو کلونو پورې دا غونډۍ د ځوانو

لرغونپېژندونکیو او په ځانګړې ډول د محترم ډاکټر زمریالي طرزي او ددې کتاب د لیکوال په مشرۍ وکیندل شوه چې په پایله کې یې د بودایي بې ساري اسطورو رواق لرونکی مرکزی معبد او د بودایي راهبانو یو شمېر استوګنځایونه د ډېرو غیر منقولو آثارو په ګډون ترلاسه شول. ددې آثارو یو شمېر له ستوکي، ختینو او برونزي موادو څخه جوړ وو. دا معبد د ګندهارا حوزې د مذهبي او هنري رنسانس له ډلې څخه شمېرل کیدای شي چې ساري یې لږ لیدل شوي دي او (۱٤) ځله کیندنو - یې د بودایی هنري - مذهبي دورې تولې پتې او ناحله قضیې حل کړي دي. تر تولو ښه مجسمه چې ته به وایې له کورنت یا پیرګون څخه د ناګارهارا هډې ته راوړل شوې ده هماغه د هرکول ناسته مجسمه ده چې ان په لرغوني یونان کې یې ساری نه تر سترګو کیږي، خو د افغاني او یوناني سحرګرو هنرمند لاسونو په وسیله دا ښکلي هنري امانت د تلپاتې او بې ساري ښېلګې په توګه وړاندې شو. له بده مرغه له (۱۳٦۹ - ۱۳۷۰) لمریز پورې د ستروا ستي وادین دا لوی معبد د متعصبو او تیاره فکرو مخالفینو له خوا ویجاړ او وسوځید.

د افغانستان لرغونې سیمې:

د پوهانو د سروې ګانو او څېړنو له مخې څرګندیږي چې تر اوسه له (۵۰۰۰) زرو څخه زیاتې د پاملرنې او اهمیت وړ لرغونې سیمې په نښه او ثبت شوي دي؛ خو د معلوماتو او اطلاعاتو له مخې د هېواد له ډېرو مهمو فرهنګي او کولتوري مرکزونو څخه یو هم د بامیانو زر سمځې او د هغه ځای بودایي معبد دی چې کوریایي ګرځندویانو لکه (هو - تچاو) او چینایي سیلاني (هیوان څانګ) د اوومې پېړۍ په لومړنۍ نیمایي (٦۳۰) میلادي

کې دا مهم فرهنګي او اعتقادي مرکز ليدلی دی او ددې ځای د دود ، د ژوندانه د ډول او مذهبي طريقو په اړه ډېر او په زړه پورې معلومات وړاندې کوي. د بامیانو دره او د هغې دوه لويې کلاوې چې په دوو لويو او بې ساري مجسمو سره ښکلې وې، د چينايي سيلاني په وينا (۲۰۰۰) لی، يو لی (۵۷۰ متره) ختيځ او (۳۰۰) لی شمال او سويل لور ته پراخې وې. د بامیانو مرکزي ښار (۶-۷) لی شمال لور ته په (آخر کې مخ ځورې دی) او په دې سيمه کې مېشت وګړي او بودايان يې د هنايانا په طريقې پورې اړوند د چوچي چو يا (لوکاراتاوادين) د مذهبي طريقې پيرو ګڼلي دي (هنايانا بودايي کوچنۍ او لنډې طريقې ته وايي) او د بامیانو پخوانی نوم يې فان يان (Fan-Yan) ياد کړی دی چې ترنن ورځې پورې د تلفظ د طريقې او فونيتيکو قاعدو په تغيير سره باميان پاتې دی. او په پهلوي بنداهش کې د بامیکان په نامه ياد شوی دی. پولادي دره، ککرک، د غلغلې او ضحاک ښارونه د بامیانو له ډېرو لرغونو سيمو څخه شمېرل کېږي چې د اورنګزيب او چنګېز په يرغلونو کې يې زښت ډېر زيانونه زغملي دي.

فرانسوي پوهانو، لکه (ګوادر، هاکن او کرل) د (۱۹۲۲-۱۹۳۳م) مو کلونو ترمنځ د سمځو د ديوالونو د انځورونو، د بامیانو د (۵۵) متره او (۳۸) متره بودايي مجسمو په تاخچو کې د سوريا د رب النوع او د بودا د ژوندانه د ښلابښلو صحنو د يو شمېر انځورونو په اړه چې د کوشانو - يفتلي او کوچنيو کوشانيانو له هنره اغېزمن دي او پر دې سربېره پکې د مرکزي آسيا د ګويتا او ګندهارا هنري - ثقافتي اغېز په ځرګنده تر سترګو کېږي، ارزښتمنې څېړنې او مطالعات ترسره کړي دي.

بګرام - ویګرام یا د کاپیسا اوړنۍ پلازمېنه:

لر تولو هغو لرغونو او مهمو سیمو څخه چې تر اسلام څو تمدنه پخوا او د افغانستان د تاریخ دوه مهم، پراوونه یعنی (یونانو - باختري او کوشاني) په ځان کې رانغښتی شي، یو هم بګرام دی هغه څه چې نن د دې مشهور ښار له کنډوالو او پاتې شونو څخه لاس ته راغلي د ودانیو ډبرین بنستونه دي چې د یونانو - باختري او بیا د لویو کوشانیانو د واکمنیو په وسیله اینبودل شوي دي. د بګرام د دې ودانیو او شاهی ښار تاریخ دویمه قبل المیلاد پېړۍ او د دویمې میلادي پېړۍ منځ ګنل کېدای شي.

د ښاغلي رومن ګرشمن په وسیله د بګرام د لرغوني سیمې کیندنو دا مسئله روښانه کړه چې د ښار پلان د یونانیانو د ښار جوړونې په اصولو جوړ شوی دی. او د ښار په دفاعی سیستم کې په بشپړه توګه له سیمه ییزې طریقې څخه ګټه اخیستل شوې ده. د ښار بنسټ د (هیپودام) په سیستم یا د جادې دواړو خواوو ته مربع ډوله ودانۍ د پافمنټ (Pafment) یا د ځمکې په مخ د اوارو تیږو فرشولو په طریقه، اینبودل شوی دی، چې تر (٥٠٠) مترو پورې د هغه مهال د پاتې شونو کنډوالې او سیمې لیدل کېدای شي او د منځني ختیځ له ښارو او ودانیو (دورااروپوس Dura-Europus) سره ډېر ورته والی لري.

ددې لرغونې سیمې له پاتې شونو څخه یو بل هم د (عبدالله برج) دی، چې د دفاعي برجونو او دیوالونو له مخې د سکندر د زمانې قرارګاو ته ورته دي. او لکه د رومن ګرشمن او پروفیسور تولستو (Tolestove) غوندې لرغونپېژندونکیو د څېړنو په بنسټ د بګرام ودانۍ او د عبدالله برج د یونانو - باختري دور د خوارزم د جانباز کلا له ودانیو سره ورته والی لري.

د بګرام ښار د دېوال اوږدوالی (۶۲۰) او پلنوالی يې (۴۶۰) مترو، چې د جوړښت پاتې شوني يې په دريو کونجونو يانې سويل - سويل لوديځ او ختيځ کې په څرګنده ليدل کېږي.

هغه خونې چې سويل خواته دي له ۴۰ x ۴۰ x ۴۰ خښتو څخه جوړې شوي له يوې يانې لسمې نومړې خونې څخه نايابه څيزونه لکه د چين لاک، د هند عاج، د روم بحيرې او مديترانې ميل فيوری کاسې له ګچې مډالونو سره ترلاسه شول.

د لوګر ولايت د خروار لرغونې سيمه:

خروار له تاريخي او لرغوني پلوه ډېره مهمه او شتمنه ولسوالي شمېرل کېږي. دا ولسوالي د لوګر په وروستی شمال لوديځ کونج کې د آسمان څکو غرونو په منځ کې د کاسې په څېر پرته ده. له بحر څخه يې لوړوالی له (۲۷۰۰) مترو څخه ډېر دی. په واورو پټې لوړې څوکې لري. ترځمکې لاندې ډېرې اوبه يې د وادۍ د سيمو د تل ښېرازۍ او تازه ګۍ لامل شوي. د څرخ له ولسوالۍ څخه د (۳۵) کيلومترو لارې تر وهلو او د خرپيچک له کنډوه تر تېرېدو وروسته هغه ځای ته رسېدای شو. د جمشيد تخت او د سوناګر يا لرغوني سګاوند (سجاوند) معبد د لارې په اوږدو کې ښې خواته د لوړو څوکو په منځ کې پروت دی. له تاريخي پلوه يې پخوا د مها ايشواريزم او لمر لمانځنې د طريقې له امله زښت ډېر شهرت درلود. خروار چې د خپل موقعيت له پلوه د (لوګرنا) له ارزښتمنو او مهمو مربوطاتو څخه شمېرل کېږي، د جوړښت او مذهبي عقيدتي ژوندانه له مخې په دريو پراوونو ويشل کېږي. په دې سيمه کې پر بودايي قانون او مذهب سربېره د سرواستي وادين ښوونځي مهايانې طريقه او د

لمر لمانځنې عقیده په دریو ساختماني دورو پورې اړه لري یانې د لومړي دور ودانۍ د وروستیو کوشانیانو د څلورمې او پنځمې پېړۍ په واکمنۍ پورې اړه لري چې د هډې د پنځم او شپږم پرله وډانیو او هنري طریقو سره سمون خوري. دویم پړاو یې په کوشانو - یفتلي (کوشانو - کیداري) واکمنۍ او دریم پړاو یې په کابلي رایانو او پاچاهانو یا هندو شاهانو پورې اړه لري.

د خروار پراخوالی، چې هغه لوی او غټ بودایي ښارګوټی ګنبل کیدای شي، په هډوا د کې یې تر هډې او بامیانو وروسته بل ځای سیال نه برېښي. ختیځ ګرانبیه آثار، معبدونه، صومعې او د بودا ستوا مجسمې، هدیه ورکوونکي، راهبان او ډېرې لویې او غټې ستوپې د یوې طلایي دورې ښکارندوی او په مجموع کې ارزښتمن شمېرل کېږي. د خروار ولسوالۍ مرکزي کلا چې په کافرکوټ مشهوره ده، مور ته د هډوا په شمال کې د یونانو - باختري او لویو کوشانیانو د دورو لوړې، کلکې او محکمې کلاوې او ودانۍ چې په شهروان، کندز او تخار کې جوړې شوې وې را په زړه کوي. د بالاحضار یا کافرکوټ له څرنګوالي څخه جوتېږي چې په یوه ځانګړې دوره کې یې د ګردیز او د میدان ورډک له جلریز سره هماهنګي درلوده. او د پنځمې او شپږمې میلادي پېړۍ د وروستیو کوشانیانو یا کیدار و یفتلي واکمنۍ پر یوه مهال دا مرکزي ودانۍ جوړې شوي دي. د خروار د سراسري پلټنې په صورت کې کیدای شي د بودایي مذهب د مهایانی طریقې یو لوی ښوونځی کشف او د څو غیر منقولو موزیمونو په توګه هغه د هیوادوالو او نړیوالو ننداړې ته وړاندې شي. او د محترم پروفیسور ډاکټر طرزي د نظریې په اساس د هغه تاریخ تر شپږمې - اوومې پېړۍ پورې راتیټوالی شو.

د کابل ولايت د سيدانو تنګي لرغونې سيمه:

د سيدانو تنګی هم يوه ډېره مهمه او ارزښتمنه سيمه ده چې د کابل د سويل لوديځ په (۱۲-۱۵) کيلومتری کې پرته ده. دا سيمه د جوړښت له مخې د غره په لمنه کې پرته ده او هغه د اوبو چينه چې دې سيمې ته څېرمه شته پخوا يې د رياضت ژوندانه ته هڅېزه لاره اواره کړې وه. د سيدانو تنګي لرغونې غونډۍ چې په څلورو پردو يا طبقو ويشل شوې ده يو ډېر مهم بودايي معبد او د خورد کابل، د مرنجان غونډۍ په څېر شهوه کيو، سهاکو، سنجد درې او يخ درې د ثقافتي ژوندانه همدوره ده. ستوپې د پوشته يې هنري (د نريو تيږو يو ډول ښکلاييزه معماري) ودانيو او د راهبينو د استوګنځايونو په ټيپ، رنګه قشر او دېوالي انځورونه لري چې تر اوسه پکې اصولي کيندنې نه دي ترسره شوي. د علمي پلټنو او کيندنو په ترڅ کې کېدای شي د بودايي مهايانې طريقې له لرغونو معبدونو څخه وشمېرل شي.

د دې معبد د جوړښت او د تيکری مطالعاتو له مخې دا معبد په پنځمې او شپږمې ميلادي پيړۍ پورې اړه لري.

سنجد دره:

سنجد دره د ګل درې د معبد انډول د پنځمې او شپږمې ميلادي پيړۍ د معبدونو له ډلې څخه ده. يوه مرکزي او نورې (نذري) دي. د دې معبد دننه يا مرکز کې د پخسې او خښتو رواقونه له ټيپ تيرلوب لينديو او تېرو څوکو سره موجود دي. د هغه د ودانيو پلان په سيمتريک (يا د ۹۰ درجو واله ودانۍ درلودنکی) بڼه او يو بل ته مخامخ جوړ شوی دی. نور کوچنی معبدونه د غونډيو په سر پراته دي. سيمه د خوندیتوب له مخې د پاملرنې وړ ده. کېدای

شي سنجد دره په خورد کابل کې د بودايي مرکز د راغونډېدو تر ټولو لوی ځای وي. د لرغونپېژندنې د مطالعاتو او څېړنو په بنسټ دا سیمه په پنځمې میلادي پېړۍ پورې اړه لري.

کانچک غونډۍ:

دا سیمه د امام صاحب په شهروان کې پرته ده. د جوړښت له مخې د اومې خښتې او پخسې یو ډول طریقه ده. لوړ دیوالونه لري چې د (۲۰ ، ۱) مترو په پلنوالي له ژبې ډوله خټو څخه جوړ شوي دي. د لرغونپېژندنې د مطالعې له مخې د دې سیمې لومړۍ طبقه په کوشاني او دویمه طبقه یې د یونانو - باختري دورې په ودانیو پورې اړه لري.

د لومړنیو اوسیدونکیو د ژوندانه پر مهال ښهرازه وه او کښدای شي د باختر د زرو ښارو له کلیو څخه یوه ودانې وشمېرل شي. د دې لرغونې سیمې ورپه لوديځ اړخ کې دی، چې د لیندۍ په څېر دی، خښتې یې په زنځیرۍ طریقه او په مستقیم ډول لګول شوي دي. د هډې او د بلخ ولایت د شمال غونډۍ د شیوايي معبد د لبرژین انډول ده. دویمه طبقه یې د تیکر په مارپیچ ډوله پاتې شونو او مثلثي سینګارونو مور په کوشانۍ واکمنۍ او د هغې دورې په فرهنګ او ثقافت په بشپړه توګه ډاډمنوي.

قرغان غونډۍ:

د قرغان لرغونې سیمه چې د اکسوس (آمو) د سیندنۍ برید پولې په (٦) کیلومترۍ کې پرته ده مستطیل ډوله جوړښت لري او د یوناني دورې د وروستۍ او د کوشاني دورې د پیل د لومړۍ میلادي پېړۍ د یوې کلا په څېر

ده. ددې کلا د شمالي کونج له يوه لوی دېوال اکروپول يا قصر سره د نښتو اتکل کېدای شي. لوړوالی يې (۱۷) متره او د ودانۍ د شواهدو له مخې يې اوږدوالی (۸۰) متره او مرکزي ودانۍ يې (۱۵) متره پلن والی لري.

د قره بايي لرغونې سيمه:

څه چې په يوناني فرهنګ او ثقافت کې مطالعه شوي او ددې فرهنګ ببلګې د هندوکش په ببلابېلو سيمو او يا د پاروپاميزاد په لويو درو او وادیو کې ليدل شوي، هماغه د يونايانو او بيا د يونانو - باختريانو مړيستونونه دي چې تر (۲۴۵ - ۱۳۰) قبل الميلاد کلونو پورې دا فرهنګي ميراث دوام لري. او ددې ثقافتي طريقې يوه ځانګړنه په يونانيانو او باختريانو کې د سکندر تر راتګ وروسته د مړو خښولو دي چې عموماً مړي به تر ځانګړو مراسمو وروسته د خومانو په منځ کې په (k-۵-۸) ديا متر يا (۱,۵۰) متره لوړوالي او د خولې (۵۰) سانتي مترو په پراخوالی په اندازو په تيکر کې چې بهرنۍ سطحه به د ځينو يوناني مومياييو او د ځينو په سينګاريده، کښښودل کېدل او هغه به يې په آزاده هوا کې د يو پوړيزو او څو پوړيزو کورونو او خونو په منځ کې سمول او د هغه مړي ټول تېر ويارونه به يې په تختو باندې کيندل. نومورې لرغونې سيمه د لرغونپېژندنې د مطالعاتو له مخې څو طبقې جوړښت لري. د نومورو خمونو د ليدو په پام کې نيولو سره چې په منځ کې يې د انسان اسکليټ وي او سرونه يې په ګچو پوښل شوي وي، د نومورې سيمې د جوړښت په دوو دريو طبقو کې دا ببلګې موندل کېږي. د لرغونپېژندنې د مطالعې له مخې داسې سيمې او د تاريخ د تيورۍ څېړنې به د لرغونپېژندنې په اثبات او عمل کې د ارزښت او ډېرو څېړنو وړ وي.

د قره بایي لرغونې سیمه په امام صاحب کې پرته ده او د شهروان له مربوطاتو څخه شمېرل کېږي.

د چیم قرغان لرغونې سیمه:

د چیم قرغان لرغونې سیمه د امام صاحب د شهروان او د امام صاحب بقهار د سیمو ترمنځ پرته ده او د کفلاتون له سیمې څخه (۳) کیلومتره لوېدیځ لور ته واټن لري د یونانو - باختري دورې د نورو ساختماني پلان ګذاریو پر عکس د چیم قرغان د لرغونې سیمې د موقعیت او جوړونې طرز تقریباً بیضوي ډوله دی. چې یو بل ته مخامه دوه ورونه، (۱۲) تقریباً ګرد ډوله او په بشپړ ډول سیمه ییز برجونه او په شمال لوېدیځ کې یوه مرکزي ودانۍ لري. له اکسوس یا امو څخه تر یوه کیلومتره زیاته لرې نه ده. د هغو مطالعاتو له مخې چې برسره شول دا سیمه د کوشانیانو په دورې پورې اړه لري او بنایي چې د لویو کوشانیانو د سیمه ییز واکمن پوځي قرارګاه او استوګنځای وي.

نو له دې امله د هغو پراخو مطالعاتو په پام کې نیولو سره چې د هېواد په شمال کې ترسره شوي او کولای شي چې د تاریخي او تر تاریخ دمخه دورې په اړه معلومات راکړي، او په راتلونکې کې د افغانستان د لرغونپېژندنې څېړنیزې څانګې او یا ټرون کوونکي بهرنیان تر تاکلو شرایطو لاندې په دې سیمو کې خپل عملي او نشراتي کار پرمخ بوځي، نو باوري ده چې تر ټولو شتمن آسیایي تاریخ او فرهنګ به له هره اړخه لمس شوی او په فرد پورې تړلی وي. ځکه نو د دې سیمو پېژندنه په لاندې توګه پیلوو. دا سیمې تر اوسه د هېواد د لرغونو سیمو په اطلس کې هیڅ نه دی لیکل شوي او د لومړی ځل لپاره په ګوته کېږي.

١- د برزنګي لرغوني سيمه: د برزنګي کلي په کوشاني تمدن پورې اړه لري. (٢٩) متره لوړوالی، (٢١) متره پراخوالی او (٥٨) متره اوږدوالی لري. کښتنی طبقه يې تر اسلام دمخه تمدن او پورتنی طبقې يې په اسلامي دوره پورې اړه لري. ترلاسه شوي تيکرونه يې (٢٥) سانتي متره پراخه خوله لري او د (٥- k) له ډول څخه دي.

٢- د برخان غوندی، لرغوني سيمه: کوشانی - اسلامي دوره لوړوالی (٤٠٠) متره اوږدوالی (٤٠٠٠) متره او پراخوالی (١٦٠٠) متره.

٣- د خاتون کلا لرغوني سيمه: د آمو سيند په غاړه پرته ده او په باختري - کوشاني تمدن پورې اړه لري.

٤- نغاري غوندی: دا سيمه د تالقانو د نوي ښار د شمال ختيځ په (٣) کيلومتری کې پرته ده. په کوشاني - اسلامي دورې پورې اړه لري. لوړوالی يې (٤٠٠) متره، اوږدوالی يې (٦٠٠٠) او پراخوالی يې (٨٠٠) متره دی.

٥- د شاه محمود غوندی: په نامه لرغوني سيمه په کوشاني تمدن پورې اړه لري. دا هکی ډوله پښډيو په لرلو د کوشانی - باختری ګډ هنر بريښي. لوړوالی يې (١٨٠٠) متره، پراخوالی يې (١٤٠٠) متره او اوږدوالی يې (١٢٠٠٠) متره دی. دا سيمه د کرکيلې د ځمکو په منځ کې پرته ده.

٦- د چپرکلی: همدا ډول آقتاش غوندی، (ببش باتور)، (ختيان کلی)، (برزنګي افغان)، برهان بای غوندی، قراول غوندی، تيپه ء سيد غوندی، (نغاره) او نور لرغوني سيمې.

٧- د پچير او اګام لرغوني سيمه: د ننګرهار ولايت د اوسنی هډې په سويل کې پرته ده. په کوشاني دورې او د سرواستي وادين ښوونځي د مهايانې

طریقې په (٣-٤) قبل المیلاد پېړۍ پورې اړه لري.

٨- د نیکایانیسا لرغوني سیمه: د لغمان په شمال لودیځ کې د نیکایانیسا لرغونې سیمه چې لوی سکندر هلته د یوناني الهې آتنه په نامه قرباني وکړه.

٩- د بامیانو لرغوني سیمه: د بامیانو د (٥٥) متره او (٣٨) متره مجسمو د شمال ختیځ لرغونې سیمه د شاهی معبدونو په نامه په کوشانی منځنۍ دورې او د مها سنګیکاس (Maha Sangikas) ښوونځي په بودایي طریقې پورې اړه لري.

١٠- د یمچک لرغوني سیمه: د جوزجان د ښار د مرکز د شمال په پنځه کیلومتری کې د طلا تیپه (غونډۍ) څنګ ته د یمچک لرغونې سیمه په کوشاني دورې پورې اړونده ده.

١١- د خوات ورد ک لرغوني سیمه: دا سیمه د بودایی مهاسنګیکاس ښوونځی له ډیرو مهمو سیمو څخه وه او د ددې ځای مشهور ډبرلیک د هویشکا د واکمنۍ د (٥١) کال وروستۍ لړۍ روښانوي.

١٢- د کندهار ښار لرغوني سیمه:

په پخوانیو متونو کې دا ښار د (هیراکوتیس) په نامه او یونانیانو د (اراخوزیا) په نامه یاده کړې ده. د پخسې او اومې خښتې لوی دېوالونه یې د پارتي دورې یو ډول تخنیک دی. او د ددې سیمې لرغوني تیکرونه د یونانو - پارتي دورې ښکارندوی دي چې د علمي لرغونپېژندنې د پاملرنې او څېړنې وړ دي.

١٣- د بغلان - سمنګان د رباتک لرغوني سیمه: پخپله ربات د بلخ او د

آمو سيند راپورې خوا د ورښمو د لارې په اوږدو کې د يوځای کېدو سيمه ده. کله چې به کاروانونه بامیانو او سويلی سيمو ته راکښته کېدل نو دا مهم او باارزښته ځای وو. (٢٣) کرښيز آهکی ډبرليک تر کشف شو چې په آريايي (دري) ژبه او شکسته يوناني رسم الخط په هند کې د سکيتا (Sakita)، کوزامبي او سری چمپا د فتحې په ويار د کوشاني ځواکمن امپراتور کنشکا د واکمنۍ په لومړي کال کښل شوی دی. دا سيمه د لرغونتابه او پخوانيتابه له مخې په قوي اټکل د سره ء کوتل تر معبد يا د اور لمانځنې تر قصر ډېره ارزښتمنه ده. که په دې سيمه کې د عملي څېړنو او اکتشافاتو په مخ کې خندونه رامنځ ته شي، نو لرغوني آثار به د دلالانو په وسيله په يقيني ډول له لاسه ووځي. تر يوناني مېشتي ښار ګوتې آی خانم وروسته به دويمه لرغونی سيمه وي.

١٤- د جمشيد تخت ارزښتمنه آبده او لرغونې سيمه: په جمشيد تخت پورې د اړوندو سيمو او تاريخي آبدې په اړه له لرغوني او تاريخي پلوه تر اوسه ژورې او هراړخيزې څېړنې نه دي شوي. دا تاريخي آبده د لوګر د خروار په مربوطاتو کې د څرخ او خروار ولسوالیو د لارې په اوږدو کې د لوړ غره پر سر پرته ده چې د برهمني شاهانو د سوناګر يا طلايي کلا مشهور معبد هم ورسره د نومورې غره په پراخوالي کې موازي پروت دی. د پاملرنې وړ خبره دا ده چې د جمشيد تخت ودانۍ هماغسې چې د کوشانيانو وروستيو پاچاهانو، چې ببلابېلې سيمې يې تر خپلو سيمه ييزو حکومتونو لاندې راوستې وې او د ودانيو ببلګې يې په شمالي سيمو لکه لرغوني بلخ او د لبرژين غونډۍ کې ليدل شوي، جوړې شوي دي.

١٥- د ننګرهار د للمې او شاهي کوټ او (حصار شاهي) لرغونې سیمه:

للمه چې د اوسنۍ هډۍ یا لرغونې هیلوی په سویلي اوړه کې پرته ده. د پچیر او آګام او د لویې غونډۍ، کافرتوپ - لوی توپ او غونډۍ کلي د لرغونو سیمو ترمنځ د کاسې په څېر پرته ده. یوازې یوه برخه یې څو کاله پخوا په مقدماتي ډول د جاپانۍ لرغونپېژندونکیو له خوا وکیندل شوه. هغه څه چې د دې سیمې او د شاهي کوټ د تاریخ او فرهنګ د روښانولو لپاره ورته اړتیا ده تر اوسه د لرغونپېژندنې هیڅ ډلې لاس نه دی ورورې.

په داسې حال کې چې د ګندهارا د رنسانس تر ټولو ښه طریقه پر هډې او درونټې سربیره باید په دې دوو سیمو کې ولټول شي. باید یادونه وشي چې د ارزښت او څېړنې وړ سیمې پورته در وپېژندل شوې خو د هغو سیمو نومونه یاد نه شول چې پخوا تر پلټنو لاندې نیول شوې وې.

تر ټولو مشهور منقول او غیر منقول آثار:

مخکې له دې چې د منقولو او غیر منقولو آثارو په برخه کې څه ووایو، باید ومنل شي چې که د خپل لرغونې او بابرمه هېواد ټول لاس ته راغلی آثار ولیکو نو له زرګونو پنډو کتابونو او مجلو څخه به واوړي. خو هڅه مې کړې چې د هیواد تر ټولو نادرې او نایابې بېلګې او نمونې یوه یوه ښه دروپېژنم.

تر اسلام د مخه او د اسلامي دورې غیر منقول لرغوني آثار او یادګارونه:

په دې بحث کې په ځانګړي ډول دوه ښکلي او بابرمه آثار معرفي کوو چې

د اسلامي دورې د بې سياله معمارانو، حکاکانو او طراحانو د هنرمندۍ او نوښتګرۍ زېږنده ده او هغه يو هم د غور ولايت د جام (٦١) متره مينار او بل د هرات جامع جومات دی.

د غور يا د جام مينار:

د جام مينار د سلطان غياث الدين محمد بن سام له خوا په (١١٦٣-١٢٠٢م) چې له (٥٤٢هـ) سره سمون خوري، جوړ شوی دی. دغه مينار د افغانستان په منځ کې د بحر له سطحې څخه (١٢٠٠) متره لوړ د دوو نړيو دروپه ګډونځای کې د هندغو درود سيند غاړې ته ولاړ دی. او د (٢٣٠٠) مترو په لوړوالی تړې د غرونو لړۍ راتاو شوی ده. د جوړښت توکی يې پخه خښته، چونه يې او ګچې مرکبات دي چې د مينار په ردو کې کارول شوي. هندسي جوړښت او راوتلو پنجره يی سينګارونو د دغه مينار تينګښت او برم ته تلپاتې والی بخښلی دی. د مينار د منځ کاشي رنګه سينګارونو په ځانګړې ډول ابی د دغه مينار ښکلا او ځلا ته ډېر اعتبار بخښلی دی. د دغه مينار په څنډو په ډېر مهارت سره کوفي ليکلو نه کښل شوي د دغه مينار له دريم پوړ څخه تر آخره پورې يو پله يي خو کلکې مارپيچ ډوله زرينې جوړې شوی چې د ننني فشار يې له يوې نقطې څخه د محوري ميلې په وسيله چې زينو پخپله په طبيعي توګه رامنځ ته کړی، د ناڅاپي پېښو پر مهال ويشل کړي او د مينار د ژغورنې لامل ګرځي. دا مينار د هغه برم او پرتم له امله چې لري يې فکر کوم د خپل ميلان په پای کې (٥ , ٢) ثانيې کوږ شوی دی او د نړيوال فرهنګي مرکز يعنې يونسکو لخوا په نړيوالو فرهنګي ميراثونو کې منل شوی دی.

د هرات تاریخي جومات:

د حدود العالم په کتاب کې چې د (۳۷۲هـ ق) په شاوخوا کې لیکل شوی دي، یادونه شوې، چې (هری لوی ښار او ښار گوتې یې سخت پایدار دي. په هغو کې روانې اوبه هم شته د دې ښار جامع جومات تر ټولو ښه ودان دی) هغه د [۱]هرات آثار) په کتاب کې لیکلی [چې د اسلام تر نېکمرغه بعثت څخه د مخه همدلته (د هرات جامع مزگت) د ببلابېلو د ینونو عام معبد و. په هر ډول هغه څه چې د تېموري دورې له پاتې متونو څخه جوتېږي دا دي چې د دې جومات د بنسټ ډبره د سلطان غیاث الدین بن سام شنسبي غوري په وسیله اینبودی شوې ده او په (۵۸۰هـ ل) کې چې له (۱۲۰۱م) سره سمون خوري، نومورې سلطان دا جومات د امام فخرالدین رازی د وعظ او مناظرو لپاره د لرگین سوی جومات په کنډوالو جوړول پیل کړل. د (خلاصة الاخبار) د مؤلف د لیکنې له مخې سلطان غیاث الدین محمد د دغه مبارک ځای ودانې بشپړه کړه. د آل تیمور په دوره کې لومړی ځل شاهرخ میرزا هغه ترمیم کړ چې د هغه نوم د جومات په یوه تاخچه لیکل شوی دی. د مسلمانو مؤرخینو د لیکنو او روایاتو له مخې د چنگېز د یرغلونو پر مهال دې ودانۍ زیات زیانونه لیدلي او ویجاړه شوې ده. ملک غیاث الدین کرت او بیا ملک معزالدین حسین هغه ترمیم کړې او رغاولې ده. د جومات عمومي جوړه، ددې ودانۍ ډول او سبک له ښکلو کاشي کاري او هندسي نقاشي سینګارونو سره، تېموري هنر ته ورته جوړه شوې ده. ددې جومات د تېموري دورې په زړه پورې لیکنې او ښکلې نقشې د امیرعلي شېر نوایي په فرمایش او د مشهور خواجه میرک تر نظر لاندې ترسره شوي دي. دا بابرمه تاریخي ودانۍ (٤٦٠) ګومبزې، (۱۳۰) تاخچې او

(٤٤٤) لويې ستنې لري. او د معماری، مهندسی او کاشي کاری د لوړ هنر له سيستم څخه برخمن دی. د ساختماني پلان او د معماری له مخې دې جومات ته ورته ودانی د ازبکستان په بخارا او سمرقند او په ځانګړي ډول د الغ بيګ په زيارت کې ليدل کيږي.

د بلخ نهه ګومبزې جومات يا پياده حج:

د هبواد په شمال کې د مسلمانانو لومړنی عبادت ځای، يا لومړنی اسلامي ودانې ده. د اسلامی هنر څيړونکي د هغې د جوړېدو نېټه د (١٠٧هـ) چې له (٧٢٥م) سره سمون خوري يعنې د اتمې عيسوي پيړۍ لومړی نيمايي او (١٧٨هـ) کلونو ترمنځ چې له (٧٩٤م) سره سمون خوري، ښودلې ده. دا جومات نهه ګومبزې او شپږ لويې ستنې لري. د جوړښت او ښکلا ډول يې په بشپړه توګه ځايي او سيمه ييز هنري ميراث دی چې ساساني او باختري هنري اغېز پکې نغښتی دی.

د مرنجان غونډۍ:

د آی خانم تر ښار ګوټې او د ننګرهار د هډې تر اوښ غونډۍ وروسته له مهمو او مشهورو آبداتو څخه يوه هماغه د مرنجان غونډۍ ده. دا لرغونی او تاريخي ځای چې ډېره برخه يې آسمايی او شيردروازې د غرګوټو ترمنځ پرته ده، په ختيزه څنډه کې يې د مرنجان لوی بودايي معبد پروت دی. د مرنجان بودايي معبد چې د کابل سيند شمالی خواته پروت دی يوه لويه مرکزي ستوپه لري چې په پوشه يي معماری او ساختماني طريقه جوړ شوی. او (١١) ځله ترميم او بيا رغېدلی دی. ددې مرکزي ستوپې شاوخوا نورې کوچنۍ ستوپې شتـــه. رواقـونه او د راهبانو استوګنځايونه په سمتريک ډول نه، بلکې د معبد

د څنډو په ډول اتکل کیږي. ددې معبد کیندنه په (۱۹۳۳م) کې چې له (۱۳۱۲) لمریز سره سمون خوري د فرانسوي لرغونپوه په وسیله ترسره شوه. ددې معبد لومړنی جوړښت مستطیل شکله، (۷۸۰) په (۳۰ , ۱۲) متره کې دی چې د جوړښت توکی یې اومه مربعي (۵۰ x ۵۰) سانتي متره خښته ده. منظم برجونه لري چې بنستیونه یې له سیندنیو تیږو جوړ شوي دي. او نیمه لیندیز رواقونه لري. ددې کیندنو زېرنده له اومې څخې څخه جوړ په ببلابېلو رنګونو او تاج ښکلې شوې د بودیستوا دوه په زړه پورې مجسمې دي. د کوشانو - ساساني محدبو او مقعرو طلایي سکو مجموعه چې په یوه سکه یې د بهرام کونشاه نوم کښل شوی، ترې ترلاسه شوې. او پر دې سربېره د فیروز او ساساني هرمز سکې هم په دې مجموعه کې شته. همدا رنګه د سکو یوه بله مجموعه هم لاس ته راغله چې مواد یې عمدتاً سپین زردي او شمېر یې (۳۷۳) ته رسېږي. (۳۲۸) عدده یې په دویم ساساني شاهپور، (۲٤) یې په دویم اردشېر او (۱۱) عدده یې په دریم شاهپور پورې اړه لري. دا معبد د دویم ځل لپاره د افغاني لرغونپېژندونکیو په وسیله په (۱۳٦۲) لمریز کې وکیندل شو او د مرکزي ستوپې له منځه د تبرکاتو صندوقچه راوویستل شوه چې یو شمېر سکې یې درلودې او یو ډبرلیک هم ورسره و چې ددې معبد د ودانېدو نېټه یې څرګندوله. ددې معبد نورې مهمې برخې تر اوسه نه دي کیندل شوي او هیله کیږي چې له هره پلوه په دقیق او علمي ډول پاتې برخې د لرغونپېژندنې د بنستیونو او د کیندنو له اصولو سره سمې وپلتل او د خاورو له ډبریو لرغوني توکي ترلاسه او زموږ پر لرغوني زرین تاریخ د زیاتونو په برخه کې مرسته وکړي.

آی خانم:

يوناني مبشتی بنکلی بنارګوتی آی خانم يا ماه خانم د اکسوس سيند په غاړه يعنی د آمو او کوکچې په ګډونځای کې پروت دی. تر ميلاده (٢٥٠) کاله شاوخوا مخکې کله چې د يودوتس د باختر واکمن شو او د وسلو سيديانو واکمني يې له منځه يوړه او خپله واکمني يې د پاروپاميزاد اوسني هندوکش سويل خوا ته وغځوله، نو د آمو د شمال د کېږدی ميشتو له خوا دا واکمني ګوابنل کېده. پطليموس (Potolomayas) جغرافيه ليکونکي د اکسوس د سکندريې نوم يانې د آمو سيند سکندريه ليکلې ده. بنايی يونانی ميشتی بنارګوتی آی خانم مشهوره سکندريه وي. کله چې مقدوني سکندر د باختر ځمکې او سيمې او په ماوراء النهر کې سغديان ونيول، نو د سکندريو په نامه يې بنارګوتي جوړ کړل. د يونانيانو تر وروستی لړی يعنی په سويل کې هرمايوس او په شمال ختيځ کې تر هيلوکلس وروسته د پنجاب او کشمير يا (بسکواپيرا) کېږدی مبشتو په (١٣٠ ق م) کې په يو لوی يرغل لاس پورې کړ او په شمال کې يې د يونانيانو واکمني له منځه يوړه. نو دا بنارګوتی او شاوخوا سيمه يې يو جغرافيايي واحد و، چې د آمو په ګډون ځای کې د کرکيلې له شتمنی ځخه برخمن و. د کوکچې له سيند ځخه بنارګوتي ته د اويه خور او ويالو طريقه د يونانيانو د اټکل او تجزيې سيستم و. د ای خانم بنارګوتی په دريو مساوي برخو ويشل شوی:

د بنارګوتی قصر چې دري مربع ډوله برجونه لري. قصر لويې مرمري ډبرينی ستنې لري چې برغولي يې د لرغوني يونان د (کورنټ) د برغولو په څېر د ګلونو او پانو سينګارونه لري. دې قصر کې کتابتون، لوبغالی (سپورتي

جمنازیوم) او تیاتر شته او په منځنۍ برخه کې یې د ښار د بنسټ ایښودونکي یعنې کې یې اس (Keuias) قبر دی. تیاتر چې په نیمه قوسي ډول جوړ دی د اومې خښتې دندانې لري. په دوو دورو کې ترمیم شوی یعنی لومړی یرغل چې کېږي مښتو ته ډېر زیانونه رسېدلی وو، د هغوی جسدونه په همدې تیاتر کې خښ شول. دویم یرغل د ښار ګوتې ډېرې برخې ړنګې کړې چې په کنډوالو کې یې کېږي مښتي واوسېدل. او ددې ښار د ودانیو له پاتې برخو څخه یې ګټه واخیسته. موسیقي، ضرابخانه، د لاجوردو او نورو قیمتي ډبرو حکاکي او ډبرو ښو ختینو لوښو جوړول په دې ښار ګوتې کې رواج وو. د دلف ښار مشهوره وجیزه چې د اهکو په تیږه په یوناني لیک دود کیندل شوې او له ښار څخه ترلاسه شوه په هغې کې راغلي دي: «په کوچینیوالي کې باادبه اوسه! په ځوانۍ کې ځان وساته! په بوډاتوب کې ښه ناصح اوسه! په مړینه کې مه غمژن کېږه.» د آی خانم پلټنه له (۱۹٦٤-۱۹۷۷ م) پورې د شلومبرژه په وسیله پیل شوه او پول برنارد فرانسوي ورته ادامه ورکړه. په دې پلټنو کې افغان لرغونپېژندونکیو هم ونډه درلوده.

د سرهٔ کوتل یا د بګولانګو مهادژ:

سرخ کوتل د کابل د شمال په (۲۵۰) کیلومتری کې د پلخمري - مزارشریف د پخوانۍ لارې په اوږدو کې پروت دی. د اور لمانځنې دا لوی معبد او د خدایانو معبد چې د ځواکمن کوشاني امپراتور کنشکا په وسیله یې بنسټ ایښودل شوی، د هغه د زوی هویشکا په وخت کې بیا ترمیم شوی او د بیا رونق لپاره یې د (نوکومزوک) له خوا نوی کوهي کیندل شوی دی. ددې مهادژ کیندنه په (۱۹۵۲م) کې چې له (۱۳۳۱) لمریز سره سمون خوري د

ډاکټر شلومبرژه فرانسوي لرغونپيژندونکي په وسيله ترسره شوې ده. تولتسو او پوزانياس د سره کوتل دا مهادژ پرسيکو، سيمه ييزو (فارسي) او د اناتوليې ودانيو ته ورته ګڼي. د سره کوتل معبد دوه برخې لري يو مذبح او بل نغرى يا ايره تون. د جوړښت له مخې هم په اوږدو د ختيځ او لوديځ په لوريو په دوو برخو ويشل شوى يعنى نغرى او د مذبح وستل (ډبه - صفه) او يا د مذبح سکوى ځاى چې يو بل ډبرين وستل تري راچاپېر شوى او درې رواقونه لري چې د هر يو پلنوالى (۵) متره او د دېوال پلنوالى (٦) مترو ته رسيږي.

نغري يې په څلورو ستنو چې پېنډى يې د يونانو - باختري معمارۍ په طريقه صيقل او تورزل شوي ددې پلاتفورم په څلورو کونجونو کې ځاى پر ځاى شوي. ددې مذبح او نغرو چاپېره له مربع ډوله برجونو سره دېوالونه جوړ شوي او عمومي ور يې څلورو پورونو ته مخامخ چې د تيږو د زينو په وسيله سره نښتي وو، ګڼل کېدای شي. يو شمېر مجسمې چې د کوشاني پاچاهانو او شازيو (شهزادګانو) څېرې يې ښودې په دې مهادژ کې ځاى پر ځاى شوې وې، چې عموماً له آهکي ډبرو (lime stone) جوړې شوې او د اتنوګرافي له مخې هغو په بشپړ ډول باختري سيمه ييز شکل او عرف درلود. نو ځکه د سره ء کوتل د جوړښت پلان د يونانو - باختري دورې له ټولو لرغونو آبداتو سره زښت ډېر توپير لري. د سره کوتل د مجسمه جوړونې هنري اغېز د پخوانيو هند د ماتهوارى پر مشهورو مجسمو او ودانيو په بشپړه توګه څرګند دى. د بګولانګو په سره کوتل کې د اور سوځونې يوه قوي دوره ليدل کېږي او احتمالاً په (۲٤۰) ميلادي کې د لومړى ساساني شاهپور د يرغلونو په وخت کې، چې په شمال يې لاس بري تېرېدونکې بنه درلوده، رامنځ ته شوې ده. پروفيسور

فـوشمن فـرانسوي پوه د سره کوتل معبد د اور لمانځنې معبد نه ګڼي. پـروفیسـور ډاکټر زمـریالی طـرزي، د هبواد مشهور لرغونپوه عقیده لري چې سـور کوتل د کـوشانیانو په دوره کې د سیمه ییز هنر او د ګندهارا د هنر یوه ګـډه بنـه ده چې مثال یې د ماتهورا مشهور معبد یادولای شو. د سرهٔ کوتل (۲۵) کربنیز ډبرلیک چې په باختري ژبه او یوناني رسم الخط کیندل شـوی. په هغه کې د سـوځیدنې (۳۱) کال یاد شوی او یادونه شوی، څرنګه چې وچکالی شـوه او خدایان (اندرا - بو) یعنې هغه ځای ته چې اوبه هلته زېرمه دي، لاړل او نو کونزوک کوهي وکینده چې خدایان راوګرځي او عبادت دوام ولري. دا ډبرلیک د مهرامان په وسیله لیکل او کیندل شوی دی او ژبه یې دري باختری ګڼلای شو.

د لرغونپېژندنې د مهمو تاریخي اسنادو په توګه تر ټولو مهم منقول آثار:

هغه تر ټولو مهم آثار چې تر اوسه د افغانستان د کوشانیانو د مهمې اوه پېړیـزې امپـراتـوری او ښیـرازه دورې د ړښتینې تاریخ او بـرم د تـاکلو په برخه کې تـرلاسـه شوي، دوه درانه او ارزښتمن ډبرلیکونه دي چې د افغانستان د کوشانیانو د لړۍ د تمدن او فرهنګ لویې مبهمې او پټې خواوې یې روښـانه او ددې دورې زرین تاریخ یې ګټور او په فرد پورې تړلی دی. دا اسناد د رباتک او سرهٔ کـوتل هغـه ډبـرلیکونـه دي، چې د کوشاني تاریخ د متن یوه برخه یې تغییر کړه، ځکه نو اړینه ده چې دغه دوه مهم تاریخي سندونه په لنډه توګه وپېژندای شي.

۱ - د رباتک ډبرليک:

دا ډبرليک په (۱۹۹۳) ميلادی کې چې له ۱۳۶۲ هجری لمريز سره سمون خوري د بغلان - سمنګان د رباتک له سيمې څخه د تمپورتي (Timporte) په نامه د يو کس له خوا کشف شو او يليم سيميز نيکولای لندني ليک پيژندونکي ولوست. دا ډبرليک (۹۱) سانتی متره اوږد ۰ (٤١) سانتی متره پلن او (۲۷) سانتی متره پنډ دی. مواد يې آهکي تيږه ده. (۲۳) کرښې لري په اړي ژبه او شکسته يوناني ليک دود کښل شوی دی. متن يې د پخوانيو هند د کشاتريايي پاچاهانو د ښارونو سکيتا، سری چمپا، کوازمبې، يهوديه يا پتالی پوترا پلازمينې د فتحې په ويار ليکل شوې په عامه لاره په احتمالي ډول د رباتک د معبد په وره ء کې ايښودی شوی و.

دا ډبرليک سربيره پر دې چې څرګندوي چې کنشکا د کوشاني لړۍ بنسټ ايښودونکي، د کجولا کدفيزس څلورم وروستی کس دی او ويماتکشا يا ويماتکتو د ويماکدفيزس پلار دی، نه ورور. ځينو پوهانو کنشکا د ويما کدفيزس ورور ګانه او ځينو نورو وروستۍ لړۍ او بله کورنۍ ګڼله. په دې ډبرليک کې د (اري) او اوسنۍ دري ژبې د اصيلو لغاتو ريښې په څرګنده ليدل کيږي لکه: شاه، فر، کنار، رنګ او نور.

دا ډبرليک اوس کابل موزيم کې شته. ډبرليک د کنشکا د واکمنۍ له لومړي کال سره اړه لري.

۲ - د سره ء کوتل ارزښتمن ډبرليک:

دا ډبرليک په (۱۹۵۱-۱۹۵۷م) کال کې د سره ء کوتل د اور لمانځنې د معبد د ودانۍ د کيندلو پر مهال ترلاسه شو. ډبرليک بيا هم په (اری) ژبه دی او (۲۵) کرښې لري چې په يوناني شکسته رسم الخط دی. اوږدوالی يې

(۱۲۰) سانتی متر، پسور یې (۸۱) سانتی متره او پنډوالی یې (۱۵) سانتی متره دی. لیکنه د آهکو په تیږه کیندل شوې ده. د سره ء کوتل د ډبرلیک منځپانګه په لنډه توګه لیکو:

«دا ډبګولانګو د نبکمرغه کانیشکا مهادژ دی، چې هغه لوی پاچا، کنشکا جوړ کړ. څرنګه چې د معبد اوبه ورکې شوې نو مهادژ وچ شو، د اور نبک رب النوع وغنډېد. خدایان (اندرا - بو) ته لاړل [هغه ځای چې اوبه ډبرې دي.]

(نوکونزک) او (کنارنګ) د روح بخښونکی خدای په امر کوهي وکینده ء. که چېرته خدایان تباه نه شي او مهادژ پرېږدي... زه مهربان یم، زه مهره مان برزمهرپور یم.»

دا ډبرلیک په هغه وخت کې د کوشاني څلورمې لړۍ سیاسي - فرهنګي او تولنیزه وضع بیانوي.

د خوات وردګ مشهور ډبرلیک:

په هبواد کې د لویو او منځنیو کوشانیانو په وخت کې چې له خروشتي لیک دود سره هم مهاله له یونانی لیکدود څخه هم ګټه اخیستل کېده، له لرغونو ډبرلیکونو څخه یو هم د خوات وردک ډبرلیک دی چې د تیږې د لوی لوبني په منځ کې د (۱۹۳۸-۱۹۳۹م) مو کلونو ترمنځ چې له (۱۳۱۸) لمریز سره سمون خوري، د چارل مسون په وسیله د کابل د لویدیځ په (۳۰) میلۍ کې ومونډل شو. دا متن د کنشکا زوی هویشکا پاچا ته د (۱۶۲-۱۶۹م) په شاوخوا کې لیکل شوی دی. متن یې داسې دی:

«په (۵۱) کال د ارتمي سیوس د میاشتې په (۱۵) مه کم ګولیه قلفه

اوګره مریکه په خوات کې دېره شوه. او د ښاغلي ساکیامووني د یادګار ودانې یې په ویهاره (معبد) او د ګره مریکه یې په یوه ستوپه کې کیښود ... هغه چې په دې نړۍ کې دي د ځمکې له تله تر آسمانه ... او دا ویهاره دې د مهاسانګیهکه د ښوونکیو په منلو کې وي. »

ارتمي سیوس یوناني میاشت د یوناني کال پنځمه میاشت ده.

د کندهار ډبرلیک په یونانی او آرامي لیکدود سره:

په تیږه یوناني او آرامي لیکنه چې د کندهار د لرغوني یا پخوانې ښار په وره کې د سرک په غاړه د غره په یوه پلنه تیږه کیندل شوې ده. په (۱۹۵۸م) کې چې له (۱۳۳۷) لمریز سره سمون خوري د خاورو له طبقو څخه پاکه شوه. اوږدوالی یې (۵۵) سانتی متره او پسور یې (۴۵-۴۸) سانتی متره دی. یوناني لیکدود یې (۵ , ۱۳) کرښې او آرامي یې چې تر یوناني لیک لاندې دی (۵ , ۷) کرښې دی.

د متن مطالب عموماً د آشوکا یا د هند د موریایي امپراتور (پیوداسا) د دورې اخلاقي نصیحتونه او وجیزې دي چې تر میلاد (۲۵۰) کاله دمخه په شمال او سویل کې د مبلغینو او راهبانو په وسیله د هېواد د سویل د غرونو په پلنو او لویو تیږو کیندل شوی دی. دا ډبرلیک د آشوکا د بودایي کېدو د لسم کال استازیتوب کوي. لنډ متن یې داسې دی:

«د لسو کالو په پای کې پیوداسا پاچا انسانانو ته د دیانت اصول وښودل ... او پاچا یې په ټوله نړۍ کې نېکمرغه کړ. د ساکښانو له وژنو یې ځان وژغوره او ټول د بوډاګانو او پلرونو منونکي شول. »

دربیم څپرکی:

جنگ او د افغانستان د لرغونو آثارو برخلیک

په افغانستان کې د دوولسیزو د جنګ په اوږدو کې د لرغونو آثارو او سیمو له منځه تګ یو شمېر بېلابېل لاملونه لري. تر ټولو لوی فرهنګي غنیمتونه او تاریخي لرغوني پدیدې چې تقریباً زمونږ له لاسه ووتې په دوو برخو یې ویشلای شو.

۱ - د افراطي ډلو تعصبات چې د عقیدې او مفکورې له مخې د لرغوني او نړیوال فرهنګ د رابرسېره کولو مخالف وو. لکه چې په (۱۳۶۹ - ۱۳۷۰) کلونو کې د سخت دریځو بنسټ پالو په وسیله د سر واستي وادین بودایي معبد او د ګندهارا د رنسانس هنر چې د افغان لرغونپېژندونکیو په وسیله د ننګرهار په اوښ غونډۍ یا شتاویرای کې د (۱٤) ځلو کیندنو په اوږدو کې ومونډل شو او د پروفیسور ډاکټر طرزي د نظر له مخې ګریډراکوتا (Gridrakuta) چې په ختیځ په ځانګړي ډول د ګندهارا په سیمه کې یې اصلاً ساری نه درلود، په یو ناڅاپي یرغل نه یوازې په دې معبد کې پراته آثار او مجسمې چې د هلنستیک هنر او پیرګمون ښوونځي اغېز پکې جوت و، مات شول، بلکې ټول معبد یې وسوځاوه. دا له اوومې پېړۍ څخه تر شلمې میلادي پېړۍ پورې د تیاره فکرو له خوا دریم ځل اور اچونه ده چې په دې سیمه کې رامنځ ته کېږي.

د افغانستان پر لرغوني فرهنګ چې د دې خاورې له نیکونو راپاتې میراث

شمېرل کېږي، د لومړني يرغل پيل د ننګرهار د هماغې هډې پر سيمه وشو. ورپسې په خپل منځو ګوندي جګړو کې هغه موزيم چې د ننګرهار په سراج العمارت کې جوړ شوی او ننداړې ته وړاندې شوی و، د هغه د ډيپو په ګډون ولوټل شو. آثار يې چې تر ټولو غوره ستوکي مجسمې او ساختماني هنري بڼکلې ټوټې پکې وې، ټول د افغانستان د لرغونو آثارو د دلالانو په وسيله په ډېرې چالاکۍ له هېواده ووتل.

۲- بل عامل چې د لرغونو آثارو د له منځه تګ او لېږدونې لامل وګرځېد، هماغه بهرني عوامل وو، هغو هېوادونو چې زمونږ له پنځوس زره کلن تاريخ سره يې رخه درلوده. نامسوولو او ناڅمنو وسله والو ډلګيو ته د پيسو په ورکولو، نه يوازې د جنګ په ډګر کې بل اور ته لرګي وراچول، بلکې د هغوی په وسيله يې د افغانستان د وګړيو فرهنګي او ثقافتي ميراثونو هم ترلاسه کړل. او د ببلابېلو نړيوالو مافيايي باندونو په وسيله د ډېرو لېرې پرتو بريدپولو له لارې بهر ته ولېږدېدل.

له دې آثارو څخه د ببلګې په توګه يو د (ويهارا) په V2 رواق پورې اړوند د بودا د مجسمې سر يا د اوښ غونډۍ د سرواستي وادين معبد د راهبانو استوګنځايونه دي. د مجسمې په دريمې سترګې کې د سترو ياقوتو تيږه ځای پر ځای شوې وه. دغه مجسمه د لرغونو آثارو د نړيوالو قاچاقبرانو په وسيله وپلورل شوه.

په دې برخه کې پروفيسور ډاکټر طرزي چې اوس هم د فرانسې پوهنتون د ختيځ هنر په څانګه کې د استادۍ دنده لري، د يونسکو ټولنې ته پراخه احتجاج وکړ او افغانستان ته يې د دغه اثر د بېرته سپارلو غوښتنه وکړه.

د (۱۳۷۱) کال په غوايي کې د نجيب الله د حکومت له ړنګېدو وروسته د وخت ګوندي حکومت ته د واک د لېږد او د کابل ښار د بشپړو نيولو او د واک سياسي ځواک د ويشنې په سر له شخړو او زوروا کيو په ځانګړي ډول د دارالامان په چهاردهي او شاوخوا سيمو کې د راکټونو له توغولو او چاودنو سره هم مهاله د افغانستان د ملي موزيم ګرانبيه آثار لوټ شول چې د تر تاريخ دمخه دورو (د کندهار د منډيګک، کوردرې، د چنار ګنجشکان، تاروسار، سيستان، سرخدک او سفيدک او...) او د تاريخي دورو د تيموريان د لرې تر وروستيو لکه (د يوناني ښارګوټي آی خانم، د ننګرهار د هډې، شترک او پاتياوې، خيرخانې کنډو، د غزني د سردار غونډۍ او بګرام ګرانبيه آثار او د ځينو نورو سيمو لکه غزني آثار او ډيرې اتنوګرافيکې ښلګې او د يونانو - باختري او کوشاني د ورو ښلابښلې سکې پکې شاملې وې. هغه شمېر آثار چې پاتې وو د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور وزارت په هلو ځلو د کابل هوټل ته په غير مسلکي ډول په بيړه ولېږدول شول، خو په مجموع کې په هغه وخت کې د ډې ارتيا وه چې داسې آثار روغ وساتل شي. وروسته د کابل موزيم د ړندو راکټونو په وسيله وسوځېد او د لرغونپېژندنې د انستيټوټ پخوانۍ ودانۍ هم ويجاړه او ړنګه او د ښلابښلو سيمو يو شمير لرغوني آثار د هغو له جملې څخه د ننګرهار د هډې د لرغونې سيمې چې په کار و مخکې له مخکې له هغې ودانۍ ليرې او په يوه خوندي ځای کې اينبودل شوي وای، د ډې جنګ خوراک او ټول لوټ شول. او يو شمير يې د ختينو لوښو په ګډون د خاورو تر ډبريو لاندې پاتې شول چې برخليک يې تر اوسه هم څرګند نه دی. د ملګرو ملتونو د سرمنشي د استازي معاون ښاغلي (موريس ستوريس) هڅو په (۱۳۷۲-۱۳۷۳هـ ش) کې د ډې

لاره اواره کړه چې پاتې آثار وژغورل او خوندي ځای ته یوړل شي.

د غوایي تر کودتا دمخه لرغوني آثار له (۱۳۵۰۰۰) څخه ډېر وو؛ خو د جنګ تر ځوړ وروسته د لرغونپېژندنې او موزیم د کارمندانو په وسیله او د لېوالو مؤسساتو په هلو ځلو تر وروستي راجستر پورې (۳۸۷۰۰) آثارو ته رسېدل چې دقیقه او وروستۍ سرشمېرنه یې د موزیمونو د ریاست له مشرتابه څخه په هغه صورت کې چې دا کار ېې ترسره او د آثارو راجستریشن یې بشپړ کړی وي، ترلاسه کیدای شي.

د جنګ اغېز او د لرغونو آثارو او سیمو له منځه تګ:

په لرغونو آثارو لومړنی برید د (۱۳۷۱) لمریز د مرغومي په دویمه نېټه چې له (۱۹۹۲) میلادي سره سمون خوري، ترسره شو او د اهمیت وړ د ملي موزیم دوه آثار غلا شول او د (۱۳۷۲) لمریز د سختو جنګونو له امله د سوریا ډېره ښکلې او ارزښتمنه مجسمه چې له مرمرو جوړه شوې وه، او ښکلې هندو شاهي جوغه (تاج) چې د یفتلي هنر و فرهنګ اغېز پرې جوت و او په (۱۳۵۸) لمریز کې د خیرخانې له کنډو څخه لاس ته راغلې وه هم، ورکه شوه. د سوریا د مجسمې یوه بېلګه فرانسوی پروفیسور ژوزف هاکن له دې ځای څخه کشف کړی وه چې د دې مجسمې له ښکلا او برم سره یې سر نه خوړ. دې ښکلو مجسمو د یونانو - باختري، کوشاني، د کوشانو - یفتلي د وروستیو پاچاهانو او برهمنشاهانو د نورو بې بدیلو مجسمو تر څنګ د اسلامي بابرمه دورې په ځانګړي ډول د غوریانو، غزنویانو او تیموریانو د دورو خالصو آثارو د نندارې او علمي - فرهنګي تبلیغاتي څېړنو له ډګره ټغر ونغاړه.

بهرنیو دلالانو او قاچاقبرانو د کورنیو پردي پالو برېښو په مرسته دې سوداګرۍ ته لاس راوغځاوه او له سیاسي پوځي کړکیچه په ګټې اخیستنې سره

د منقولو آثارو تر لوټ تالان وروسته ملي موزيم او د ولايتونو سيمه ييز موزيمونه، لکه: هرات، فارياب، مزار شريف، غزنی او نور لوټ او د لرغونو سيمو نامسوولانه او ناوړه کيندنې پيل شوې.

د لومړي ځل لپاره د کورنيو مزدورانو په ګومارلو سره بهرنيانو د افغانستان په ختيزو سيمو، لکه: هډه، لالمه، پچيروآګام، چپرهار، حصارشاهي، کونړونو، نورستان، د سپين غره په لمنو او د سپينې شګې په سيمو برید وکړ او ترلاسه شوي آثار يې د سبلاب په څېر له ځان سره يووړل.

هډه يا هيلوی تر هغه مهاله چې هېوان څانګ په (۶۳۲م) کال کې دې سيمې ته راځي، د هنر او عقيدې د بې بديله شتمنۍ د برم او شهرت په پای کې وه يعنی معبدونه او راهبان يې لږ او د رکود په حال کې ليدلي وو. د زرګومبز معبد، طلايي معبد، د بودا هډوکي او د کبانو ډنډ (د مارانو له خدای ناګوپاله سره د بودا ساکيامونې او ناظرينو لکه ويشنو او نورو فريشتو ملاقات د کب په قالب کې د بودايی پيروانو په عقيده) په اړه يادښتونه لري چې د ګندهارا په هيڅ سيمه کې نه دي تر ستر ګو شوي او له سوات (اوډيانا) بهلول ښار، تکسيلا، مردان، تهاريلي، بنو، مامادړې، او نورو څخه په مخکې کتار کې وو او د هډې هرې سيمې او شاوخوا غير منقولو موزيمونو د افغان ولس د فرهنګ او ثقافت د اصالت په معرفي کولو کې زښت ډېر رول لوبولی دی.

د نړيوالو قاچاقبرانو او دلالانو زمور د هېواد د فرهنګ او تاريخ د صلابت په چارو کې په اوږدو لاس وهنو لاس پورې کړ. د وروستۍ لسيزې په اوږدو کې د هغوی پلان داسې و چې تر (۲۰۰۵م) کال پورې بايد داسې هيڅ سيمه پاتې نه شي چې نامسوولانه او خپل سرې کيندنې پکې ونه شي او آثار يې په کومازونو کې له سويلی برید پولو تېر نه شي.

په مرکز کې د خورد کابل سيمې لکه سنجد دره، يخ دره او سهاک تر برید لاندې راغله. د سيدانو تنگی، د سروبي او د ده سبز سيمې (نازوکي غونډۍ، پايتاوه، کوه صافي او بچه خاک) واړول راواړول شوې او آثار يې لوټ شول. که څه هم د طالبانو ناروا او ناقانونه واکمني او همغاړي يې پرې خبر وو، خو د نشه يي توکو ترڅنګ د لرغونو آثارو په قاچاق او وړلو کې لوړ مقامات مهمه وسيله شمېرل کېده. ځکه نو د فرهنګيانو او پلټوونکيو لپاره په دې سيمو کې د نامسوولانه پلټنو مخنيوی ناشونی و.

د خوست او پکتيا په ولايتونو کې د يو شمېر طالبانو په مرسته له منظم پلان سره سم ځينې سيمې لکه د ګردېز (ميرزکه) چې د سرو اوسپينو زرو او برونزو تر ټولو خالص آثار او هم د اندوګريک او کوشاني د ورو يو شمېر خالصې سکې د ميرزکې د چينې له ژورو څخه راوويستل او نړيوالو مافيايي بازارونو ته د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې يوړل شوې. هغه مهال د دې مسلک د چارواکو هڅې نه محسوسېدې خو د افغاني لرغونپوه نادر رسولي د پراخه ګزارش په وسيله د څه وخت لپاره د ميرزکې د سيمې د پلټنو د لومړي پړاو لپاره مخنيوی وشو. خو د طالبانو په دوره کې د فرهنګي آثارو او پديدو له مخې د هغه ځای اهميت او ارزښت لوټ شو.

پر ميرزکې سربېره بله مهمه سيمه يانې د آی خانم ښارګوټی چې د سکندر له وخته تر هر مايوس او د مينانډر، د متريوس، ايوکراتيد، ايوتدموس او د يودوتوس له وخته په شمال او سويل کې د کوشانيانو تر راڅرګندېدا پورې د يونانيانو استوګنځای و، د افغاني فرهنګ له لوټوونکی سېلاب سره مخامخ شوه. د هغه ځای تر ټولو خالص آثار د ځمکې له تله راوويستل او له هېواده بهر ولېږدېدل. آی خانم د تخار يا (tu-huo-lo) يا (to-ho-lo) يوه سيمه ده چې په

(۱۳۰ ق م) کې د آمو د شمالی خوا د کيږدی ميشتو يوچيانو د يرغل له امله په کندوالە بدلېږي او د کوشانيانو تر تسلط او سمون او د کجولا کدفېزس، ويماتکشا يا ويماتکتويا هماغه (سوترمېگاس) تر واکمنی وروسته بل رنگ و رونق پيدا کوي او ددې (يوناني) تمدن په بنسټ د خپلې وروستی واکمنی تگلاره سموي چې د يونانو په څېر نورو سيمو تەَ د ويارمن او بابرمه تاريخ د خپرېدو په بنه راڅرگندېږي. بهرني قاچاقبران او پلټونکي د کورنيو بريڅو په مرسته او دلالی نه يوازې د آی خانم په ښار گوتې کې، بلکې د تخار په نورو سيمو کې لکه درقد، بهارک، ظلم کلي، ينگي قلعه، دشت قلعه، شهروان، امام صاحب او دشت ارچي کې په فرهنگي تېريو لاس پورې کوي.

يوه بله لرغونې سيمې د پنجشېر او اندراب دی چې په خولو کې جبل السراج پروت دی چې د سکندر د زمانې يو مهمه پوځي قرارگاه وو. په جبل السراج کې د کلا تر اوسه پاتې نښې د سکندر موجوديت څرگندوي. په خواشينی سره بايد ووايو چې د افغانستان لرغونپېژندنه په دې نه ده توانېدلې چې د پنجشېر دره او شاوخوا يې د لرغونو تاريخي دورو له مخې تر پرله پسې علمي څېړنو او دقيقو ارزونو لاندې ونيسی او د افغانستان د لرغونو سيمو په راجسترېشن کې اقدام وکړي. هغه پراخه شبکې چې تر اوسه په لرغونو سيمو کې پلټنې کوي، څرگنده ده چې د سيمې د مخورو ملاتړ ورسره دی. دا پخپله يو حقيقت دی چې د هېواد پالو په منطق کې يې د پټېدو ځای نه شته، او څوک چې تاريخي حقايق پټوي دا پخپله جرم دی.

د خروار ولسوالي:

د افغانستان د فرهنگ او د افغاني خاورې د ورنگن تمدن او تاريخ د دښمنانو په لاس له قربانيانو څخه يوه هم د خروار ولسوالي ده. زه په خپل وار دوه ځله د اطلاعاتو او کلتور د اوسنی وزير ښاغلي رهين په لارښوونه د لرغونو

سيمو د تثبيت او ارزولو لپاره هلته ورغلم. تر اسلام د مخه او د اسلامي دورې د مؤرخينو په وينا خروار د هغې کاروانې لارې په اوږدو کې يوه څانګه وه چې له ويهنډ (د صوابۍ ضلعې ننې هنډ) او له هغه ځايه د کراچۍ د پتالې سره نښته. خروار د لمر لمانځنې د مشهور او لوی معبد سره پيوست د هغې پراخې او شنې درې په اواره کې پروت دی چې سويل خواته يې د پکتيا او غزني بريدپولې او د زرمت غرونه راتاو دي. لکه چې هيوان څانګ په اوومه ميلادی پېړۍ کې د شونا ياسونا معبد يادونه کوي، هغه د (تسو - کو - تا) سيمې له مهمو ځايونو څخه ګڼي چې لوګر يا لوګرنا، غزنی او ګردېز پکې راځي، همدا ډول سوناګر يا سګاوند او شاوخوا يې (د جامع الحکايات) مؤلف محمد عوفي يې تر دريمې او څلورمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي پورې چې د عمرو ليث صفاري او د تګين شاهانو (د افغانستان د کوشانو - يفتلي اختلاط د کوشانيانو د څلورمې کورنۍ تر رنګېدو وروسته يې د سيمه ييزو پاچاهانو په توګه د افغانستان په شمال او سويل کې واکمني کوله، مهال دی، په څرګنده يادونه کوي. هېوان څانګ د څو سوو معبدونو او له زرو څخه د زياتو راهبانو يادونه کوي چې په بودايي فلسفه کې د نجات د لويې لارې يا (مهايانا) پيروان دي. په يقيني توګه چې د نومورې سيلاني دا يادونه په بشپړه توګه د خروار يا (ګروويهار) په سيمه اطلاق کېږي. د عمرو ليث صفاري په زمانه کې يوازې د سګاوند معبد ويجاړ نه شو، بلکې په يقيني توګه د خروار بود تونونه (بت خانې) او صومعې هم ماتې او رنګې شوې او ډېرې سيمې يې وسوځېدې. کله چې د تيراکنډو د سرک د ښۍ لور د خواجه انګور له غاښې د خروار د بودايي ښارګوټي کافرکوټ منظره ولیدل شي نو ته به وايې ګوندې د بوديزم د فلسفې تر تولو لوی ښوونځی و. د تيتو، اوارو پراخو غونډيو دا سيمه انسان حيرانوي، خو هغه څه چې د

خواشينې وړ دي هغه بې رحمانه او خپل سرې کيندنې دي چې د هرې غونډۍ په منځ کې چې پراخوالی يې (٢٥-٣٠) کيلومتره دی، ترسره شوي. بې بديل ختين او ستوکي آثار چې د هنرمند افغان د سحرګرو لاسونو د هنر او زمرد بې ساري معمارۍ ښکارندوی وو، د نړيوالو قاچاقبرانو او مافيا په وسيله ولوټل شول. که چېرته د بودیزم د مذهب د سرواستي وادين د مهاياني طريقې پيروان د اتوم او سپوږمکيو په دې عصر کې ژوندي وای، نو ځان يې د هغه ځای د پاتې شونو په اور سوځاوه.

د نتيجې په توګه په لرغونو سيمو کې د قاچاقبرانو او دلالانو په وسيله د نامسوولانه او خپل سرو کيندنو يادونه کوو، چې له بده مرغه د علمي او سيستماتيکو څېړنو چارو ته يې کوم ځای نه دی پاتې:

١- هډه، للمه، پچيروآګام، چپرهار، حصار شاهي، کونړونه، وت، نورستان وايګل دره، د لغمان اليشنګ او الينګار درې.

٢- سنجد دره، سهاک، يخ دره، شيوه کي، د لوګر سګاوند، د لوګر جمشيد تخت، خروار او د څرخ ولسوالي، سيدانو تنګی.

٣- د ګردېز ميرزکه، د آريوب ځائيو سيمې، سپينه شګه، د سيد کرم سيمې.

٤- خوست، غزنی، زابل او د سيستان په چګيني کلا پورې اړوندې سيمې، د وزدولاغ، پوست ګاو، اميرانو زيارت.

٥- د بامياني سره دره، فولادي، ککرک، ضحاک ښار او د يکاولنګ لرغونې سيمې، سيغنان او د هزاره جاتو اوسنی کهمرد.

٦- ای خانم، دشت کلا، د شورتوغي شمالي برخې، ظلم کلی، درقد، د رستاق او خواجه غار سيمې.

۷- د شهـــروان سيمې، د زر ښـــار لـــرغونې غونډۍ، امام صاحب، د کندز چاردره.

۸- د ريـوت دښتـــه، پـريـان، آستـانـــه، د کـاپيسا د مـواي غره لمنې او د جبل السراج سيمې.

۹- پـــه ســـراى خواجه کې کافر سرخ، چينې غونډۍ او سکندر غونډۍ.

۱۰- د کوه صافي نازوکي او بچه خاک غونډۍ، د نادر ناو سيمې، د پايتاوې او توپ درې ځينې برخې.

۱۱- د کابل خندر غونډۍ، د سروبي ولسوالۍ د بازارها خوا سيمې.

۱۲- د بلخ زور ښـــار، د فـــريـــدون کلا او د نيمروز ولايت د پشوران کنګ کنډوالې.

۱۳- د غور لرغونې سيمې، فارياب، سمنګان، د رستم تخت شاوخوا.

۱٤- يمچک غونډۍ، او د طلا غونډۍ پخوانۍ کيندل شوی سيمه، او د جوزجان د شمال لرغونې غونډۍ.

۱۵- د وګړيو په وسيله د دلبرژين غونډۍ د کيندنو دوام.

۱٦- د بګرام د سيمې د عبـدالله برج د دېوالـونـو سويلـي برخې او استحکامي برجونه.

۱۷- د بـاميـانـو د دوو (۵۵) متـري او (۳۸) متري بـوتـانـو د لرغـونـو مجسمو په ګډون د باميانو د سمځو د دېوالي انځورونو ويجاړول او نورې ډيرې سيمې چې تر اوسه يې بشپړ معلومات په لاس کې نه لرو. يقيني ده چې د لرغونو آثارو د غلو له شره هيڅ سيمه خوندي نه ده پاتې. هيله من يو چې د صالحو ارګانونو او مسوولو چارواکو له خوا په دې برخه کې کلک او لازم تدابير ونيول شي.

څلورم څپرکی:

د لرغونو سیمو څارنه او د لرغونو آثارو د لوټلو د مخنیوي لاره

څرګنده ده چې لرغونې سیمې په دوو طریقو څارل کېدای او د آثارو د راسپړلو مخه یې بندېدای شي:

۱- له مسوولو ارګانونو سره د ولس بې دریغه مرستې.

۲- په لرغونو سیمو کې د یوې ملي فریضې په توګه د هېواد د تاریخ او ویاړونو د ساتنې لپاره د وسله واکو ځواکونو (د کورنیو چارو، دفاع او استخباراتو د وزارتونو) ځای په ځای کول.

د مسئلې په توضیح کې ویلای شو چې پورتنۍ دوه اصلونه په بشپړه توګه اصولي دي او له هره اړخه کولای شي چې نه یوازې آثار، بلکې لرغونې سیمې او مهمې او ارزښتمنې پدیدې په بشپړه توګه امانتې وساتي؛ خو دا دوه اصله هغه مهال رامنځ ته کېدای شي چې تولنه او وګړی د پخوانیو وختونو د لرغونو آثارو او بایللي فرهنګ په منځپانګه، ارزښت او پایښت پوه شي چې د نیکونو قیمتي میراث یې دی. او د هغو راپاتې شویو فرهنګي میراثونو په لیدلو د نړۍ د هېوادونو په منځ کې خپل ملي هویت او د خپلې خاورې تاریخي قدامت په پرله پسې تاریخي زمانو کې درک کړي. لکه چې مخکې مو هم یادونه وکړه یو شمېر کسان شته چې د لرغونو آثارو له قاچاقبرانو سره ملګرتیا کوي او د

هغوی عمده دليل ښوزلي، د سواد سياسي پوهې او اقتصاد نشتوالي دی. لکه چې دا منو چې د ولس بې دربغه مرستې ته اړتيا ده نو ولس څرنګه کولای شي چې دا مرسته وکړي او د دولت له مزاج او فرهنګي سياست سره سم چلند وکړي؟ مسوول مقامات لکه د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د لرغونپېژندنې انستيتيوټ او د موزيم چارواکي دنده لري چې د عامه ذهنونو په روښانولو، د فرهنګ د بې بديله ګټو او خوندونو او د قيمتي فرهنګي ميراثونو په ساتنه کې په ښلابښلو ذريعو د وسله والو ځواکونو تر کارولو دمخه د لرغونو آثارو او سيمو د ژغورنې لارې ولټوي. يقيناً چې د ربښتينې پوهې او پراخو تجربو نشتوالی او د بر عقيدوی تعصبات د لرغونو سيمو او آثارو د ساتنې او ژغورنې په لاره کې ستونزې رامنځ ته کوي، خو بايد دا ومنو چې بايد له خبرو تېر شو او خپلو فرهنګي انساني اهدافو ته د عمل جامه واغوندو. او په پرله پسې توګه هغه لاره ووهو چې د موخې تللې ده. نو له دې امله دا اړخ ښايي تبليغاتي او ترويجي جنبه ولري، په کار ده چې د ټولنې د مهمو بنسټيزو وسيلو څخه کار واخلو لاندينې مواد د يوې طرحې په توګه د لرغونو آثارو او سيمو په ژغورنه او ساتنه کې ګټور ثابت ښای شي:

- په ولس کې د لرغونو او فرهنګي آثارو د اصالت په اړه د تبليغاتي ليکنو پانې خپرول.

- د افغانستان د فرهنګ د دښمنانو د شومو موخو او د لرغونو آثارو د غلا له امله د اوښتو زيانونو په ګوته کول.

- له مخورو، ملايانو، پوهو کسانو او د قومونو او قبايلو له مشرانو سره پرله پسې غونډې.

- د ديني علماو او روحانيونو په وسيله د شرعي او ديني بنسټونو له مخې د هېواد د نيکونو د قيمتي ميراثونو د ساتنې په اړه د خطبو او ويناو وړاندې کول.

- د ولس په منځ کې د هېواد د فضايلو، ويارونو، بریاو او ملي هويت تثبيت د افغانستان د لرغوني فرهنګ د مادي او معنوي آثارو د موجوديت پر بنسټ.

- د جمعې ارتباطي رسنيو له لارې په پرله پسې توګه د مصورو او منثورو مقالو او مضامينو تنظيمول.

- د هغو څېړو او اشخاصو په ډاګه (رسوا) کول چې لرغوني آثارو او ملي شتمنۍ د خيروونکي ځناور په څير تر ستونې تېروي.

- د فرهنګي ميراثونو او تاريخي آثارو او د ساتنې د قانون توضيح د چاپ او د سمعي او بصري تبليغاتو له لارې.

- د چارواکو په وسيله د ولس لپاره په عملي او عيني داوطلبانه ترغيب سره د سيمو ساتنه او ژغورنه.

- د هغو چارواکو په وسيله چې په دې برخه کې مسلکي - وظيفوي مسوولیت لري په کلیو، باندو او ولسوالیو کې د هېواد د ویاړمن تاریخ او هرې لرغونې سيمې معرفي کول.

- د سيمو تاکل او په ګوته کول، ساتنه او پاملرنه يې سيمه والو ته سپارل او له هغو نه د مسوولیتونو کلکه پوښتنه کول.

- والیان، مستوفیان، پوځي قوماندانان، ملکان او مشران دې مکلف او مؤظف شي چې له تاکلي پروګرام سره سم ژر ژر سيمې وګوري او په ولایتونو

کې د اطلاعاتو او کلتور د ادارو په وسيله د سيمې د حالت په اړه واکمنو مقاماتو، په ځانګړې ډول اطلاعاتو او کلتور وزارت ته راپور وکړی.

- د ولايتونو ښاغلي والیان د لرغونو آثارو او سيمو د څارنې او ساتنې لومړنی مسوول کسان شمرېل کېږي. څرنګه چې د هېواد بريدپولې د ملي ناموس د ساتنې، د خاورې د تماميت او خپلواکۍ لپاره څارل کېږي، د تاريخي او لرغونو ميراثونو ساتنه هم همدغه حکم لري چې د هېواد د نورو مسئلو په برخه کې مطرح کېږي.

۲- وسله وال ځواکونه له دې امره مستثنی نه دي، دفاع، د کورنيو چارو او استخباراتو وزارتونه د پوځی عظمت او پايښت په پام کې نيولو سره کولای شي د ټولنې د قرارګاو په رامنځ ته کولو، چې ځانګړې بودجه ورته ښه شوې وي، دا ملي دنده پر غاړه واخلي او د هېواد او ملي نوامیسو د ساتندوی يوه سرباز په توګه تر وروستۍ سلګۍ پورې د هېواد په لرې پرتو سيمو کې دا مهمه دنده ترسره کړي. د تاريخي ميراثونو د لوټوونکيو خاينو څېرو په نيولو او رسوا کولو کې لټې ونه کړي او په کلکه توګه يې مخنيوي وکړي.

د ملی دفاع، کورنيو چارو او استخباراتو وزارتونه دې په لرغونو سيمو کې د قوماندان سالارۍ او خپل سرو واکمنيو مخه په قوانينو او عملي احکامو سره ونيسي او د ولس په منځ کې دې ملي او ولسي يووالي ته د ملي نوامیسو په ساتنې سره چې لرغوني آثار او سيمې هم پکې راځي، عملي جنبه وبخښي.

هر افغان هغه مهال د نيکه پګړۍ په ويار سره په سر کښنودای شي چې د نيکونو له ميراث يا پاتې شونو سره وفا وکړي او بې ځنډه پر هغه لاره لاړ شي چې هغوی پرې تېر شوي دي.

د لرغونو آثارو او سيمو د ساتنې وروستۍ پړاو د لرغونو آثارو د ساتونکيو لپاره د جزايي او مکافاتي قانون طرح او نفاذ دی، چې شرعي او د مدني قوانينو جزايي برخې پکې راځي او دې قانون ته په پاملرنې سره له دې قانون څخه د سرغړونې پر مهال له تبعيض او له عاملينو سره له جوړجاړی پرته هغوی ته د اعدام تر بريده بايد سزا ورکړی شي.

وزارتونه، تحصيلي او تعليمي مؤسسې، پلان، فوايد عامه، ښاروالياني، کانونه او صنايع د مرستې په دې ګډ فعاليت شريک دي، د ښوونځيو او پوهنتونونو په تدريسي نصاب کې دې د فرهنګي او لرغونو آثارو د پېژندنې او توضيح په توګه مضمون ځای شي، چې د دې تاريخي امانت د ساتنې او پوهېدنې بنسټ له کوچنيوالی څخه تر ځوانۍ او وروسته د دندې پر مهال د هر محصل او متعلم په افکارو کې د ملي وثيقې د يوې پديدې په توګه انځور شي.

د افغانستان د فرهنګ په اړه مينه والو هېوادونو پاملرنه را اوړل:

د لرغونو آثارو او سيمو د ژغورنې، پېژندګلو، ساتنې او بيارغاونې يوه لاره د نړيوالو کنفرانسونو او سمينارونو جوړول دي. سمينارونه کولای شي د هېواد اوسنيو ستونزو تياره کونجونه د لرغونو آثارو، سيمو او توکيو د ساتنې او بيارغاونې لپاره روښانه کړي.

نړۍ همدا اوس لېواله ده چې د افغانستان د آثار او فرهنګ په لور، چې نور نو په ټوله بشري نړۍ پورې اړه لري، له افغانانو سره اوږه په اوږه او ګام پر ګام روانه شي.

د فرهنګي ميراثونو د ساتنې او بيارغاونې نړيوال سمينار چې د

(۲۰۰۲م) د مې له (۲۶-۲۹) مې نيټې پورې په کابل کې جوړ شو، زمور د هېواد د فرهنګي ميراثونو د ساتنې لپاره د مرستې لومړنی ګام و چې د المان، فرانسې، يونان، جاپان، پاکستان، آغاخان مؤسسې، د افغانستان د علومو اکاډمۍ او کابل پوهنتون کورنيو پوهانو يکې فعاله ونډه درلوده، د موزيم د بيا رغاونې، ترميم او پراختيا او د تاريخي آبداتو په برخه کې پربکړې او د پراخو مادي مرستو ژمنې وشوې چې د هغو له جملې څخه د جام مينار ساتنه او د نړيوال فرهنګي او تاريخي لوی ميراث په توګه ددې آبدۍ منل د اهميت او ويار ور دي. دا پريکړه او تصويب د توکيو په کنفرانس کې په رسمي توګه اعلان شو او سند يې د افغانستان دولت ته وسپارل شو. نو د مادي مرستو د پراختيا او د هېواد د فرهنګي ميراثونو د ساتنې او بيا رغاونې لپاره د مسلکي کدرونو د روزلو په برخه کې کولای شو د لاندنيو لېوالو او ملګرو مؤسسو څخه د متقابلو مرستو هيله ولرو.

۱- د يونسکو د سازمان په څرګندو هڅو او مرستو سره د هېواد د نورو تاريخي آبداتو آثارو او شتمنيو ساتنه او د سروې، پلتنې، پلان جوړونې او د عملي کار لپاره د بهرنيو هېوادونو کارپوهان رابلل.

۲- د هېواد د لرغونو آثارو د پېژندګلو او ساتنې لپاره د پانګې ورکوونکيو هېوادونو د متخصصينو او هر ډول مالي مرستو جلبول.

۳- له هېواد څخه بهر د موزيمدارۍ، ارکيالوجۍ، آبداتو او مهندسۍ په برخه کې د همدغو څانګو جوړولو ته د چمتووالي لپاره د متخصصينو افغانی کدرونو روزل.

٤- د هېواد د فرهنګي او ثقافتي پرمختګ په لاره کې د علمي او

مسلکي څېړنو او پلټنو لپاره پوهانو او فرهنګي تجربه کارو ته بلنه ورکول.

۵- په نړیوالو کنوانسیونونو او (ICOMOS) کې د افغانستان د فرهنګي مرکز د شاملولو په اړه د پانګه ورکوونکیو هېوادونو ملاتړ.

٦- د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته د لرغونو آثارو او سیمو د ساتنې لپاره ځانګړي وړاندیزونه.

۷- د هېواد د بریدپولو د بندولو په برخه کې د ملګرو ملتونو په وسیله د لېوالو هېوادونو او نورې نړۍ مرستې.

۸- په بندرونو او بریدپولو کې د تجارتي مالونو د محصول د مرکزو او ګمرکونو کلکه څارنه.

۹- له امنیتي مرکزونو څخه په لیرې پرتو سیمو په ځانګړي ډول په ولایتونو کې هوایي ګزمې.

۱۰- د لرغونو آثارو او سیمو د ساتنې په برخه کې د نوي قانون نافذېدل.

۱۱- هغو هېوادونو ته بلنه ورکول چې پخوا یې د افغانستان د لرغونپېژندنې په برخه کې د سیمو د پلټنو او کیندنو ټرونونه لاسلیک کړي وو. دا کار په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د یونسکو په ګډ تصمیم سره ترسره کېدای شي.

موزیمونه او شتمنۍ یې:

مخکې له دې چې د موزیمونو او د هغو د اړوند آثارو په اړه خبرې وشي باید یادونه وشي چې موزه یا موزې یا په ننني تلفظ موزیم (Museum) له دوو کلیمو څخه رغېدلی دی او په لومړي سر کې موزیمونه د الهو او ارباب الانواعو د الهام ځایونه وو. وروسته په کلیسا و اطلاق شوه چې په هغو کې به د حضرت

عيسی (ع) او بی بی مريم مجسمې اينبودای کېدې او د هغو د ښکلا لپاره به هنري پديدو تر ټولو ښه ظرافتونه هلته ښکاره کېده. يعنې (موز - ای - اوم) د ښکلاو ځای (Mus-e-um) ځکه چې تر ټولو ښه او مهم مذهبي اسناد، دعاګانې او ډېر نور سپېڅلي شيان به د دريمې ميلادي پېړۍ په وروستيو کې، چې د روم د امپراتور والريانوس د سلطنت وخت و، ځای پر ځای کېدل.

د موزيمونو د جوړولو او پيل طرح عمدتاً د لرغوني روم او يونان پانګوالو رامنځ ته کړه، ځکه په هغه وخت کې پخوانی او انتيک شيان د فيلسوفانو او هم د پخواني اتيک (Athic) هنر مينه والو راغونډول او د هغو د پيدا ينښت او ژرنګوالي په برخه کې به يې بحثونه او مناظرې کولې. د موزيولوجۍ يا د موزيم داری د ژېړنيزو علومو له مخې د لرغوني عصر وګړيو يا اتيک دورې په دوو غورو موخو پخواني او لرغوني شيان ساتل او د تېرو يادګارونو د مجموعو په ښه به ورسره وو:

۱- د پخوانيو د عزتمندۍ او ويار او يا د هماغې کورنۍ او قبيلې د برومندۍ لپاره.

۲- د نيکونو د ميراثي پديدو په توګه.

نو د موزيمونو د پرمختګ د پيل بنسټيز بدلون په لرغونو ځمکو لکه يونان، روم، اناتوليه، لرغوني مصر او بين النهرين کې و. او د لومړي ځل لپاره په ربښتيني توګه د موزيم بنسټ په مصر کې د پطليموس (Potolomyus) په وسيله په (۳۰۰ ق م) کې کېښودل شو.

د يونان مشهور مؤرخ پلينې (Plinius) يادونه کوي چې د پتيراس (Pithras) په نامه يو کس د (۱۰۰۰۰) زرو دينارو کاسې وپېرلې چې په هغو

کې د اوديسيوس (Odysseus) او ديوميدس (Diomides) ترمنځ د جنګ د ډګر انځور کښل شوی و، او د يوه هنري شهکار په توګه او د پهلوانانو او خدايانو د زور ازمايلو په بڼه يې خپل ميتولوجيک او اسطوره يې رنګ پخپله د لرغونو آثارو د ساتنې مفکوره او طرح رامنځ ته کړه او د موزيم مفکوره له هماغه ځايه د لومړی ښسټ په توګه پيل شوه. له (١٥م) پيړۍ څخه تر اوسه د نړۍ د زرګونو موزيمونو ترڅنګ، چې شمېر او نومونه يې په دې مجموعه کې نه ځايېږي او جلا مجلو ته اړتيا لري، له (١٣٠) څخه زيات په فرد پورې اړوند او بې بديله موزيمونه شته. د ساري په توګه د فرانسې د ګيمي، برټش موزيم، ارميتاژ، د ايتاليې فلورانس، د پاريس لوور، بالتيمور متروپولتيان نيويارک، د هند ملي او دولتي موزيم او د استانبول موزيمونه يادولای شو. چې تر دغې نېټې وروسته موزيمونه د بېلابېلو برخو په بشپړتيا او پرمختګ کې د نړۍ په لومړي کتار کې ولاړ دي او د بشري او طبيعي تاريخ بېلابېل ډګرونه په ځان کې رانغاړي.

په افغانستان کې د موزيم جوړېدل:

موزيمونه چې په عمومي ډول د لرغونو آثارو د خوندي کولو او پېژندنې لپاره وي، ټولنې ته د نندارې لپاره آثار وړاندې کوي او د لرغوني تاريخ په اړه د عامه افکارو په روښانولو کې غوره رول ترسره کوي. د علومو د نورو برخو ترڅنګه يې خپل ځای د ساتنې د يوه زېرمه تون په توګه ساتلی دی. موزيم د لرغوني تاريخ او لرغونو ځمکو د بېلابېلو دورو د موادو د سپړنې او توضيح يوازينی ځای دی او همدا رنګه د هماغې سيمې د تمدن او فرهنګ منعکسوونکی ګڼل کېږي. زمور په ګران هېواد کې له (١٢٩٧) لمريز څخه

وروسته چې له (۱۹۱۸م) سره سمون خوري، موزيم جوړ شو؛ خو د موزيم پېژندنې د نننې علم په توګه نه بلکې د موزيم لومړنی بنسټ په لومړنيو څيزونو او اتنوګرافيکو آثارو سره کښښودل شو. موزيم لومړی ځل د بالاباغ په مانۍ کې جوړ او د تاريخي او اتنوګرافيکو آثارو او مجموعې لکه وسلې، ملي جامې، د زرو توتې، خامک دوزۍ، جهادي توغونه (بيرغونه) او قلمي نسخې پکې ننداړې ته وړاندې شوې. د هغه مهال د موزيم په نامه نه بلکې د لرغونو جنسونو د (صندوقخانې) په نامه يادېده. په (۱۳۰۳) لمريز کې چې له (۱۹۲٤م) سره سمون خوري د لرغونو او اتنوګرافيکو آثارو مجموعې له پاچاهي ارګ څخه د (کوتې باغچې) ودانۍ ته ولېږدول شوې. په (۱۳۰۹) لمريز يا (۱۹۳۰) ميلادي کې دغه آثار د دارالامان د بلديې مانۍ ته يا د کابل د اوسني ملي موزيم ودانۍ ته ولېږدېدل. ورپسې په ښپلاښپلو سيمو کې د افغانانو يعنې د موزيم د کارکوونکو له خوا او تر هغه وروسته د بهرنيو لرغونپېژندونکيو د پلټنو لړۍ دوام وموند او آثار يې د غور و فرهنګي او ثقافتي توکيو په توګه ننداړې ته وړاندې شول.

ښاغلي غلام محی الدين خان د کابل موزيم لومړنی کارمند غړی و، چې په نجراب، تګاب، خورد کابل، حضوري چمن، کندهار او ځينو نورو برخو کې يې د دغو آثارو لپاره په کيندنو لاس پورې کړ. هغه په هېواد کې د استاد علي احمد کهزاد څخه د مخه قانوني کيندنې ګټلای شو. د (۱۹۱٤م) يا (۱۲۹۳) لمريز کيندنې په هېواد کې د لرغونپېژندنې لومړنۍ کيندنې دي چې افغانانو پيل کړي دي. د هغوی د پلټنو زېرنده په ملي موزيم کې د يونومورکي کس د موندلو آثارو په توګه د نورو بهرنيو پوهانو د ډېر شمېر کشفياتو په ليکه کې وشمېرل شوه.

له (۱۹۳۳م)-(۱۹۵۷م) پورې کلونو کې د کابل ملي موزیم پرمختګ وکړ او په (۱۹۵۷م) کې د یونسکو نړیوال سازمان د ښوونې او روزنې د وزارت د وړاندیز په بنسټ د کابل موزیم د تنظیم لپاره د (ژاک کوراتو) (J. Kurato) تر مشرۍ لاندې یو پلاوی (هیئت) چې ښاغلی ګبو (Gaboo) هم پکې و، د لرغونپېژندنې لپاره هېواد ته راغی او خپل نظریات یې په څلورو برخو کې رالنډ کړل.

۱- د موزیم د چوکاټ یا اداري جوړښت سمون.

۲- د لوښو یا د شیانو د پېرودلو لپاره د بودجې تاکنه.

۳- د نوي موزیم یا د ښاروالۍ د پخوانۍ ودانۍ روښانه کول.

٤- د کابل د ملي موزیم د زېرمه تونونو نظم برابرول.

په (۱۹۵۸م) کې چې له (۱۳۳۷) لمریز سره سمون خوري د موزیم په اړه د یونسکو مالي او تخنیکي مرستې پیل او د علمي او د موزیولوجي د متداوله علومو له مخې په هېواد کې د ببلابېلو دورو او مدنیتونو آثار تصنیف او ډله بندي او د موزیوګرافۍ په برخه کې لازمې چارې ترسره شوې.

له (۱۳۳۷-۱۳۵۸) کال پورې د کابل ملي موزیم وتوانېده چې ځان ته ورته موزیمونه د هېواد په ولایتونو لکه غزني، هرات، کندهار، مزار شریف، فاریاب، ننګرهار او کاپیسا کې جوړ او ترلاسه شوي آثار په هغو کې ننداړې ته وړاندې کړي. د دغو موزیمونو اداري تشکیلات په ملي مرکزي موزیم پورې تړلي وو چې ورځ په ورځ یې پرمختګ کاوه.

د غوایي د اوومې د کودتا په پایله یې په کابل کې د رامنځ ته شوي حکومت پر مهال تصمیم ونیول شو چې د کابل ملي موزیم په (۱۳۵۸) لمریز کې خپل موجوده ځای خوشې او د څه وخت لپاره د سردار نعیم په کور کې

پرځای شي. د موزيم چارواکو د مقاماتو او د وخت د کلتور د رياست له تينګارونو سره سره د موزيم د آثارو له لېږدولو څخه ډډه وکړه، خو دا کارونه منل شو او د وسلې په زور دغه آثار د څه د پاسه يوې مياشتې په اوږدو کې له خپله ځايه ښې ځای شول. تر يو کال وروسته د رژيم له بدلون سره آثار بيا په دارالامان کې د کابل ملي موزيم ته ولېږدول شول. له (۱۳۷۱-۱۳۷٤) لمريز پورې په ګوندي جګړو د کابل د ملي موزيم ټوله شتمني لوټ شوه. او د موزيم پورتنی پوړ د ړندو راکټونو په ډزو وسوځېد.

موزيم په خپل حال په فرهنګي بېوزلۍ او بد حالت کې پاتې شو. د طالبانو د واکمنۍ دو سره دغه موزيم نور هم له يوه ژور خطرناک برخليک سره مخامخ شو. د طالبانو د مشر ملاعمر د فرمان، او د اطلاعاتو او کلتور د وزير او د هغه د همغاړو د سخت دريځي په بنسټ نندارې ته پاتې آثار چې د لويو کوشانيانو د دورې تر ټولو خالص آثار لکه د کوشاني شهزادګانو نيمه تنې او د مرنجان له غونډۍ څخه تر لاسه شوې د بودا ستوا ناسته مجسمه چې له اومې څټې جوړه او په ښلابښلو رنګونو ښکلی شوې وه د يو شمېر نورو آثارو په ګډون چې په زېرمه تونونو کې پراته وو، مات شول. په دې وخت کې د موزيم لوی رييس له وخت څخه په ګټې اخيستنې سره د (ASPACH) مؤسسې په بلنه د پاکستان د لاهور په لور له هېواده ووت. خو له ټولو هڅو سره د نوي رژيم يعنی د اسلامي انتقالي دولت تر ټينګښت پورې موزيم په هماغه پخواني څېر پاتې و. له نويو تصميمونو سره چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د فرهنګي ميراثونو د ساتنې او بيا رغاونې تر نړيوال سمينار وروسته يې نيولي دي، هيله شته چې د پوهو او مسلکي وګړيو په همت او ځيرکۍ به د موزيم د بيا رغاونې او د پاتې شتمنيو په برکت يو ځل بيا د کابل موزيم د سيمې د مشهورو موزيمونو په ليکه کې ودريږي.

له لاسه د وتليو آثارو بيا ترلاسه کول او راغونډول:

هغه لرغوني آثار چې د جنګ پر مهال د قاچاقبرانو او دلالانو په وسيله له لاسه وتلي، بهرته تللي او د نړۍ د بازارونو په ښلابښلو ځنډو کې خپاره شوي د بېرته راغونډولو په لاره کې يې يو مهم ځنډ د دغو آثارو بيامونډنه ده. دغه لرغوني آثار زياتره په ګريکو - بودیک هنر پورې اړوند وو، چې د هډې، بګرام، کندز، غزني، ميرزکې، غور او آی خانم له حوزو څخه ترلاسه شوي وو. په دې برخه کې دوه بنسټيزې طرحې اغېزناکې دي:

۱ - د منقولو آثارو راغونډول چې د ټولنې د حکمي کسانو سره دي، البته د ټاکلې بودجې په تخصيص سره د هغو آثارو پېرل چې د موزيم د آثارو او يا د لرغونو آثارو د زېرمه تونونو په راجستر کې شامل نه وي.

۲ - له افغانستان څخه د وړل شويو آثارو په برخه کې د يونسکو د سازمان د سراسري اعلاميې خپرول او د افغانستان دولت ته يې بېرته ورکول.

په دې ځای کې بايد څرګنده شي چې داسې وړل شوي آثار په عمومي توګه که چېرته د هېوادونو په دولتي موزيمونو کې وي، نو د اعلاميې پر بنسټ به يې بېرته راګرځېدل آسان وي.

هغه شمېر آثار چې د کلکسيونرانو په وسيله راټول شوي او د هغوي د کورونو ښکلا او ځلا ده، يونسکو دې يې مخکې د قيمت په بدل کې وپېري او د نورو نړيوالو امنيتي سازمانونو او د بشر د حقوقو د سازمان په مرسته دې يې بيا هېواد ته راستانه کړي.

موزيم او چارواکي دې په هغه وخت کې چې په کار لاس پورې کړي، د انټرنېټ له لارې د دې آثارو له موجوده راجستر، علمي نومړي، انځور، د

لرغونپېژندنې د مؤسسې له څېړنیز راجستر، د کشف له کال او کاشف ټیم څخه نړیوال خبر کړي.

د هغو آثارو په برخه کې چې له موزیمونو او لرغونو سیمو څخه په قصدي توګه پټ شوي دي، دولت د اعلان، حقوقي غوښتنو او د تاریخي او فرهنګي میراثونو د ساتنې د قانون د مندرجاتو په توضیح او تشریح سره کولای شي په ببلابېلو وختونو کې یې ورو ورو ترلاسه کړي خو موزیم به په دې برخه کې خپل فعال رول ولوبوي.

یوه له هغو مهمو او بنسټیزو مؤسسو څخه چې د لرغونو آثار د ساتنې او تبلیغاتو، د لرغونو سیمو د څارنې او ساتنې، د ویجاړیو بهیر، د قاچاقو، خپل سرو کیندنو او نور د مخنیوي په برخه کې یې د یوې لسیزې په اوږدو کې د مجلاتو او بروشرونو (ځانګړو نشراتو) په خپرولو او نورو پراخو هلو ځلو سره لارښونو خپلو ته دوام ورکړ د (ASPACH) مؤسسه ده چې بیا یې چارې د مېرمن نانسي دوپري (Nancy Dupree) په مشرتابه پرمخ تلې. دا مؤسسه کولای شي په خپلو پراخو تجربو د آثارو د رښتینې راغونډونې په برخه کې د یونسکو او د اطلاعاتو او کلتور وزارت په ګډه ملګرتیا، اغېزناک رول ولوبوي.

نتیجه:

زمونږ ګران هېواد افغانستان یو لرغونی هېواد دی. زرین تاریخ یې د ترسره شویو څېړنو او پلټنو له مخې له (۵۰-۷۰) زرو کالو څخه هر سابقه لري. او په شاوخوا سیمه کې یې تر ټولو زیات، ګڼ شمېر ویاړمن آثار چې تر تاریخ دمخه او تاریخي دورو پورې اړه لري او د نړیوال فرهنګ و تهذیب په لومړیو لیکه کې درېږي، په خپله لمنه کې خوندي کړي دي، او تر ټولو لرغونی هېواد دی چې حدود یې له میلاد څخه دمخه په دویمه او دریمه زریزه کې تر بین النهرین،

مديترانې، سويل ختيزې او منځنۍ آسيا او ترچيني ترکستان کم نه وو. او په تاريخي دورو کې يې تاريخي برم بې ساري و. د ورښنمو لاره يا د کاروانونو هغه لاره چې د چين له لويانګ څخه د مصر د سکندريې تر بحري سرحدونو او ايژين پورې غځېده، ننني افغانستان، لرغونې آريانا او لرغونې باختر د دغو کاروانې لارو د يو ځای کېدو ځای و. نو هغه څه چې يې د لرغونې نړۍ له فرهنګي تمدن او زېرمو څخه ترلاسه کړي وو، تر ټولو غوره هنري، تهذيبي او فرهنګي ميراثونه يې يونان، روم ميډيا، اناتوليې او ليديا او بيا د پخوانۍ ختيځ بهارت تر څنډو سکيتا او نالندا پورې رسولي او خپاره کړي وو.

د دريم داريوش تر مشرۍ لاندې د هخامنشي امپراتورۍ د يرغل د مقدوني سکندر، سرمستانو، پارتيانو او د دريم انيکوش تر مشرۍ لاندې د سلوسيديانو د يرغلونو پر مهال له (۴۷۰ ق م - ۲۵ م) پورې دا ځمکه د آسيا مشهوره سيمه وه چې د هېواد لويو نومياليو، لکه: باختريانو، کاپيسايانو، نورستانيانو او تخاريانو يې په مقابل کې په مقاومت لاس پورې کړی دی چې د پاروپاميزاد د لمنو د نامتو سالار او کسيارټ (Oxyart) او د رخشانې (Roxana) مېرانې د نړۍ د فاتحينو زړونه پر ځان مين کړي دي او په پايله کې يې واکمنۍ يوه پر بله پسې تر ميلاد ډير دمخه له منځه لاړې او پر ځای يې د ګډون زېږنده داسې فرهنګ پاتې شو چې د دې ځمکې هنرمند او هنرپال ولس هغه ثقافتي پديدې د خپلې نامتو ځمکې د ضمير له هنر سره يوځای واخښلې او شتمن او بابرمه مدنيت يې رامنځ ته کړ. ننني کول په دې ثقافتي ميراثونو ويارې.

هو! له همدې ځای ده چې لرغونپېژندنه، موزيمونه، ګالرياني او څېړنيزې مؤسسې د افغانستان د ويارلي تمدن د خپرېدو لپاره په چټکۍ سره تاريخي لاره

ووهي او ددې ځمکې پورونه او قشرونه د ویاړنو په ګډون تر څېړنې او پلټنې لاندې نیسي. لرغونپېژندنې او ددې بهیر کارمندانو له هماغو (۱۸۲٤-۱۹۱٤)، له (۱۹۱٤-۱۹۲۲) او له (۱۹۲۲-۱۹۹۰م) پورې د افغاني، فرانسوي، امریکایي، جاپاني، المانې، هندي، ایټالوي او پخواني شوروی د پلټوونکیو په ګډون زمور د هېواد تاریخي واقعیتونه له یونانو - باختري، کوشاني، کوشانو - یفتلي او د لرغونې، منځنۍ او نوې تیږې د دورې په ګډون د اسلامي دورې او د فلزاتو د دورې تمدن چې د موهنجودارو، هر په او د میزپوتامې یا بین النهرین مدنیتونو ته ورته او سیال دی، کشف او د نړیوالو نداړې ته یې وړاندې کړل. زمور د تاریخ په پانو کې بې ساړې زیاتونې وشوې. په همدې وخت کې مور د همدې شتمنې او لرغونې سیمې په برکت د لرغونپېژندنې د مډرن علم نوي تېغې او څرکونه د هېواد د ځوانانو په وجود کې ولیدل او هغوی غلام محی الدین خان لومړنی کیندونکی د کابل موزیم غړی او د هېواد بل نومیالی زوی پروفیسور ډاکټر زمریالی طرزي دي چې د هېواد د لرغونپېژندنې په رښتینې وده او د ځوان کول په روزلو کې یې ډېر زیار ګاللی دی، چې د قدر او ارزښت وړ دی.

د ملګرو او لیوالو هېوادونو د نورو لرغونپېژندونکیو په کشفیاتو او موندنو سره کولای شو تر تاریخ دمخه او تاریخي دورې او سیمې داسې په ګوته کړو:

د فقید پروفیسور لویي دوپري، تروسډل، ډالس، مونیه، کرل، هانری پول او رومني ګریشمن کیندنو په منډیګک، سرخدک، سفیدک، د تخار شورتوغی، ګنجشکان درې، کور درې، غار مار، سمنګان او آقکپرک سیمو کې، چې تر تاریخ دمخه دورې (لرغونې، منځنۍ، او نوې تیږې او دفلزاتو) یې

په ځان کې رانغښتی، یو ځل بیا له (۴۰۰۰-۲۰۰۰ ق م) پورې تاریخ چې د لرغونپېژندنې له مخې یو مهم کلتوري عصر شمېرل کېږي، مشخص کړ.

په نجراب، حضوری چمن، کندهار او خورد کابل کې د غلام محی الدین خان په پلټنو سره د یوې لنډې دورې په ترڅ کې یو شمېر آثار راغوندې او کابل موزیم ته وسپارل شول.

د ښاغلي ډاکټر طرزي تر مشرۍ لاندې د افغاني لرغونپېژندونکیو په وسیله د هډې د اوښ غونډۍ (۱۴) ځله پرله پسې علمي او میتودیکي کیندنې چې نوموړې سیمه د ګندهارا د حوزې د رنسانس د ګریکو - بودیک هنر د دوران ښکارندویه وه، د دې لامل شوې چې د ګندهارا وروستی بې ساری هنر چې پر سر واستي وادین مهایاني طریقې او بودایي تهذیب او تفکر یې اړه درلوده، کشف او د هېوادوالو او نړیوالو نندارې ته وړاندې شو. په سره ء کوتل کې د ډاکټر شلومبرژه هڅو، په آی خانم کې د پروفیسور تدي ایتالوي علمي پلټنو او د جلال آباد په هډه او نورو سیمو کې د ښاغلی برتو کیندنو د هېواد تر اسلام دمخه خوی بوی په راجوتولو کې زښتې ډېرې زیاتونې رامنځ ته کړې. د دې هڅو نتیجې هم د افغانستان په ملي موزیم کې نندارې ته ایښودل شوې وې. خو ډېر وخت لانه و تېر چې د علم او تمدن د جنایتکارانو په یرغلونو کې په لومړي پړاو کې په ولایتونو کې غیر منقول موزیمونه لوټ او بیا په (۱۳۷۱) لمریز کې د کورنیو جنګونو له امله یوازې ملي موزیم ونه سوځېد، بلکې ډېره برخه آثار یې چور شول او له هېواد د باندې ووتل او یو پر بل پسې لکه د تندر د پېښو په څېر د هېواد ببلابېلې لرغونې سیمې، حوزې، غونډۍ، درې او رغزي د پردیو په ځانګړې ډول د عربانو د لاس ښکار شول. د نړۍ لویې او بې ساري مجسمې او هېښونکې شهکارونه د طالبانو او د هغوی د ملاتړو په وسیله

منفجرشول او په سلها و نور جنايتونه وشول. همدا رنګه د آثارو د موندنې لپاره ددې هېواد د خاورې زړه ځيرلو ډېرې ځېرنيزې ستونزې رامنځ ته کړې.

د رژيم له بدلون او د اسلامي انتقالي دولت په جوړېدو سره د هغې پوهې او پروګرامونو له مخې چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت يې لري، دا هيله شته چې د لرغونو آثارو ډېر شمېر ستونزې حل شي او ددې څانګې کارمندان د مسوولیت په احساس سره عملاً د لرغونو آثارو د بيا رغاونې، پېژندګلوی، پرمختګ او ژغورنې په برخه کې په کار لاس پورې کړي.

د لرغونو آثارو د ژغورنې او له لاسوهنو څخه د ساتنې يوازينۍ لاره د نوي قانون انفاذ، د عامه نظر يووالی او د اسلامي اصولو او مدني قانون له مخې د روحانيونو تبليغات، نړيوالې مرستې په ځانګړې ډول د امنيت د شورا، د بشر د حقوقو د سازمانونو مرستې دي.

په کابل کې د (۲۰۰۲) ميلادي کال د مې له (۲۶-۲۹) نېټې پورې چې د (۱۳۸۱) له غوايي سره سمون خوري، د فرهنګي ميراثونو د بيا رغاونې او ژغورنې نړيوال سمينار دا لاره اواره کړه چې نړيواله ټولنه يوځل بيا دې کار ته پاملرنه وکړي چې د افغانستان بې بديله او بې ساري لرغوني آثار يوازې د افغانستان په ولس پورې اړه نه لري بلکې د عام بشريت په تمدن پورې اړه لري نو بايد په بيا رغاونه او له ويجاړې څخه په ژغورنه کې يې هڅه وشي.

بايد تجربه کار هېواد پال کدرونه په دې برخه کې وروزل شي او په علمي او ګټوره توګه د هېواد د تمدن او فرهنګ په وړاندې پراته لوی کارونه ترسره شي.

Bibliography

1. Goetz (h.), Indien in Kunst der Welt ... Baden - Baden, 1964.
2. Kuwayama (Sh.), The Turki Shahis in Afghanistan, East and West Vol. 3-4, Is Meo 1976.
3. Iran (W.W.), Euthydemos and Baktrain, Darmstadt, 1969.
4. Embree (A.T.), Wilhelm (F.), Indien Geschichte des Subkontinents on ds, Indus Kultur bis Zum beginn ds Englichen Hersch aft Frankfort, 1967.
5. Prof. Dr. Zemer (T.), "Tapa-e-Top-ekalan in" South Asian Archaeology, Rome 1990.
6. Inghold (H.), Gandhara Art in Pakistan, 1957.
7. Rudenko (S.), The Siberian Collection of Pets I, Moscow, 1962.
8. Trever (K,), Relics of Graeco - Bactrian Art, Moscow, 1940.
9. Marshall (J.H.), Taxila, Vol. 8, Cambridge, 1951.
10. Schlumbsgs (D.), The Excavation at Surk - Kotale and the Problem of Hellenism in Bactria and India, London, 1961.
11. Barthoux (J,), Les Fouilles de Hadda, figureset, figurines, Album MDAFA, Paris, 1930.
12. Puri (B.N.), India under the Kushanas, Bombay, 1965.

له ختې څخه جوړ د بوداد مجسمې سر چې د هډې له اوښ غونډۍ څخه ترلاسه شوی او په دريمه - څلورمه ميلادي پېړۍ پورې اړه لري.

له اومو ختو څخه جوړ د بودا ستوا د مجسمې سر چې د هډې له اوښ غونډۍ څخه ترلاسه شوی، په دريمه - څلورمه ميلادی پېړۍ پورې اړه لري.

د يوې هندي آلهې سر چې له اومو ختو څخه جوړه شوې او د سرو زرو اوبه ورکړی شوي د هډې له اوښ غونډی څخه ترلاسه شوې او په دريمه ميلادي پيړۍ پورې اړه لري.



د هډې له اوښ غونډی څخه ترلاسه شوې د ګندهارا د هنر د يوه بودايي راهب د مجسمې سر چې په دريمه - څلورمه ميلادي پيړۍ پورې اړه لري.

د هډې د اوښ غونډۍ څخه د ترلاسه شويو د (څلورمې - پنځمې ميلادي پيړۍ)
د (دهرماچکرا پراوارتنا مودرا) او (واجراپاني) او دوو برهمني
راهبانو د مذهبي زده کړې تولګی.

د يوه بودايي راهب سر چې د ګندهارا اصيل هنر هلنستيک (څلورمه - پنځمه م) پورې اړه لري او د هډې له اوښ غونډۍ څخه ترلاسه شوې دی.



د غوري دورې د جام مينار د منځنۍ برخه په پخو خښتو او کوفي ليک سره.

د غاړې امبل له سرو زرو او قيمتي ډبرو څخه.



د ګنډ د سرو زرو ګانې چې له طلا غونډۍ لاس ته راغلې ده.



د غاړې امبل د سرو زرو دوه ګانې



د جامو د سرو زرو ګانې چې د شبرغان له طلاغونډۍ څخه ترلاسه شوي.

PROPERTY OF ACKU 1048

د اریک دگرځنده کتابتونو د اداری خپاره شوی کتابونه

۱- د افغانستان عمومی جغرافیه
۲- جغرافیای عمومی افغانستان
۳- د افغانستان تاریخی ودانی
٤- بناهای تاریخی افغانستان
٥- د افغانستان محلی خواړه
٦- ورزشهای محلی افغانستان
۷- سپینه کوتره
۸- کمان طلایی
۹- زده کړو چی ورزده کړو!
۱۰- بیا موزیم تا بیاموزانیم!
۱۱- په افغانستان کی د چاپیریال ساتنه
۱۲- حفاظت محیط زیست در افغانستان
۱۳- په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
۱٤- تربیه و تهیه، بزق وباغها در افغانستان
۱٥- د تمدن سوغات
۱٦- ارمغان تمدن
۱۷- زلزله در افغانستان
۱۸- په افغانستان کې زلزلی
۱۹- معیوبین و جامعه
۲۰- معیوبین او ټولنه
۲۱- د افغانستان لنډکی تاریخ
۲۲- تاریخ فشرده، افغانستان
۲۳- د چرګانو ساتنه او پالنه
۲٤- مرغداری
۲٥- دنیای کودک
۲٦- د ماشوم نړی
۲۷- نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
۲۸- د افغانستان اقتصادی حالت ته بره کتنه
۲۹- د شاتو مچیو روزنه
۳۰- زنبور داری
۳۱- د افغانستان مشاهیر
۳۲- مشاهیر افغانستان
۳۳- د افغانستان کلک پوستې میوې
۳٤- میوه های سخت پوست افغانستان
۳٥- جغرافیای ولایات افغانستان
۳٦- د افغانستان د ولایتونو جغرافیه

۳۷- تکنالوژی بایوگاز
۳۸- د بایوگاز تکنالوژي
۳۹- پرخوری یا خود خوري
٤۰- د پر خوراکی
٤۱- بازی های عامیانه اطفال
٤۲- د ماشومانو ولسي لوبي
٤۳-٤٤- لندي ها
٤٥- رهنمای تشخیص وتداوی امراض چشم، گوش، گلو وبینی
٤٦- د دسترګو، غوږ، ستوني او پزی ناروغیو د تشخیص او درملنی لارښود.
٤۷- سرگرمی با تجربه های علمی
٤۸- په عملي تجربو سره وخت تیرول
٤۹- په افغانستان کې کانی زیرمی
٥۰- ذخایر معدنی افغانستان
٥۱- اساسات ماهی پروری
٥۲- د کبانو د روزلو لارښونی
٥۳- اوبه د ژوند سرچینه
٥٤- آب سرچشمه، حیات
٥٥- تدبیر منزل
٥٦- د کور سمبالښت
٥۷- سبزی ها
٥۸- سابه
٥۹- د افغانستان مشاهیر (دویم ټوک)
٦۰- مشاهیر افغانستان (جلد دوم)
٦۱- توصیه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان
٦۲- په افغانستان کې د باغونو د پرمختګ په هکله ګټورې لارښوني
٦۳- شاهراه های افغانستان
٦٤- د افغانستان لوی لارې
٦٥- ورزش
٦٦- ورزش (پښتو)
٦۷- تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی در افغانستان

٦۸- په افغانستان کې د ډله ایزو لړیکو وسایلو لنډ تاریخ
٦۹- سیمای محیط زیست افغانستان
۷۰- د افغانستان د چاپیریال بنه
۷۱- اقتصاد
۷۲- اقتصاد (پشتو)
۷۳- تخنیک ابتدایی رادیو
۷٤- د رادیو لومړنی تخنیک
۷٥- د افغانستان مشاهیر (دریم ټوک)
۷٦- مشاهیر افغانستان (جلد سوم)
۷۷- دانستی های مالداری و وترنری
۷۸- د وترنری او مالداری په هکله لارښوونې
۷۹- صنایع دستی افغانستان
۸۰- د افغانستان لاسي صنایع
۸۱- هرات در دوره، تیموری ها
۸۲- هرات د تیموریانو په دوره کې
۸۳- نباتات صنعتی
۸٤- صنعتي بوټي
۸٥- جهان نما
۸٦- نړی ښود
۸۷- ګلدسته، اطفال
۸۸- د ماشومانو ګل غونچه
۸۹- آب های تحت الارضی و معدنی افغانستان
۹۰- د افغانستان ترځمکې لاندې اوکانی اوبه
۹۱- روغه ټولنه
۹۲- جامعه، صحتمند
۹۳- شهر کابل در طی قرون
۹٤- کابل د پیړیو په اوږدو کې
۹٥- اطلس ولایات افغانستان
۹٦- د افغانستان د ولایتونو اطلس
۹۷- تجارت در افغانستان
۹۸- په افغانستان کې سوداګري
۹۹- سیری در امواج موسیقی
۱۰۰- د موسیقی په څپو کې ...
۱۰۱- کمپیوتر (پښتو کتاب)
۱۰۲- کمپیوتر (ترجمه دری)
۱۰۳- باستانشناسی در افغانستان

PROPERTY OF ACKU

د پوښتنې د عکسونو شرح:

الف: له هډۍ څخه ترلاسه شوی د دویمې - دریمې میلادي پیړۍ د بودا د مجسمې سر چې له ستوک څخه جوړ شوی دی.

ب: څپلي ډوله (بیضوی شکل) او سنګ مرمر (مرمر کانړی) څخه جوړه مجسمه چې یوه برخی ۳ متره لوړوالی لری، د آی خانم له عبادت ګاه څخه ترلاسه شویده کومه چې د دریمې پیړۍ مخکې له میلاد څخه هلینیستیک مجسمو څرګندونه کوي، اوس د ننداري لپاره د جاپان پوهنتون مشرقی آثارو موزیم ته وړل شویده، افغانستان حکومت ته بې له شرطه استول کیږی.

د لېکوال لنډ ژوند لیک

محقق نظـــر محمـد عـزیـزی د سلطـان محمـد عـزبـــزی زوي، په ۱۳۳۱ هجري لمرېز کال د کابل د ښار په بارانه کې زېږېدلی دی.

زده کړې:

لومړۍ زده کړې یې د کابل د تنودسازۍ په ښوونځي او ثانوي یې په امانې عالي لیسه کې سرته رسولې. په ۱۳٤۷ هـ ش کال د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځی کې شامل شوي. ورپسې د ارکیالوژۍ انستیوت ته تبدیل او د هغې غړیتوب یې ترلاسه کړي دی. په ۱۳۵۰ هـ. ش کال د لرغونپوهنې په څانګه کې د لوړو زده کړو له پاره المان ته تللی او د المان د وایمر په انستیتوت او همدارنګه د ایتالیا، سویس او اطریش په هیوادونو کې یې د لرغونپوهنې په بیلا بیلو څانګو کې لوړې زده کړې ترسره کړې دي.

علمي دندې:

په بیلا بیلو علمي او ټولنیزو کلیدي پوستونو کې د دندو د سر ته رسولو په لړ کې په ۱۳۵۷-۱۳۵۸ هـ. ش کلونو کې د کابل موزیم رئیس و، اوس د افغانستان د علومو اکادمۍ د کوشاني څېړنو رئیس، د اکاډمۍ د علمي شورا غړي او د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو پوهنځي د لرغونپوهنې استاد دي. علمي رتبه یې محقق ده. د کوشانپېژندنې او د تاریخي آبادتو د ساتنې په اړه یې بیلا بیلو نړیوالو سیمینارونو کې برخه اخیستې، د هیواد په مرکز او ولایتونو کې یې له نورو سره په ګډه او ځانله له ۲۵ په زیاتو اصولي او علمي کیندنو کې او تر ۱۲۳ ځلو څخه زیاتو د تاریخ څخه دوراندې زمانو او تاریخي آثارو په اړه یې په تخصصي سروې ګانو کې هم ونډه اخیستې ده.

علمي آثار:

تاریخ امپراتوری کوشانیان (دری ټوکه)، هده ناګارهارای قدیم (دوه ټوکه) د رباطک، د لوی کنشکا د واکمنۍ د عصر او ایوتدموس یونانو باختری پاچا په اړه علمی څېړنیزې رسالی او همدا اثر (لرغونپېژندنه په افغانستان کې).

همدارنګه یې تر ۱۱۲ زیاتې علمي څېړنیزې مقالې د هیواد په مطبوعاتو کې خپرې شوی دي.

د اریک ګرځنده کتابتون

ځواکمن

د لوی د اطلاعاتی او نشراتی منابعو مرکز

د اریک د ګرځنده کتابتونونو د خپرونو لړی

پرله پسې نومره ۱۰٤